مسلم خپرندویه ټولنه

د یویشتمې پیړۍ د ماډرن مسلمان لپاره

# د قران کریم په رڼا کې د شخصیت جوړونې اصول



Download from:aghalibrary.com




لیکوال

محمد بلال لاکاني

ژباړن

شاهدالله عمران

285
AF

کتابونو مرکز
0770209747
0782091273

بسم الله الرحمن الرحیم

د يوښتمې پېړۍ د ماډرن مسلمان لپاره

## د قران کریم په رڼا کې

# د شخصيت جوړونې اصول

ليکوال

محمد بلال لاکاني

ژباړن

شاهدالله عمران

## کتاب پېژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د شخصیت جوړونې اصول |
| لیکوال | :: | محمد بلال لاکاني |
| ژباړن | :: | شاهد الله عمران |
| خپرندوی | :: | مسلم خپرندویه ټولنه - جلال اباد |
| چاپ وار | :: | لومړی |
| ډیزاین | :: | مسلم گرافیکس |
| کمپوز | :: | ژباړن |
| چاپ لړ | :: | ۲۴۷ |
| چاپ کال | :: | ۱۳۹۶ هـ ش |


د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

د ترلاسه کېدو ځای

مسلم کتاب پلورنځی

پته: اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، جلال اباد ښار، افغانستان

اړیکشمېرې: ۰۷۹۳۰۷۳۰۸۰ - ۰۷۷۶۰۰۶۴۱۶

برېښنا لیک: muslim-pub@yahoo.com

# د ژباړن سریزه

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم، اما بعد!

درنو لوستونکو! د دې کتاب موضوع د یویشتمې پېړۍ په اصطلاح له ماډرن مسلمان سره د زړه خواله کوي، دا له دې امله چې نوموړی زیاتره وخت غافله وي، ځینې وخت په خپل دین بې ځایه نیوکې کوي، توبه ویستلو ته وخت ورکوي، چې په دې صورت کې یې شیطان هم نه پرېږدي، چې په صحیح توګه ترې ساه واخلي.

د شخصیت جوړونې اصول داسې عنوان دی، چې له مثبت بدلون سره سره د حیرانتیا ټکي هم لري، دا کار هله شونی دی چې کله پرې مسلمان عمل وکړي او په ځان کې نااشنا بدلون ومومي.

په کتاب کې ځینو هغو نیوکو ته هم اشاره شوې، چې لوېدیځوال یې د ناپوهۍ په اساس یا هم د تعصب له مخې پر اسلام کوي. هغوی ښځه مظلومه بولي، په داسې حال کې چې اسلام ورته د پاچا په شان حیثیت ورکړی دی، خاوند لکه د یو نوکر په شان پر ځان شپه او ورځ یوه کړې وي او د هغې لپاره خپل نازک لاسونه تنا کې کوي، خو هغه خوشحاله ساتي، دا په داسې حال کې چې کله خاوند د مېرمنې په مینه کې دومره مبالغه وکړي، چې خپله خوږه مور ترې هم هېره شي.

لنډه دا چې د کتاب موضوع (د شخصیت جوړونې) پر ځلانده اصولو څرخي او له انسان سره ژمنه کوي چې که پر اصولو یې په مینه عمل وکړي، نو هغه ته د نېکمرغۍ مبارکي ورکوي، غوره شخصیت یې ګڼي، چې له دې سره به یې جنت هم هرکلی وکړي.

په پای کې له درنو لوستونکو هیله لرم، که د کتاب په اړه ښه نظر، نیوکه یا تېروتنه را اصلاح کوي، نو موږ یې منندوی یو، په همدې خاطر دې خپل ښایسته نظر، نیوکه یا تېروتنه له مسلم خپرندویه ټولنې سره شریکه کړي.

په همدې هیله

شاهد الله عمران

# لومړۍ برخه

# باید څه وکړو؟

- که ژوند له نعمتونو ډک وي، نو باید څه وکړو؟
- که ژوند له نعمتونو ډک نه وي، باید څه وکړو؟
- که الله تعالی له موږ څخه مال او صحت بېرته واخلي، نو باید څه وکړو؟
- د مشکلاتو او مصیبتونو په وخت کې مرستندویه قراني ایتونه
- که چا ته ځان د شیطان تابعدار ښکاره شي، باید څه وکړي؟
-

## که ژوند له نعمتونو ډک وي، نو باید څه وکړو؟

الله تعالی په قران کریم کې داسې فرمايي:

﴿وَ تِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ﴾. (ال عمران: ۱۴۰)

ژباړه: دا د زمانې خوږې ترخې دي، چې مونږ يې د خلکو تر منځ اړوو را اړوو.

موږ چې څومره لوېږو، نو له ژوند څخه تجربې زده کوو، دا ایت هم د همدې خبرې تصدیق کوي، حقیقت داسې دی، چې زموږ ژوند پړاوونه لري، یعنې یو بل پسې حالات بدلېږي، که یوه ورځ ښه وکړو، نو بله ورځ يې نه ترسره کوو، که یوه ورځ حالات ښه وي، بله ورځ خراب وي، بس دا د ژوند دستور او طرزالعمل دی.

اوس پوښتنه دا پیدا کېږي، چې کله پر مسلمان په ژوند کې ښې شېبې ورځې راشي، ټول نعمتونه يې په برخه وي، نو هغه باید د دې په بدل کې څه وکړي؟ ایا د هغه لپاره یوازې دومره کافي ده، چې څه ګټي، هماغه وخوري او ویده شي، بیا کله چې له خوبه راپاڅي، بېرته مزدورۍ پسې ووځي؟

زه د خپلې پوهې له مخې د دې لپاره وړ ځواب دا لرم، چې کله پر مسلمان دا ډول حالات راشي، نو باید له الله تعالی څخه ووېرېږي او د دې نعمتونو شکریه يې ادا کړي.

که څوک د الله تعالی د نعمتونو شکریه ادا نه کړي، ښايي دا نعمتونه ترې بېرته واخلي. راځئ دا خبره په بل عبارت ذکر کوو:

کله چې مسلمان له دیني، دنیوي حیثیته ښه وي، له خپلې کورنۍ او خپلوانو سره ښه راکړه ورکړه کوي، له هغوی سره سمې اړیکې

ساتي، نو له دې څخه پوه شئ، چې دغه مسلمان واقعًا ښه ژوند لري. اوس پوښتنه دا ده، چې مسلمان باید په خپل اسوده ژوند کې دغه حالت څنګه پر خپل ځای وساتي او د الله تعالی نعمتونه څنګه استعمال کړي، چې په اخرت کې هم ترې ګټه واخلي؟

مسلمان باید پر دې پوه شي، چې د ده په ژوند کې بریالیتوبونه د الله تعالی له خوا پېرزوینه او انعامات دي، داسې دې فکر وکړي، چې الله تعالی پرې خپل فضل کړی دی یا داهر څه له دې امله دي، چې عملونه یې د اخلاص له مادې ډک دي، یا په دې معنی چې الله تعالی دا هر څه د ازمېښت لپاره ورکړي دي، الله تعالی فرمایي:

﴿لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يَقْدِرُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ﴾. (الشوری: ۱۲)

ژباړه: د اسمانونو اوځمکې د خزانو کلیګانې له هماغه ذات (الله) سره دي، چاته یې چې خوښه شي، پراخه روزي ورکوي او چاته یې چې خوښه شي، لنډه تنګه روزي ورکوي، هغه په هرڅه پوهیږي.

د دې مطلب دا دی، د دې پر ځای چې خپل کاروبارونه وشمېرو، خپلو صلاحیتونو ته پام وکړو، لازمه دا ده چې پر دې فکر وکړو، چې څنګه کولی شو د دنیا همدا بریالیتوب مو د اخرت د کامیابۍ سبب وګرځي. دې پوښتنو ته له ځواب پیدا کولو مخکې د ایت مضمون ته ګورو، چې څه وایي او څه راپه ګوته کوي؟

دا ایت د ژوند پر یو داسې اړخ رڼا اچوي، چې موږ ترې زیاتره سترګې پټې کړې وي او تل مو ترې نقصان موندلی وي. دغه مهم اړخ زموږ روغتیا او اسوده ګي یوازې د الله تعالی په لاس کې ده. پر

ځای د دې چې خپل قیمتي وخت په مالي منفعت (ګټې) او له بارسوخه خلکو سره په ناسته پاسته تېر کړو، زموږ لپاره به دا خبره ډېره غوره وي، چې په پوره اخلاص او د زړه له کومي له الله تعالی څخه د نور عافیت (روغتیا) او په خپله شتمنۍ کې د زیاتوالي او برکت لپاره دعا وغواړو، دا ځکه چې زموږ شتمني زیاتېږي هم او کمېږي هم، د دې ساده مطلب دا دی چې د خپلو ورځینو اړتیاوو په لړ کې باید پر الله تعالی باور ولرو، باید له دې ذات څخه یې وغواړو، نه دا چې له خلکو سره د دې لپاره راشه درشه ولرو، چې سبا مو په کار راشي او ځینې اړتیاوې راته پوره کړي، یعنې د مخلوق پر ځای باید له خالق سره پخې اړیکې وساتو، ځکه چې د ضرورت په وخت کې له الله تعالی څخه غوره مرستندویه بل څوک نه شته، سربېره پر دې که موږ الله تعالی په خوشحالۍ کې یاد کړو، نو هېڅ داسې کوم سبب نه شته، چې په سخت حالت کې مو هېر کړي.

مسلمان باید پر دې خبر وي، چې د هغه ټوله کامیابي یوازې د الله تعالی رحمت او هدایت دی، باید په هر حال کې یې شکریه ادا کړي، څو په هر وخت کې د الله تعالی تر رحمت لاندې وي. د الله تعالی د شکر ویستلو غوره لار دا ده چې حمد او ستاینه یې وشي، اوږدې سجدې ورته کېښودل شي، ښو کارونو ته ملا وتړله شي او په هر حالت کې پر هماغه ذات تکیه ولري. که الله تعالی ته د شکریې په لړ کې سجده وکړو، نو ګټه مو خپله ده، ځکه چې هغه ذات به مو ښه ژوند ته همداسې دوام ورکړي.

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَ يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ اٰمَنُوا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ يَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهٖ ؕ وَ الْكٰفِرُوْنَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴾. (الشورىٰ: ٢٦)

ژباړه: هغه د ایمان راوړونکو او د نېک عمل کوونکو خلکو دعاء قبلوي او په خپل فضل سره هغوی ته لازیات ورکوي، پاتې شول کافران، نو د هغوی لپاره دردناکه سزاده.

که څوک شکر وباسي، الله تعالی به یې نعمتونه نور هم ورزیات کړي:

﴿ لَئِن شَكَرْتُمْ لَاَزِيدَنَّكُمْ ﴾. ( ابراهيم: ۷)

ژباړه: که تاسو شکر وباسئ، نو پر تاسو به لا زیاته پېرزوینه وکړم.

له دې سره باید دا خبره هم په پام کې ونیسئ، چې خپله شکر ویستل هم د الله تعالی یو لوی نعمت دی، دا نعمت د الله تعالی په توفیق انسان ته په لاس ورځي، دا توفیق یوازې د هغو خلکو په برخه کېږي، چې کله پرې سختې شېبې راشي، نو خپل مخ اسمان ته واړوي، لومړنی او اخري مرسته له الله تعالی څخه غواړي.

## اخري خبره

الله تعالی ژوند د ازموینې او امتحان شکل رامنځ ته کړی دی، باید په ژوند د امتحان ګمان وکړو، که چېرې په ژوند کې پر انسان سختۍ او مصیبتونه راشي، نو حقیقت دا دی چې له زحمت وروسته راحت شته، کله چې الله تعالی پر چا انعام کوي، نو خپل نعمت ترې واخلي او په ازمېښت کې یې واچوي، خو دا چې ژوند یوازې عارضي شی دی، نو باید پر ناکامیو خپه نه شو. دا په دې معنا نه دی، چې انسان دې لاس تر زنې کېني او هېڅ دې هم نه کوي، نه داسې نه ده! بلکې څرنګه چې دا دنیا د امتحان کور دی، همدارنګه د عمل کور هم دی، انسان باید د کامیابۍ تر بریده پورې خپل مزل ته دوام ورکړي او کله چې کامیابي تر لاسه کړي، نو الله تعالی موږ دې ته هڅوي، چې د هغه په عبادت کې زیاتوالی راولو، څو په اخرت کې هم له اسانۍ سره مخ شو، اخرت زموږ اصلي استوګنځی دی. که په ژوند کې هر څومره بریالیتوبونه او ناکامۍ زموږ تر کوره راورسېږي، خو بیا هم پکار نه ده، چې خپل دین ورته پرېږدو، الله تعالی په دې اړه داسې فرمایي:

﴿وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ﴾ .(الشوریٰ: ۲۷)

**ژباړه: که الله تعالی خپلو ټولو بندګانو ته پراخه روزي ورکړې وای، نو هغوی به په ځمکه کې سرکشي کړې وای.**

الله تعالی چې څومره رزق دنیا ته رالېږلی دی، هغه یې د مختلفو انسانانو د مختلفو ضرورتونو په اساس برابر کړی دی. په انسانانو د رزق وېش د الله تعالی د حکمت راز دی، که څوک الهي حکمت

معلوموي، نو هغه دې د انسان پر حالاتو او د هغه د رزق پر وېش غور وکړي، څومره چې په کې فکر کوي، هومره به ورته د حيرانتيا نورې دروازې پرانيستل کېږي، مجبوره به شي او د الله تعالی پر حکمتونو به اعتراف وکړي.

په يو قدسي حديث کې الله تعالی داسې فرمايي:

((زما ځينې بنده ګان داسې دي، چې له شتمنۍ پرته يې ايمان سالم نه پاتې کېږي، که زه يې بېوزله کړم، نو ايمان به ترې لاړ شي. ځينې بنده ګان مې داسې دي، چې د هغوی د ايمان د سلامتيا لپاره غربت ډېر ضروري دی، که زه يې شتمن کړم، نو ايمان به ترې لاړ شي. ځينې بنده ګان مې داسې دي، چې څو پورې په بدن روغ رمټ وي، نو ايمان يې هم پر ځای پاتې وي، خو که زه يې ناروغه کړم، نو بيا له ايمان څخه لاس ووينځي. ځينې داسې دي، که ناروغه وي، نو ايمان يې هم پر ځای پاتې وي، که روغ يې کړم، نو بې ايمانه کېږي. زه پر هر څه خبر ذات يم، زه د خپلو بنده ګانو پر حالاتو او د زړه پر کيفيت ښه پوهېږم، د هغوی د زړه د کيفيت له مخې يې د ژوند چارې وربرابروم)).[1]

ــــــــــــــــــــ

۱- شرح السنة للبغوي: ۲۲/۵، حديث: ۱۲۴۹، و الاسماء والصفات للبيهقي: ۱۲۱ مخ، وموسوعة الامام ابن ابي الدنيا: ۳۸۵/۲، حديث: ۱.

## که ژوند له نعمتونو ډک نه وي، نو باید څه وکړو؟

الله تعالی فرمايي:

﴿مَآ أَصَابَكَ مِنۡ حَسَنَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٖ فَمِن نَّفۡسِكَۚ﴾.

(النساء: ۷۹)

ژباړه: ای انسانه! تا ته چې هره ښېګڼه رسېږي، د الله تعالی په پېرزوينه در رسېږي او په کوم غم چې اخته کېږې، هغه ستا د خپلو کړنو او عملونو له امله دي.

پر دې موضوع که ژور فکر ونه کړو، ښايي چې سم پرې پوه نه شو، خو که له دې وروسته د ايت په سياق او سباق غور وکړو، نو مفهوم يې زموږ ذهن ته ډېر ژر رسېږي. له دې څخه مخکې غواړم چې د مسلمان په ژوند کې څو پرېکړه کوونکې ځايونو ته (چې د الله تعالی له لوري پرې فيصله شوې وي) اشاره کوم او ستاسو وخت لږ نيسم، په دې ځايونو کې د الله تعالی له لوري ستاسو ايمان ازمايل کېږي. په دې ځايونو کې يو هم د عيش او عشرت ژوند دی، چې الله تعالی يې له يو انسان څخه واخلي او په دې کې د انسان ايمان وازمايي. د مثال په توګه: يو مومن د اسلام په اړه داسې فکر کوي چې اسلام يې شتمن کولی نه شي او نه يې له ملګرو سره ملګرتيا قايمولی شي، دا د ازمېښت لومړۍ برخه شوه. د ازمېښت دويمه برخه دا ده، چې کله الله تعالی له چا څخه روغتيا او شتمني واخلي، هغه په دې امتحان کې اچوي، چې ايا په دې حالت کې هم صحيح مسلمان پاتې کېدای شي او که نه؟

اصل خبره دا ده ، چې کله مسلمان له سختو خپګانونو او بدحالت سره لاس او ګرېوان وي، نو الله تعالی یې ایمان ازمايي. که تاسو خپل ځانونه د ژوند په هره مرحله کې بدحاله او له پخواني غوره حالت څخه په ټیټه درجه کې وموموئ، نو دا یو غوره اصل یاد وساتئ چې دا به د الله تعالی له لوري یو ازمېښت وي، هېڅکله د دنیوي مفادو او خوشحالیو د ترلاسه کولو لپاره دین مه پلورئ او مه په کې ماتې منئ، بل دا خبره هم په یاد ساتئ چې د ازمېښت په وخت کې له صبر څخه کار اخیستل هم د الله تعالی لوی رحم او مهرباني ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو صحیح حدیث کې فرمايي:

مَا یُصِیْبُ الْمُؤْمِنَ مِنْ وَّصَبٍ وَلَا نَصَبٍ، وَلَا هَمٍّ وَلَا حَزَنٍ وَلَا اَذًی وَلَا غَمٍّ، حَتَّی الشَّوْكَةِ یُشَاكُهَا، اِلَّا كَفَّرَ اللهُ مِنْ خَطَایَاهُ.[1]

ژباړه: کله چې یو مومن د ناروغۍ له امله په تکلیف اخته شي، ستړی شي، پرېشاني پرې راشي، غم ورته ورسېږي، تر دې که په پښه کې یې اغزی هم لاړ شي، نو الله تعالی یې ځینې ګناهونه معاف کوي.

لنډه دا چې که تاسو خپل ځان په ازمېښت کې وموموئ، نو یاد ساتئ چې پر دې درته الله تعالی ځینې انعامونه هم درکوي، مخکې له دې چې موږ د ژوند ستونزې حل کړو، باید هڅه وکړو چې د ژوند حقیقي اسباب ضرور وپېژنو. که د سورت نساء مخکیني ایت ته لږ فکر وکړو، نو په هغې کې ویل شوي: (کله چې تاسو له بد حالت سره مخ شئ، نو هغه ستاسو له امله کېږي). د ایت پر دې برخه لږ فکر وکړئ

---

۱ - مسند احمد: ۳۰۳/۲

چې مطلب یې څه دی؟ زما په اند خو یې مطلب دا دی چې زموږ د ژوند ټول مسایل موږ خپله پیدا کړي دي. اوس پوښتنه دا پیدا کېږي چې دغه مسایل او ستونزې له کومه پیدا کېږي؟ د دې ځواب دا دی چې یوازې زموږ ګناهونه دا ټولې ستونزې زېږوي، لاندې حدیث د همدې خبرې تائید کوي. عایشه رضي الله عنها روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

إِذَا كَثُرَتْ ذُنُوبُ الْعَبْدِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَا يُكَفِّرُهَا مِنَ الْعَمَلِ ابْتَلَاهُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ بِالْحُزْنِ لِيُكَفِّرَهَا عَنْهُ. (۱)

ژباړه: کله چې بنده ډېر ګناهونه وکړي او د کفارې لپاره ورسره هیڅ عمل نه وي، نو الله تعالی یې په غم مبتلا کوي، چې دا یې د ګناهونه کفاره وګرځي.

له پورته حدیث څخه معلومه شوه، چې زموږ د ژوند ټولې ستونزې زموږ د ګناهونو له امله پیدا کېږي. په پیل کې انسان د دې خبرې ادراک نه شي کولی او دغه کار لږ ستونزمن وي، ځکه باید تاسو خپله د ژوند ژورو ته فکر وکړئ او هغه مثالونه ولټوئ، چې دغه کار ځان ته اسانه کړئ. په لومړي سر کې زما لپاره هم دا کار لږ مشکل و، خو کله چې مې ډېر غور او فکر وکړ، نو سمدستي پر دې پوه شو، چې څومره ستونزې راته په ژوند کې رامخې ته شوي دي، دا هر څه مې د خپله لاسه پر ځان کړي دي (وایي چې دا مې وکړله په خپله، نو بیا ژاړې څه له).

---

۱ - مسند احمد: ۱۵۷/٦.

اوس خو مو د ژوند د ستونزو اساسي لامل پیدا کړ، خو پوښتنه دا پیدا کېږي، چې د حل لاره یې کومه ده؟ حل یې ډېر اسانه دی، خو ځینې مسلمانان ورونه مې دغه حل نه پېژني، راځئ چې زه یې در ته په ګوته کړم، خو په دې کې شرط دا دی چې تاسو به د ژوند د ټولو ستونزو د حل لپاره خپله ټوله وړتیا په کار اچوئ.

ستاسو د ژوند د ټولو ستونزو حل په دوه برخو وېشل شوی دی:

- تاسو چې څومره ګناهونه کړي دي، د زړه له کومې الله تعالی ته توبه وباسئ او د خپل نفس د اصلاح کولو ژمنه وکړئ، مطلب دا چې څومره مو له وسه پوره وي، د نورو ګناهونو له ارتکاب څخه ډډه وکړئ.
- عبادت ته له پخوا څخه زیات وخت ورکړئ.

الله تعالی په سورت ضحیٰ کې هغو خلکو ته ډاډ ورکړی، چې ژوند یې په ازمېښتونو او مشکلاتو کې تېر کړی وي، کله چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم دا سورت نازلېده، نو په دې وخت کې خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم سختې شپې ورځې تېرولې، یعنې دا:

﴿وَ الضُّحٰىۙ ۝۱ وَ الَّيْلِ اِذَا سَجٰىۙ ۝۲ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَ مَا قَلٰىؕ ۝۳ وَ لَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰىؕ ۝۴ وَ لَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰىؕ ۝۵ اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰىٚ ۝۶ وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰىٚ ۝۷ وَ وَجَدَكَ عَآىِٕلًا فَاَغْنٰىؕ ۝۸ فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْؕ ۝۹ وَ اَمَّا السَّآىِٕلَ فَلَا تَنْهَرْؕ ۝۱۰ وَ اَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ۠ ۝۱۱﴾

ژباړه: په څاښت (رڼا ورځې) قسم! او په تیاره شپې چې کله هغه له چوپتیا سره خپره شي، (ای پېغمبره!) خپل رب هېڅکله نه یې پرېښی او نه هغه ناخوښی شوی دی. او اورمرو ستا لپاره وروستي

دور له لومړي دور څخه ډېرښه دی. او ډېر ژر به ستا رب تا ته دومره درکړي، چې ته به پرې خوشحاله شې. ایا هغه ته یتیم ونه میندلې او بیا یې استوګنځی درته برابر کړ؟ او ته یې لارنابلدي ومیندلې او بیا یې لارښوونه درته وکړه. او ته یې بېوزله ونه میندلې او بیا یې شتمن کړې؟ نو یتیم ته مه غوسه کېږه! او سوالګر مه رټه. او په ژبه د خپل رب د نعمت څرګندونه وکړه.

د ازمېښت په وخت کې به خپله انسان داسې فکر کوي، چې الله تعالی پرېښی دی، په درېیم ایت کې یې ورته په ډاګه کړې، چې ای مومنه! ستا فکر صحیح نه دی، الله تعالی تل له خپلو مومنانو ملګرو سره وي. په پنځم ایت کې یې ژمنه کړې چې هغه به تا خوشحاله کوي، خو دا په دې شرط چې تاسو پر بېوزلو خلکو ولورېږئ، هغه ونه رټئ او د نعمتونو شکریه یې ادا کړئ.

# اخري خبره

کله چې دریاندې الله تعالی ازمېښت وکړ، نو په هغه وخت کې د صبر لمن مه پرېږدئ، بلکې د صبر ماده په ځان کې راولئ، کله چې په ژوند کې له مشکلاتو سره مخ شئ، نو خپل ایمان له لاسه مه ورکوئ او جنت ته د تلو لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړئ. دا هم په یاد لرئ چې په ژوند کې ستونزې د ګناهونو له امله رامنځ ته کېږي، باید په دې کې کمی راولئ او دغه ستونزې په هغه وخت کې کمېږي، چې کله بنده له الله تعالی څخه بښنه وغواړي، نېکو اعمالو ته مخه کړي او تل يې ژبه د الله تعالی په ذکر ژبه لمده وي. کله چې بنده د قران کریم تلاوت ته وخت ورکړي، نو په دې سره هم د ژوند مشکلات څه نا څه کمېږي.

## که الله تعالی له مونږ

## څخه مال او صحت بېرته واخلي، نو باید څه وکړو؟

- الله تعالی په قران کریم کې فرمایي:

﴿ وَ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلٰۤى اُمَمٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ فَاَخَذۡنٰهُمۡ بِالۡبَاۡسَآءِ وَ الضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَتَضَرَّعُوۡنَ۝ ﴾. (الانعام: ۴۲)

ژباړه: له تا نه مخکې مونږ ډېرو قومونو ته پیغمبران لیږلي او هغه قومونه مو په کړاوونو او غمونو لتاړ کړل، تر څو هغوی له عاجزۍ سره زمونږ په وړاندې سر ښکته کړي.

کله چې الله تعالی له یو مومن څخه صحت او شتمني بېرته واخلي، نو په دې یې ازمایي، خو څنګه چې په پورته ایت کې یادونه وشوه، کله چې یو مومن په ازمېښت کې بریالی شي، نو ایمان یې له مخکې څخه نور هم قوي شي. د دې عنوان لاندې زه لومړی د ورځني ژوند اړوند مثالونه ذکر کوم، چې الله تعالی موږ ته د ایمان او خپلې شتمنۍ تر منځ واک راکړی دی، چې موږ په کې زیاتره ناسمې پرېکړې کوو.

دغه ازمېښت له کوچنیوالي څخه پیلېږي، لکه کله چې تاسو یو دوکاندار ته لس افغانۍ ورکړئ او هغه پرې د شلو (۲۰) افغانیو ګمان وکړي، تاسو ته د لسو (۱۰) افغانیو خوراکي توکي درکړي او لس افغانۍ بېرته درکړي، نو تاسو په لږه شېبه کې کولی شئ چې د لسو افغانیو د ورکولو یا نه ورکولو پرېکړه وکړئ.

په همدې ترتیب کې چې تاسو د ځوانۍ مرحلې ته ورسېږئ، نو کله چې له بانک سره لین دین کوئ، نو د سود ورکولو یا اخیستلو

انتخاب ته مجبوره کېږئ او دا لړۍ وروسته په همدې توګه دوام کوي. اوس درته د ژوند اړوندو څو پوښتنو لست وړاندې کوو، مخکې له دې چې تاسو له داسې پوښتنو سره مخ شئ، نوارینه ده چې ځوابونه ورته ضرور پیدا کړئ:

لومړۍ پوښتنه: ایا کولی شم چې له خپلو پیسو سره د سود پیسې یو ځای کړم؟

دویمه پوښتنه: ایا د خپلې مالي ګټې په خاطر کولی شم، چې کفري هېواد تابعیت خپل کړم؟

دریيمه پوښتنه: که زه له خپلو ملګرو سره وړوکی شرط کېږدم (چې حرام هم دی)، که دغه شرط وګټم، نو ایا شرط ترې واخلم؟

څلورمه پوښتنه: فرضا زه یو دوکاندار یم، که چېرې یو څوک له ما څخه خوراکي توکي اخلي او زه یې د دې توکو له اصلیت څخه خبر نه کړم، نو ایا هغه ته خو به تکلیف نه رسېږي؟ ایا دا خبره همدومره مهمه ده؟

زه درته دغه پوښتنې نورې هم اسانوم، خو داسې فکر کوم چې تاسو به زما په اصلي نقطه پوه شوي یاست، خو بیا هم پر دې ښه پوه شئ چې د دې ټولو پوښتنو ځواب په یوه کلکه (نه) کې دی. دا خبره په یاد لرئ چې په امتحان کې بریالیتوب لږ ستونزمن دی، دغه امتحان د حقیقي قربانیو تقاضا کوي. بله مهمه خبره دا په ذهن کې وساتئ چې هېڅکله له الله تعالی څخه د ازمېښت سوال مه کوئ او مه په ازمېښت کې د ګېرېدو غوښتنه کوئ، بلکې تل له الله تعالی څخه غواړئ چې له ازمېښت څخه مو وژغوري، ځکه هېڅ بنده نه شي کولی چې په ازمېښت کې سل په سلو کې بریالی شي، بیاهم که

الله تعالی پر موږ ازمېښت وکړي، نو باید له صبر څخه کار واخلو، د ګناهونو د ښښنې لپاره لاسونه رب ته لپه کړو، چې له دې سره به ازمېښت څه نا څه له منځه لاړ شي.

## اخري خبره

باید دې ته مو فکر وي، چې الله تعالی به تاسو په خپل ژوند کې په عقیده ازمايي چې د مصیبتونو په وخت کې پر الله تعالی څه ډول عقیده ساتئ. تل هڅه کوئ چې ازمېښت ته چمتو اوسئ، الله مه کړه، که پر تاسو د ازمېښت شېبې راغلې، نو له الله تعالی څخه د صبر غوښتلو او خپلو ګناهونو د ښښنې دعاګانې غواړئ دا خبره په ذهن کې ثبت کړئ چې ژوند بېلابېل پړاوونه لري، کله څنګه او کله څنګه، تاسو به په ژوند کې له مختلفو حالاتو سره مخ شئ، که اوس ستاسو حالت لږ څه کمزوری وي، ان شاء الله ډېر ژر به ښه شي، ځکه چې ژوند د مختلفو حالاتو زېرېنده ده.

## د مشکلاتو او مصیبتونو
## په وخت کې مرستندویه قراني ایتونه

کله چې مسلمان په ژوند کې له سختو حالاتو څخه تېرېږي، نو کله چې د قران کریم تلاوت واوري، روژه ونیسي یا هم عبادت وکړي، نو له دې سره د بریالیتوب درجې ته رسېږي. قران کریم د داسې ایتونو درلودونکی هم دی، چې د مسلمان زړه ته ډاډ وربښي، که تاسو په ژوند کې له ستونزو سره مخ شوئ، نو دغه ایتونه به مو مرستندویه ثابت شي.

که غواړئ چې له سختو حالاتو سره په مېړانه مقابله وکړئ او خپله حوصله زیاته کړئ، نو هڅه وکړئ چې دغه ایتونه هر وخت تلاوت کړئ، دغه ایتونه به مو هیلې د مراد ساحل ته ورسوي.

- د سورت الم نشرح ایتونه:

﴿ اَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ۝١ وَ وَضَعۡنَا عَنۡكَ وِزۡرَكَ ۝٢ الَّذِیۡۤ اَنۡقَضَ ظَهۡرَكَ ۝٣ وَ رَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ۝٤ فَاِنَّ مَعَ الۡعُسۡرِ یُسۡرًا ۝٥ اِنَّ مَعَ الۡعُسۡرِ یُسۡرًا ۝٦ فَاِذَا فَرَغۡتَ فَانۡصَبۡ ۝٧ وَ اِلٰی رَبِّكَ فَارۡغَبۡ ۝٨ ﴾.

ژباړه: (ای پیغمبره!) ایا مونږ ستا سینه ستا لپاره خلاصه نه کړه؟ او له تا څخه مو ستا هغه پېټي ښکته کړ چې ستا شايې درنده (درنه) کړې وه. او ستا په خاطر موستا د يادېدو اوازه لوړه کړه، نو حقيقت دادی چې له تنګسې سره پراختيا هم ملګرې ده. بېشکه له تنګسې سره پراختيا هم ملګرې ده، نو چې کله ته وزګار يې، نو په عبادت کې تکلیف وباسه.

په پنځم او شپږم ایت کې ښایسته زېری پراته دي، یعني بې زحمته راحت نه شته یا دا چې له تنګسې وروسته اسانتیا شته، له هر یو مشکل سره یوه نه، بلکې دوه اسانتیاوې ملګرې وي. واه واه!! نو بیا خپګان د کومې خبرې؟!

● د سورت حجر ایتونه چې د همت نه بایللو ډاډ ورکوي:

﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ۝٤٥ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ ۝٤٦ وَنَزَعْنَا مَا فِي
صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ۝٤٧ لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُم
مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ ۝٤٨ نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ۝٤٩ ﴾. (الحجر: ۴۵-۴۹)

ژباړه: د دې پر خلاف پرهېزګاران به په باغونو او چینو کې وي او هغوی ته به وویل شي چې دې ته له سلامتیا سره بې وېرې او بې خطره ورننوځئ، د هغو په زړونو کې که لږ ډېر د خیري رخه وي، هغه به ترې وباسو، هغوی به په خپلو منځونو کې وروڼه وروڼه یو بل ته مخامخ پر تختونو کېني، هغوی ته به نه هلته څه تکلیف ورسېږي او نه به له هغه ځایه وویستل شي. ای پیغمبره! زما بندګانو ته خبر ورکړه چې زه ډېر ښه بښونکی او مهربان یم.

● د سورت البقرې ایتونه (دا ټول د امتحان برخه ده، خو له لږ همت څخه باید کار واخیستل شي، باید لاس تر زنې کېننئ، ځکه چې د الله تعالی مرسته به تاسو ته دررسېږي):

﴿ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُم ۖ
مَّسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ
مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ ۝٢١٤ ﴾. (البقره: ۲۱۴)

ژباړه: ایا تاسو دا انګېرئ، چې همداسې به جنت ته ننوځئ؟ په داسې حال کې چې لا تر اوسه پر تاسو هغه څه نه دي تېر شوي، چې له تاسو نه پر مخکنیو مومنانو راغلي دي؟ پر هغوی ستونزې راغلې، کړاوونه ورته ورسېدل، ولړزول شول، ان تر دې چې د وخت رسول او د هغه مومنانو ملګرو فریادونه وکړل، چې د الله تعالی مرسته به کله راشي! په هغه وخت کې هغوی ته ډاډ ورکړل شو، چې هو! د الله تعالی مرسته نژدې ده.

یوازې ته د ازمېښت ښکار شوی نه یې، له تا مخکې پر ډېرو خلکو ازمېښتونه شوي دي، له تا پرته به پر هغه چا هم د ازمېښت شېبې راشي، چې له تاسو په یو کور، یو کلي او یوه سیمه کې اوسېږي.
کله په خلکو داسې ترخه ازمېښتونه راشي، چې د هغوی د صبر کاسه ډکه شي، خو هغوی بیا هم د صبر لمن نه پرېږدي او په دې کې له الله تعالی څخه مرسته غواړي، په دې اساس تاسو مه خپه کېږئ، پر ازمېښت صبر وکړئ او له الله تعالی څخه په کې مرسته وغواړئ.

● سورت عنکبوت (ایا زماغړ څوک اوري؟ دا ازمېښت دی، ازمېښت)

﴿ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ یُّتْرَكُوْۤا اَنْ یَّقُوْلُوْۤا اٰمَنَّا وَ هُمْ لَا یُفْتَنُوْنَ۝۲ وَ لَقَدْ فَتَنَّا الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَیَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِیْنَ صَدَقُوْا وَ لَیَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِیْنَ۝۳ ﴾.

(العنکبوت: ۲-۳)

ژباړه: ایا خلکو دا ګڼلې ده چې هغوی به یوازې په همدومره ویلو پرېښودل شي ((چې مونږ ایمان راوړ)) او هغوی به ونه ازمایل شي؟ په داسې حال کې چې مونږ هغه ټول خلک ازمایلي دي، چې له دوی

مخکې تېر شوي دي، الله تعالی خو به هرومرو دا ګوري، چې ربښتیني څوک دي او درواغجن څوک.

## که انسان ته ځان
## د شیطان ملګری ښکاري، نو باید څه وکړي؟

په دې اړه الله تعالی فرمایي:

﴿ وَ اِمَّا یَنۡزَغَنَّکَ مِنَ الشَّیۡطٰنِ نَزۡغٌ فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ سَمِیۡعٌ عَلِیۡمٌ ﴿۲۰۰﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ اتَّقَوۡا اِذَا مَسَّهُمۡ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّیۡطٰنِ تَذَکَّرُوۡا فَاِذَا هُمۡ مُّبۡصِرُوۡنَ ﴿۲۰۱﴾ ﴾.

(الاعراف: ۲۰۰- ۲۰۱)

ژباړه: که کله دې شیطان ولمسوي، نو د الله تعالی څخه پناه وغواړه، هغه د هر څه اورېدونکی او په هر څه پوهېدونکی دی. په حقیقت کې چې څوک پرهېزګاران دي، د هغوی حال دا وي چې کله د شیطان له اغېزې نه ناوړه مفکوره ورسره پیدا شي، نو سمدلاسه متوجه شي او بیا هغوی په ځرګنده توګهویني، چې د هغوی لپاره سمه کړنلاره کومه یوه ده.

کله چې یو سړی په خپل ژوند کنترول لري، نو تاسو وګورئ چې شیطان ورته له کومه پلمې جوړوي. زه به درته په تلو تلو کې د شیطان فکر او د سر داخلي نړۍ ښکاره کړم، (که شیطان سر لري)، نو زه به درته پرې دې خبره نوره رڼا هم واچوم:

شیطان پرې دې پوهېږي، چې پورتنی ذکر شوی شخص خو په اسانۍ سره کبیره ګناه نه ترسره کوي، نو شیطان تل هڅه کوي او پر دې شخص صغیره ګناهونه ترسره کوي او له دې سره یې څه نا څه مینه هم پیدا کوي، تر دې چې په مسلسل ډول ترې دغه صغیره

ګناهونه صادر کړي. په همدې کې دغه شخص ته واړه او صغیره ګناهونه هیڅ هم نه ښکاري او نه ورته کوم ارزښت ورکوي، دغه شخص په بې پروایي سره د صغیره ګناهونو مرتکب کېږي، تر دې چې شیطان یې کبیره ګناهونو ته ولمسوي، شیطان ورته دغه کبیره ګناه د صغیره ګناه په شان ښکاره کړي، یعنې دا چې څنګه چې مخکې صغیره ګناهونه په بې پروایي سره ترسره کول، اوس دغه کبیره ګناه هم کمزوری شی وګڼي او مرتکب یې شي. شیطان خپلې دې پلمې ته دوام ورکوي، تر دې چې په مومن بنده کبیره ګناه ترسره کړي، یو وخت داسې راشي، چې شیطان همدا انسان په خپله عقیده شکمن کړي. که لاندې پوښتنې ستاسو ذهن ته راشي یا له مخکې مو ذهن ته راغلي وي، نو پوه شئ چې شیطان مو په دماغو کې د ځان لپاره استوګنځی جوړ کړی دی او تاسو یې په خواهشاتو عمل پیل کړی دی.

- د ازموینې پای ته رسېدو سره، له دې څخه بدتره خو دا ده چې اوس خو لمونځ ته شم شروع کولی، کله چې د اوړي رخصتي شي، نو بیا به د ورځې پنځه وخت جومات ته ځم.
- نن جومات ته د لمانځه لپاره نه شم تللی (بس دی، پرون تللی وم).
- کله چې په تلوېزیون کې دغه خپرونه (پروګرام) یا سیریال پای ته ورسېږي، بیا به لمونځ وکړم (ګویا تاسو د الله تعالی په مقابل کې د هنرمندانو تولی خوښوئ).

- دا خبره خو په دروغو کې نه راځي او نه ترې څوک په تکلیف کېږي، یوازې ټوکې کوم، چې خلک پرې خوشحاله شي، بس همدا یو ځل یې کوم، بیا یې نه کوم.

داسې نور شیطاني پلمې درته په ګوته کولی شم، فکر کوم تاسو به تر اوسه پورې پورته ذکر شوې نقطې موندلې وي. اوس فکر وکړئ چې تاسو په دې لوبه کې له شیطان سره ملګري شئ، نو څه به کوئ؟ د دې پوښتنې ځواب هغه ایت دی، چې د دې عنوان په پیل کې بیان شو:

﴿وَ اِمَّا یَنۡزَغَنَّكَ مِنَ الشَّیۡطٰنِ نَزۡغٌ فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ ؕ﴾

ژباړه: که کله دې شیطان ولمسوي، نو د الله تعالی څخه پناه وغواړه.

کله چې درته معلومه شي، چې د شیطان خبرې ته اماده یاستئ، خو هغه خبره چې په هغه وخت کې تاسو ته ټوکې ښکاري، خو په زړه کې پرې پوره باوري یاستئ چې خبره خو غلطه ده، نو تر ټولو لومړی قدم د جومات په لور واخلئ یا د کور هغې طرف ته روان شئ، چېرته چې قران کریم پروت دی، تلاوت یې پیل کړئ، نو تاسو به د شیطان د خبرو هیڅ پروا ونه ساتئ او هغه به کنترول کړئ.

## اخري خبره

یوه طریقه چې تاسو په کې ځان له شیطان څخه ژغورلی شئ او الله تعالی ته پناه وړلی شئ، هغه د قران کریم اخري دوه سورتونه دي، چې یو یې سورت الفلق او بل یې سورت الناس نومېږي.
شیطان په ډېرو ګړندیو هڅو کې وي، نو ځکه د مقابلې لپاره باید هغه لاره خپله کړئ چې موږ ته الله تعالی په قران کریم کې راښودلې ده او دغه یادونه په څو ځایونو کې شوې ده، مطلب دا چې کله تاسو د الله تعالی ذکر پیل کړئ، نو له شیطان څخه به پناه ترلاسه کړئ. د ذکر غوره طریقه د لمانځه ادا کول، دقران کریم تلاوت، نفلي لمونځ اونفلي روژې دي.

# دویمه برخه

# د جنت د موندلو لپاره قدم په قدم پلانونه

- د پلانونو تحریکي قوتونه
- د جنت انځور وړاندې کوونکي ایتونه
- د الله تعالی او ستاسو تر منځ لیکلی تړون
- د تړون د شقو تشریح
- د تړون مکمله نمونه
- د بریالیتوب په لور
- د جنت د ترلاسه کولو آسانه لارې

# د پلانونو تحریکي قوتونه

الله تعالی په قران کریم کې فرمايي:

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا ۝ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّ يَلْبَسُوْنَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّنْ سُنْدُسٍ وَّ اِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ؕ نِعْمَ الثَّوَابُ ؕ وَ حَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ۝ ﴾. (الکهف: ۳۰- ۳۱)

ژباړه: پاتې شول هغه کسان چې ویې مني (ایمان راوړي) او ښه عملونه وکړي، نو دا یقیني ده چې مونږ د نېکانو اجر نه ضایع کوو. د هغوی لپاره تل سمسور باغونه دي، چې تر هغو لاندې به ویالې بهیږي، هلته به هغوی د سرو زرو په بنګړیو سینګار کړای شي، د نریو وریښمو، اطلسو او بخملو شنې جامې به واغوندي او هسکو بالښتونو ته به تکیه وهلي کېني، ډېر ښه اجر او د لوړې درجې هستوګنځی دی!

په دې فن کې درته هغه پلانونه قدم په قدم درپېژنم، چې انسان د جنت مستحق ګرځوي. زیاتره مسلمان په دې دوکه شوي دي، چې بس تشه مسلماني د جنت تللو لپاره کافي ده، ځینې مسلمانان داسې فکر کوي، چې څوک پنځه وخته لمونځ ادا کوي، نو هغه که هره ګناه کوي، هیڅ باک نه کوي، دغه شخص د نورو په پرتله ډېر نېک کارونه ترسره کوي، دا خو یو ځل جنت ته ضرور ځي، ځکه چې کلمه یې ویلې ده، خو له دې مخکې به یو ځل د دوزخ خوند څکي.

ځینې مسلمانان داسې فکر کوي چې جنت ته تلل خو ډېر سخت کار دی، له جنت څخه یې لاس اخیستی وي او د ترلاسه کولو لپاره یې لږې هلې ځلې هم نه کوي.
ځینې په دې ګمان دي چې جنت دومره ارزښتناکه شی نه دی، چې د هغې لپاره سړی ګړندۍ هلې ځلې پیل کړي، که تاسو په هره ډله کې یاستئ، خو د دې عنوان پای ته رسېدو پورې هېله لرم، چې جنت ته د تللو لپاره به اسانه لار ولټوئ او خپلې هلې ځلې به شروع کړئ.
مخکې له دې چې تاسو په سفر په ځانګړې توګه د ژوند سفر پیلوئ، نو مخکې ترې خپل مقصد ځان ته واضح کړئ. باید په ژوند کې د مسلمان یو مقصد وي:
((جنت ته د تلو په خاطر د الله تعالی د دین خدمت کول..... نه دا چې انسان کله ډېر ش کلنۍ ته رسېږي، باید په میلیونو ډالر یې ګټلي وي یا جګ پوړی چارواکی وي.....)).
د پورتنۍ جملې دویمه برخه د نامسلمان د ژوند مقصد دی، د افریقا کفار د دې شیانو د ترلاسه کولو لپاره قیمتي سفرونه کوي، په دې سفر په زرګونو ډالر مصرفوي، خپلو مېرمنو ته طلاق ورکوي او له پېغلو انجونو سره واده کوي، خپل کاروبارونه پرېږدي یا د نویو موټرو د اخیستلو لپاره هلې ځلې کوي. دوی دې ژوند ته ښایسته او پرمختللی ژوند وایي؛ مسلمانانو ته الله تعالی خپل منزل ټاکلی او دا کار یې ورته اسانه کړی.
له یو اړخه خو داسې ښکاري، چې مونږ باید د خپل تخلیق مقصد ونه لټوو، ځکه الله تعالی راته څرګند کړی دی او دا یو ښه خبر دی، له بله پلوه جنت ته تلل دومره اسانه کار نه دی، چې دا یو بد خبر دی،

خو بیا هم د یوېشتمې پېړۍ مسلمانانو جنت دومره اسانه کړی، چې تش په نوم مسلماني انسان جنت ته رسوي، خو کله چې دوی په خپلو مقصدونو کې مشکلات ویني، نو سخت نهیلي شي، اخلاقي زوال سره مخ شي او څه نا څه همت هم له لاسه ورکړي، بیا ورته جنت ته تلل هم سخت ښکاري، خو زه باید همدا اوس یوه خبره واضح کړم:

## جنت ته تلل اسانه نه دي

د مسلمان ژوند هره شېبه په هلو ځلو کې وي او هڅه کوي، چې په یوه نه یوه لار الله تعالی ته ځان نزدې کړي، د مسلمان ټول ژوند له خپلو خواهشاتو سره له مقابلې او جنګ څخه عبارت دی. که تاسو داسې فکر کوئ، چې دا ورځنی جنګ نه دی او نه داسې احساسولی شئ چې د الله تعالی په خاطر د خپلو خواهشاتو قرباني نه شئ ورکولی، نو بیا خپل ایمان ته فکر وکړئ او هڅه وکړئ چې مناسب بدلون په کې راولئ؛ دغه نقطه له لاندې ایت څه ښه په ډاګه کېږي:

﴿ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَ اتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴾. (محمد: ۱۴)

ژباړه: ایا داسې کېدای شي چې څوک چې د خپل رب له لوري په روښانه او څرګند هدایت باندې وي، هغه د هغو خلکو په څېر شي، چې د هغو لپاره د هغو بد عمل ښایسته کړی شوی دی او هغوی د خپلو نفسي غوښتنو پیروان ګرځېدلي دي؟

ما د کتاب په دې برخه کې د (سفر) او (جنګ) کلمې یو دوه ځلې استعمال کړې، ځکه چې دا د مسلمان لپاره جنت ته د تلو یو سفر هم دی، څومره چې تاسو د نېکو اعمالو له مخې په کمه درجه کې یاستئ، هومره به مو سفر اوږد وي، تاسو به هېڅکله پر دې پوه نه شئ چې کله به له ترافیکي پېښې سره مخ کېږئ؛ باید تاسو هر وخت د سفر پر مهال له احتیاط څخه کار واخلئ؛ باید تاسو هر وخت د ښه سفر لپاره هلې ځلې وکړئ، که تاسو په کمه درجه هم یاستئ!

هوښیار اوسئ! جنت ته د تلو لپاره هلې ځلې کول زموږ په لومړیتوبونو کې دي، له هر څه مخکې باید په همدې فکر کې واوسو. په ورځني ژوند کې چې د څو مړي دوډۍ ګټلو لپاره کار کوو، نو دا د همدې عمل یوه برخه ده. که تاسو د لومړۍ خبرې په مقابل کې دویمې خبرې (د رزق ګټل) ته ترجیح ورکړئ، نو په دې صورت کې به الله تعالی ستاسو ترجیحاتو ته هېڅ حیثیت ورنه کړي او په بدل کې به مو له اخروي نعمتونو بې برخې کړي.

د دې اوږد سفر لپاره اخلاص ستاسو موټر او ورسره دلچسپي لرل یې د پټرولو یا ډیزلو په معنا دي. د کتاب د همدې دویمې برخې تر پای پورې هېله لرم، نه یوازې دا چې تاسو به په خپل عمل کې اخلاص پیدا کړی وي، پر تحریري تړونلیک به خپل لاسلیک وکړئ، بلکې له خپل اصلي مقصد سره به مو دلچسپي هم پیدا شوې وي او د اخلاص طریقې به مو هم زده کړې وي.

تاسو کولی شئ چې ګناهونه کم کړئ یا نېک اعمال ډېر ترسره کړئ او بیا جنت ته لاړ شئ. د دې پلان تقاضا دا ده چې تاسو باید په منظمه توګه خپلو ګناهونو ته د پای ټکی کېږدئ. منظمه طریقه دا ده چې

لومړی پر کبیره ګناهونو برلاسي شئ او په ژوند کې يې د نشت برابر کړئ، ورپسې نېکو اعمالو ته مخه کړئ

دا پلان د دې تقاضا هم کوي، چې د دغه شخص نېک اعمال به په تدريجي ډول زياتيږي، خو مخکې ترې بايد پر دې پوه شئ، چې د دې پلان د مخکې وړلو لپاره بايد انسان متحرک واوسي او پلان ته د انکشاف ورکولو لېواله وي او کله د پلان مخته وړلو په صورت کې له کومو ستونزو سره مخ کيږي، بايد ثابت قدم پاتې شي

په راتلونکو مخونو کې درته هغه قراني ايتونه وړاندې کوم، چې د جنت تفصيل بيانوي، بايد له ژباړې سره يې شپبه په شپبه تلاوت کړئ، په ځانګړي توګه په هغه وخت کې چې کله له کوم مشکل سره لاس او کرېوان ياستئ، بايد تاسو دې ته ژمن واوسئ چې کله پلان مخکې وړئ، نو بايد د هغه لپاره له اخلاص څخه کار واخلئ، د دې لپاره بايد تاسو له الله تعالى سره يوکلنی تړون لاسليک کړئ

له الله تعالى سره ليکلی تړون وکړئ، که د تړون مادې مو په نظر کې ونه نيولې او پوره مو نه کړې، نو د سزا مستحق به شئ. له دې وروسته به د پلان دويمې برخې ته لاړ شو، په دې برخه کې به درته جنت ته د تلو اسانې لارې وښايم او دا به هم درته په ګوته کړم، چې واړه نېک عملونه څنګه ډېرېږي.

## اخري خبره!

د مسلمان د ژوند مقصد دا دی، چې یوازې د یو الله تعالی عبادت وکړي، د (اسلام) د کلمې معنا هم همدا ده: (خپل سر الله تعالی ته ټیټول او غاړه ایښودل). د اسلام پیروان خپل خواهشات د الهي احکامو تابع کوي، د مسلمان د پېژندلو لپاره دا یو لازمي تصور دی.

د مسلمان فریضه دا ده چې الهي احکامو ته به د عمل جامه اغوندي، مادي ګټو ته به د الله تعالی پر احکامو ترجیح نه ورکوي.

زموږ د ژوند اصلي هدف دا نه دی، چې په دنیا کې څومره مزې او خوندونه دي، باید ټول ترلاسه کړو، بلکې د الله تعالی اطاعت زموږ اصلي موخه ګڼل کېږي، د اصلي او تلپاتې مزو چړچو ځای خو اخرت دی، ځکه د دنیا په پرتله د اخرت خوندونه ابدي دي او که څوک د دنیا خوندونو ته فکر وکړي، نو دا خو د یو څو ورځو خوندونه دي، چې له مرګ سره پای ته رسېږي. پر دې پوه اوسئ چې اسلام یوازېنی دین دی، چې د ژوند د هر اړخ په اړه یې تر ټولو لوړ او عالي قانون جوړ کړی دی.

دا به څومره د افسوس خبره وي، چې تاسو د ورځې لس زره (۱۰۰۰۰) ډالر ګټلي وي، خو کله چې کور ته راستنېږئ، په لاره کې د ترافیکي پېښې ښکار شئ، له اخلاص پرته ژوند ته د پای ټکی کېږدئ او پاتې ژوند په دوزخ کې تېر کړئ! اسلام تاسو ته ډاډ درکوي، چې

دغه کاربه له تاسو سره نه کېږي، په دې شرط چې د الله تعالی له احکامو سرغړونه ونه کړئ.

## د جنت انګور وړاندې کوونکي ایتونه

پر تاسو به په ژوند کې داسې وخت هم راشي، چې له دې پلان او منصوبې څخه به وروسته کېږئ او لاس به ترې وینځئ. په ژوند کې لومړۍ دا کار وکړئ چې هېڅ مه نا امیده کېږئ او د دلچسپۍ ماده په ځان کې نوره هم پیاوړې کړئ. راځئ د جنت انګور وګورئ:

﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ (٤٦) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٤٧) ذَوَاتَا أَفْنَانٍ (٤٨)
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٤٩) فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ (٥٠) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ (٥١) فِيهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ (٥٢) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٥٣)
مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ۚ وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ (٥٤) فَبِأَيِّ آلَاءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٥٥) فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ (٥٦)
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٥٧) كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ (٥٨) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ (٥٩) هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ (٦٠) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦١) وَ
مِنْ دُونِهِمَا جَنَّتَانِ (٦٢) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦٣) مُدْهَامَّتَانِ (٦٤) فَبِأَيِّ آلَاءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦٥) فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ (٦٦) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦٧) فِيهِمَا
فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ (٦٨) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦٩) فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ (٧٠)
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٧١) حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ (٧٢) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ (٧٣) لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ (٧٤) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٧٥)

مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ۝ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝
تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ۝ ﴾. (الرحمن: ۴۶- ۷۸)

ژباړه: او د هر هغه چا لپاره چې د خپل رب حضور ته له وړاندې کېدو نه وېره لري، دوه باغونه دي. تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ؟ له شنو ښېرازه څانګو نه مالامال. تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ ؟ په دواړو باغونو کې دوه چینې بهیدونکې، تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ؟ په دواړو باغونو کې د هرې میوې ډولونه دوه دوه. د خپل رب کوم کوم انعامونه به تاسې درواغ وګڼئ؟ جنتیان به پر داسې فرشونو باندې تکیه کوونکي ناست وي، چې د هغوی استرونه به د ېپړو وریښمو وي، او د باغونو څانګې به د مېوو له زوره ښکته راکږې شوې وي د خپل رب کوم کوم انعامونه به تاسې درواغ وګڼئ؟ داسې ښکلې لکه یاقوت او مرجان. د خپل رب کوم کوم انعامونه به تاسې درواغ وګڼئ؟ د نېکۍ بدله له نېکۍ پرته بل څه کېدای شي؟ نو ای پیریانو او انسانانو د خپل رب له کومو کومو انعامونو (غوره صفتونو) څخه به تاسې منکر شئ؟ او پر هغو دوو باغونو برسېره دوه باغونه به نور هم وي. تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ؟ ګڼ سمسور او ښېرازه باغونه. تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ؟ په دواړو باغونو کې دوه چینې د فوارو په شان جوش وهونکې. تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ؟ په دې دواړو جنتونو کې به هر ډول خوندورې میوې، خرما او انار وي. نو ای پیریانو او انسانانو تاسې به د خپل رب کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟ د

دغو نعمتونو په منځ کې د ښه سیرت خاوندانې ښکلې مېرمنې. تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ؟ په خېمو کې دېره شوې حورې. تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟ له دغو جنتیانو څخه مخکې به هېڅکله کوم انسان یا پیری هغوی نه وي مسه کړې، تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ؟ هغوی به پر جنتي شنو غالیو او نفیسو او نادر و فرشونو باندې تکیه وهلې ناست وي. تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ؟ ډېر برکت لرونکی دی ستا د جلیل او کریم رب نوم.

سورت صافات (له ګناه مخکې په دې فکر وکړئ):

﴿ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِیْنَ۝ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ۝ فَوَاكِهُ ۚ وَ هُمْ مُّكْرَمُوْنَ۝ فِیْ جَنّٰتِ النَّعِیْمِ۝ عَلٰی سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِیْنَ۝ یُطَافُ عَلَیْهِمْ بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِیْنٍ۝ بَیْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِیْنَ۝ لَا فِیْهَا غَوْلٌ وَّ لَا هُمْ عَنْهَا یُنْزَفُوْنَ۝ وَ عِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِیْنٌ۝ كَاَنَّهُنَّ بَیْضٌ مَّكْنُوْنٌ۝ ﴾. (صافات: ۴۰- ۴۹)

ژباړه: خو د الله تعالی غوره شوي بندګان به (له دغه ناوړه عاقبت نه) محفوظ وي. د دوی لپاره معلومه روزي ده، هر راز خوندور شیان او دوی به عزتمند وي. او له نعمتونو ډک جنتونه چې هغوی به په کې اوسېږي. پر تختونو به یو بل ته مخامخ کېني. د شرابو له چینو نه ډک جامونه به د هغوی په منځ کې وګرځول شي. ځلانده، رانه شراب چې د څښونکو لپاره به خوندور وي. نه به د هغوی جسم ته له هغو نه څه ضرر وي او نه به یې عقل ته تاوان رسېږي. او له هغوی سره به د نظر ژغورونکې ښایسته سترګې لرونکې ښځې وي، داسې نازکې لکه د هګۍ تر پوټکي لاندې پټه شوې پرده.

## د الله تعالی او ستاسو تر منځ لیکلی تړون

دا هغه خفیه وسله ده، چې له دښمن څخه مو تر ډېره پورې ژغورلی شي او ستاسو ارادې هم پیاوړې کوي. دا هغه قوت دی، چې تاسو ورته ضرورت لرئ، ځکه چې د همدې قوت له مخې د ژوند بېړۍ په اخلاص سره روانېږي.

تاسو دغه تړون په پوره غور سره مطالعه کړئ، که پر کومه خبره پرې نه پوهېږئ، نو مه وېرېږئ! تفصیل یې شوی دی، په راتلونکو مخونو کې یې د نمونې فورمه هم شته، له هغې وروسته کول شئ چې تشې خانې ډکې کړئ، پرته له ځنډ څخه دغه لیکلی تړون ولولئ:

## تړون

زه ........... تصدیقوم، کله چې دغه تړون لاسلیکوم، نو پر دې پوره باوري یم، چې کوم مقصد په ژوند کې لرم، د هغې په پوره کولو کې به له ما سره مرسته وکړي. زما د ژوند مقصد دا دی، چې د زړه له کومي د الله تعالی عبادت وکړم، په همدې اساس به د الله تعالی رضا ترلاسه کړم او جنت ته د تلو لاره به پیدا کړم.

- **لومړنۍ هڅې: په تدریجي توګه د ګناهونو کموالی**
- **لومړۍ برخه:**
- ترټولو غټې ګناهونه، چې زه یې په ژوند کې کوم، دا دي:

(۱)

(۲)

(۳)

- له پورته ذکر شوو ګناهونو څخه له یوې خو سمدستي توبه وباسم او پاتې دوه ګناهونه په کال کې په تدریجي ډول پرېږدم.
- **دویمه برخه: متبادل اعمال**
- زما ښایسته او نېک متبادل اعمال دا دي:

(۱)

(۲)

(۳)

- له ما څخه چې کوم ګناهونه شوي یا په راتلونکي کې راڅخه کېږي، ژمنه کوم چې هغه به په څو طریقو پرېږدم، لکه هره ورځ د (

لمانځه نه مخکې او وروسته سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ وظيفه (مثلاً سل ځلې) کوم.

- **دویم ځل هڅې: په تدریجي توګه په نېکو اعمالو کې زیاتوالی**
- **لومړی برخه: نېک عملونه:**
- زه به ورځ له لاندې دوه نېکو عملونو څخه پیلوم:

(۱)

(۲)

- راتلونکی کال به جنت ته د داخلېدو لپاره له لاندې اسانه طریقو څخه شروع کوم:

(۱)

(۲)

(۳)

- **دریم ځل هڅې:**
- **لومړی برخه: سزا**
- که د راتلونکي کال تر اخره پورې مې د تړون شرطونه پوره نه کړل، نو زه به الله تعالی ته له توبې پرته لاندې سزاګانې پر ځان منم:

(۱)

(۲)

(۳)

- **څلورم ځل هڅې: قراني ایتونه**
- **لومړی برخه: تلاوت**

- زه ............ دغه تړون لاسلیکوم او دا ژمنه کوم، چې په هرو دریو، شپږو، نهو یا دولسو میاشتو کې به یو ځل قران کریم له ترجمې سره تلاوت کوم.
- زه ............ داسې پلان جوړوم، چې هره ورځ په کې لس، پنځلس یا شل دقیقې د قران کریم تلاوت وکړم، د امکان په صورت کې به په لاندې موده کې د قران کریم ختم کوم.

له ............ څخه تر ............ وخته پورې.

- **پنځم ځل هڅې: تړون لاسلیک او ساتل**

له ننني نېټې ( / / ) څخه تر راتلونکي کال ( / / ) نېټې پورې ان شاء الله ټولې ژمنې پوره کوم او په ترسره کولو کې به یې د خپل وس په اندازه هڅې کوم، همدارنګه په هر ځای کې به د اسلام او مسلمانانو درناوی کوم او خیرخواهي به یې لټوم.

لاسلیک............ (الله تعالی مو مل شه!)

## د ټړون وضاحت

اوس درته دغه ټړون ټول واضح کوم، په خپله به یې په اسانۍ سره ډک کړئ:

- **لومړنۍ هڅې، لومړۍ برخه:**
- د دریو داسې ګناهونو لړلیک او فهرست جوړ کړئ، چې تاسو یې مرتکب کیږئ، که تاسو د اسلام له ارکانو څخه کوم رکن په بشپړ ډول نه شئ پوره کولی، نو په دې فهرست کې یې نوم ولیکئ.
- دویمه داسې ګناه په کې ولیکئ، چې تاسو یې سمدستي پرېښودی شئ، خو دا په پام کې وساتئ، باید هغه ګناه په کې ولیکئ، چې پرېښودل یې درته اسانه وي او دا هم په یاد لرئ، چې هغه ګناه باید د کبیره ګناهونو په لست کې راځي، پاتې شو دوه نور ګناهونه، نو هغه تاسو په کال کې په تدریجي ډول پرېږدئ.
- **دویمه برخه:**
- زه درته دلته داسې متبادل اعمال ښایم، چې باید تاسو یې فهرست جوړ کړئ، په دې اړه به مو مخکې نه وي اورېدلي، په قران کریم او احادیثو کې به یې هم اساس نه وي، خو دا به ستاسو د لویو ګناهونو متبادله ګناه وي، د مثال په توګه: که تاسو د هیروئینو روږدي یاستئ، نو هیروئین پرېږدئ او پر ځای یې سګرټ شروع کړئ، نو په دې صورت کې به ستاسو لپاره د سګرټو څښاک یو متبادل عمل وي. دا حقیقت پر خپل ځای دی، چې د سګرټو څښل خپله ګناه ده، خو بیا هم د هیروئینو په پرتله یې ګناه کمه ده. دغه متبادل عمل په ډېر احتیاط سره ترسره کوئ. دغه پلان پر مخ یوسئ

او کله چې مو هیرویین پرېښودل، نو په تدریجي ډول ورپسې سګرټ هم پرېږدئ، د همدې پلان له لارې به تاسو د ټرون په پوره کولو کې بریالي شئ، اخر به هم تاسو دې نتیجې ته ورسېږئ، چې ستاسو متبادل عمل به بیا نېک عمل وي.

د متبادل عمل شاته داسې فلسفه پرته ده، چې تاسو هغه کارونه پا اسانۍ نه شئ پرېښودلی، چې په ورځني ژوند کې ورسره عادت شوي یاستئ، خو کله چې تاسو متبادل عمل شروع کړئ، نو تاسو به په راتلونکي کې پر دې ډاډمن شئ، چې ټول ګناهونه پرېږدئ. کله چې له موږ سره وزګار وخت ډېر وي، نو په دې صورت کې به مو ډېر میلان ګناهونو ته وي، بیا هم که موږ په اسلامي هلو ځلو کې مصروف واوسو، نو یو خو به له موږ سره وزګار او فارغ وخت نه وي، چې نفس مو ګناهونو ته مایله کړي او بل دا چې د ټرون په ترسره کولو کې به هم څه نا څه برخه اخیستې وي. د مثال په توګه مخکې له دې چې د ضرر کوم کار ته لاس واچوو، باید هغه وکړو چې ددې پر ځای بې ضرره کار ته وخت ورکړو، لکه ورزش کول او داسې نور، پر ځای د دې چې موږ بیا د ګناه عمل ته لاس واچوو.

- دا کار د دې لپاره شوی، چې تاسو له الله تعالی څخه د خپلو ګناهونو ښښنه وغواړئ، مخکې چې مو کوم حدیث ذکر کړ، یعنې سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ، نو دلته یې احادیث هم رانقلوو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابو هریره رضي الله عنه په روایت فرمایي:

كَلِمَتَانِ حَبِيْبَتَانِ إِلَى الرَّحْمٰنِ، خَفِيْفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيْلَتَانِ فِي الْمِيْزَانِ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ.

ژباړه: دوه کلمې داسې دي چې رحمن ذات ته ډېرې محترمې دي، پر ژبه ډېرې اسانه، خو د میزان په تله کې ډېرې درندې دي، هغه کلمې دا دي:

سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ (پاک دی الله تعالی له خپلو ستاینو سره)

سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ (الله تعالی ستر او پاک ذات دی).[1]

تاسو له خپل انتخاب څخه کرښه تاو کړئ، یعنې مخکینی که وروستنی، وروسته هغه لمونځ ذکر کړئ، چې تاسو په کې ذکر په اسانۍ سره کولی شئ، مثلاً د ماسختن لمونځ، ذکر او لمونځ ډېر ادا کوئ، ذکر مو څکه یاد کړ، چې تاسو ورسره عادت شئ؛ دغه ذکر هېڅکله مه هېروئ.

- **دويم ځل هڅې، لومړۍ برخه:**

- د دوه داسې لویو کارونو فهرست جوړ کړئ، چې په اسانۍ سره يې هره ورځ کولی شئ، مثلاً: که تاسو لمونځ نه ادا کوئ، نو پیل يې کړئ.

- له هماغو نېکو عملونو څخه کار واخلئ او يو په کې انتخاب کړئ، وضاحت يې شوی دی.

---

۱ - صحيح البخاري: ۷۵۶۳

- **درېیم ځل هڅې، لومړۍ برخه:**

هغه شان د دریو سزاګانو فهرست جوړ کړئ، څنګه چې مو د تړون د شرطونو د نه پوره کولو په صورت کې پر ځان لازم کړي دي، څو پیسې د صدقې په نوم ورکول یا نفلي روژې نیول هم په سزا کې راځي، که تاسو له دې وېرېږئ چې د همدې درېیم ځلي هڅو له امله به دغه تړون سرته ونه رسوئ، نو دغه برخه یا هڅې راتلونکي کال ته پرېږدئ، ښایي په تاسو کې راتلونکی کال دومره همت پیدا شي، چې دغه هڅې هم سرته ورسوئ او پر تړون عمل وکړئ.

د یادونې وړ ده، زه پر دې پوهېږم چې ډېر لوستونکي به د تړون د درېیم ځلي هڅو له امله په شا شي، دا له دې امله چې موږ له هغو سزاګانو څخه وېرېږو، چې پر ځان مو لازمې کړي دي، که خبره د وېرې وي، نو بیا ولې له هغو سزاګانو ونه وېرېږو، چې د الله تعالی د حکم د نافرمانۍ په صورت کې زموږ لپاره ټاکلي شوي دي.

- **څلورم ځل هڅې، لومړۍ برخه:**

په دې برخه کې لومړۍ او دویمه شمېره اسانه ده، یوازې له شمېرې څخه کرښه تاوه کړئ او خالي خالي پرې ډکې کړئ. موږ او تاسو خو ډېر پلانونه جوړوو، خو پلانونه په هغه صورت کې کامیابېږي، چې کله ورته وخت وټاکل شي او کله چې په ټاکلي وخت پلان سرته ونه رسېږي، بیا خپل ځان ته سزا ورکړو، په دې توګه کولی شو، چې خپل پلانونه پر مخ یوسو.

- **پنځم ځل هڅې:**

دا برخه خو ډېره اسانه ده، په دې کې یوازې خپل نوم، نننۍ نېټه او یو کال وروستنۍ نېټه ترې ولیکئ، په پای کې یې لاسلیک کړئ.

یادونه: دا تړون له قران کریم او احادیثو څخه نه دی اخیستل شوی، دا د اسلام برخه هم نه ده، بلکې دا یوازې له نفس سره تړون لاسلیکول دي، دا پلان د هغه چا لپاره دی، چې د دیني کارونو لپاره پلانونه جوړوي، خو په عمل کې هیڅ هم نه کوي، دا تړون به یې په عملي کار کې مرستندویه وګرځي. د ښې مسلمانۍ لپاره لازمه نه ده، چې پورته ذکر شوی تړون لاسلیک کړای شي او نه دا چې د تړون لاسلیکول به تاسو د یو غوره مسلمان په توګه خلکو ته ورو پېژني.

## د ترون بشپړه نمونه

- **لومړنۍ هڅې په تدریجي توګه د ګناهونو کموالی**
- **لومړۍ برخه:**
- تر ټولو غټې ګناهونه، چې زه یې په ژوند کې کوم، دا دي:

(۱) د ورځې پنځه وخته لمونځ نه ادا کول.

(۲) پر انټرنېټ فاحش انځورونه او ویډیوګانې کتل.

(۳) د نشه یي توکو استعمال.

- له پورته ذکر شوو ګناهونو څخه له هره ورځ پنځه وخته لمونځ نه اداکولو څخه خو سمدستي توبه وباسم او پاتې دوه ګناهونه په کال کې په تدریجي ډول پرېږدم.
- **دویمه برخه: متبادل اعمال**
- زما ښایسته او نېک متبادل اعمال دا دي:

(۱) پرله پسې د ټېنس لوبه کول (زه له پخوا څخه د ټېنس د لوبې مینه وال وم، خو وخت به راته په لاس نه راته).

(۲) له ملګرو سره په نږدې یتیم خانه کې په رضاکارانه ډول کار کول.

(۳) هره میاشت له کورنۍ سره د تفریح لپاره تلل.

- له ما څخه چې کوم ګناهونه شوي یا په راتلونکي کې راڅخه کېږي، ژمنه کوم چې هغه به په څو طریقو پرېږدم، لکه هره ورځ د (مازدیګر) لمانځه نه مخکې او وروسته سل ځلې سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ وظیفه کوم او وروسته به ترې توبه وباسم.

- **دویم ځل هڅې: په تدریجي توګه په نېکو اعمالو کې زیاتوالی**
- **لومړۍ برخه: نېک عملونه:**
- زه به ورځ له لاندې دوه نېکو عملونو څخه پیلوم:

(۱) هره ورځ پنځه وخته لمونځ.

(۲) د لمانځه لپاره جومات ته تلل.

- راتلونکی کال به جنت ته د داخلېدو لپاره له درېو اسانه طریقو څخه شروع کوم، په تړون کې چې هره یوه انتخابوئ:
- **درېیم ځل هڅې:**
- **لومړۍ برخه: سزا**
- که د راتلونکي کال تر اخره پورې مې د تړون شرطونه پوره نه کړل، نو زه به الله تعالی ته له توبې پرته لاندې سزاګانې پر ځان منم:

(۱) لس زره (۱۰۰۰۰) افغانۍ به صدقه کوم.

(۲) لس (۱۰) رکعته نفل لمونځ به ادا کوم.

(۳) د روژې د میاشتې په اخرو لسو ورځو کې به اعتکاف ته کېنم.

- **څلورم ځل هڅې: قراني ایتونه**
- **لومړۍ برخه: تلاوت**
- زه مثلاً شاهد عمران دغه تړون لاسلیکوم او دا ژمنه کوم، چې په هرو درېو، شپږو، نهو یا دولسو میاشتو کې به یو ځل قران کریم له ترجمې سره تلاوت کوم او دا کار به د تړون له لاسلیکولو وروسته سمدستي شروع کوم او ختم ته به یې هم پلان په پام کې نیسم.
- زه مثلاً شاهد عمران داسې پلان جوړوم، چې هره ورځ په کې لس، پنځلس یا شل دقیقې د قران کریم تلاوت وکړم، د امکان په صورت کې به په لاندې موده کې د قران کریم ختم کوم:

له ۰۰ : ٦ بجو څخه تر ٦:١٥ بجو پورې

- **پنځم ځل هڅې: تړون لاسلیک او ساتل**

له ننني نېټې (۱۰/ ۱۰ / ۱۳۹۶) څخه تر راتلونکي کال (۱۱/ ۱۰ / ۱۳۹۶) نېټې پورې ان شاء الله ټولې ژمنې پوره کوم او په ترسره کولو کې به یې د خپل وس په اندازه هڅې کوم، همدارنګه په هر ځای کې به د اسلام او مسلمانانو درناوی کوم او خیرخواهي به یې لټوم.

**لاسلیک**............... (الله تعالی مو مل شه!)

## د بریالیتوب په لور

ایا تاسو پوهیږئ، چې په دې انقلابي پلان کې تاسو کوم ځای ته رسیدلي یاستئ؟ اوس تاسو له لیکلي تړون او مسولیتونو سره د متحرکو اشخاصو په کتار کې ولاړ یاستئ

پوښتنه: دا چې تاسو د یو غوره او متحرک شخص په کتاب کې ولاړ یاست، نو اوس ستاسو او جنت ته منځ کوم شی خنډ واقع شوی؟

ځواب: یوازې شیطان د دواړو تر منځ خنډ واقع شوی

ثبوت یې د قران کریم دا ایت دی

﴿ وَ لَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝ ﴾ .( زحرف: ۶۲)

ژباړه: داسې دې نه وي چې شیطان تاسو له هغې نه منع کړي، چې هغه ستاسې ښکاره دښمن دی

پوښتنه: څنگه شیطان ستاسو او جنت تر منځ خنډ گرځي؟

ځواب: دا څکه چې ورو ورو ستاسو عقیده کمزورې کوي او ارادې مو له قوت څخه ساتي

پوښتنه: په جنتیانو او دوزخیانو کې څه توپیر دی؟

ځواب: توپیر یې په ارادي قوتونو کې دی، نور معلومات به یې په راتلونکو مخونو کې ولولئ، چې ما د ارادو پر قوت لیکلی دی، چې موخه ترې د خپلو ارادو پیاوړتیا ده

## د بریالیتوب او ناکامۍ ترمنځ توپیر

**پوښتنه:** د دنیا په ناکام او بریالي کې څه توپیر دی؟
**ځواب:** توپیر یې دا دی، چې کله بریالي خلک په کوم کار پیل کوي، نو د بشپړېدو لپاره یې ارادې مضبوطې ساتي، په خپل بدن کې د عمل د تکمیلېدو ځواکویني.
ناکامه خلک خو یا له ناکامۍ څخه دومره وېرېږي، چې د خپل عمل لپاره په کې اخلاص نه وي یا دا چې سست وي او یوازې خوبونه ویني، هېڅ یې هم له لاسه نه کېږي. په ژوند کې د بریالیتوب او ناکامۍ پوره وضاحت څه اسانه کار نه دی.
زه درته د دوه کسانو خبرې مخې ته ږدم، لومړنی انسان د ځمکې پر مخ د بریالیو خلکو په لست کې شامل دی، هغه وایي:
((دا خبره تل یاده ساتئ، چې د بریالیتوب لپاره تر هر څه مخکې ستاسو عزم د پر ارزښتناک او مهم دی)). (ابراهم لنکن)
دویم کس وایي:
((د بریالیو خلکو او نورو تر منځ توپیر په طاقت او علم کې نه، بلکې د ارادي ځواکونو په نشتوالي کې نغښتی دی)). (ونستهنټ تي لومبارډي)
یو وخت داسې هم و، چې ژوند مې له ناکامیو سره مخامخ ترسترګو کېده، پر ځای د دې چې ټوله پړه پر ځان واچوم، د نړۍ ټول شیان مې په دې کار کې پړه وبلل. وروسته مې داسې احساس وکړ چې د نړۍ پر شیانو له پړې سره نه شم کولی چې زما په ژوند کې بدلون راشي، زه دې فکر ته اړ شوم، چې په ما او (بل ګېټس) کې چې د نړۍ د مایکروسافټ پروګرام بنسټ کړ، جوړوونکی او د امریکا تر ټولو

شتمن شخص دی، چې څومره توپیر دی، د هغې لامل دا نه دی، چې هغه د ستر همت او حوصلې سره پیدا شوی و، بلکې لامل یې دا دی چې هغه له ځان سره په ژوند کې پرېکړه کړې وه، چې یو مثبت بدلون به راولم، د همدې مثبت بدلون د راوستلو په لړ کې یې ارادي ځواک هم پیاوړی و، اوس پوښتنه دا پیدا کېږي، چې

**پوښتنه**: د بریالي او ناکامه ژوند توپیر په څه شي کې پروت دی؟

**ځواب**: د دې باوري ځواب دا دی، چې څوک په ځان کې ارادي قوت پیدا کړي، بس د همدې شخص ژوند د بریالیتوب په لور ځي

# د پاملرنې وړ ټکی

دا مضمون مې ډېره موده مخکې لیکلی و، کله چې مې د خپل مضمون دغه وړه شان جمله ولوسته، نو ډېر خپه شو:
((په ژوند کې د بریالیتوب او ناکامۍ پوره وضاحت څه اسانه کار نه دی.زه درته د دوه کسانو خبرې مخې ته ږدم، لومړنی انسان د ځمکې پر مخ د بریالیو خلکو په لست کې شامل دی، هغه وایي:
((دا خبره تل یاده ساتئ، چې د بریالیتوب لپاره تر هر څه مخکې ستاسو عزم ډېر ارزښتناک او مهم دی)).
له دې وروسته مې د ابراهام لنکن حواله هم ورکړه، اوس داسې احساسوم، چې ابراهام لنکن یوازې په لوېدیځو هېوادونو کې غوره شخصیت دی، یوازې کافر یې خپل مفکر او د ژوند لپاره نمونه بولي.
زه په خپله لیکنه له دې امله خپه شوم، چې دغه بریالي خلک د انسانیت له مخې کامل نه دي، د هغه چا په مقابل کې یې هېڅ حیثیت نه شته، چې الله تعالی موږ او تاسو ته د غوره شخصیت په نوم رالېږلی و.
له خپلې خبرې څخه مې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد دی، چې له هر لحاظه مکمل انسان و، کله چې مې د نمونې کلمه ذهن ته راولوېده، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم اسوه حسنه مې مخې ته راغله. اوس پوښتنه دا ده، سره له دې چې دغه اسوه حسنه د مسلمانانو لپاره یوه نمونه ده، خو بیا هم ولې یې پیروان دومره په بدحالت کې راګېر دي؟په غالب ګمان ځواب یې دا دی چې

مسلمانانو د الله تعالی له لوري د مبعوث شوي نمونه یې پیغمبر پر ځای فلمونه، موسیقي، د لوبغاړو پېښې کول او د هغوی په شان ځان جوړول خپله نمونه ګرځولې ده، په دې اړه یوازې په سوچ باندې اکتفا مه کوئ، عملي هم څه وکړئ.

اوس به مو د ارادي قوت ارزښت پېژندلی وي، اوس راځئ چې یوه بله پوښتنه ځواب کړو. پوښتنه دا ده چې مسلمان څنګه کولی شي، چې ارادي قوت ترلاسه کړي؟ ځواب یې اسانه دی او هغه دا چې کله پر الله تعالی د زړه له کومي باور ولري، نو په دې صورت کې یې ارادي قوت په برخه کېږي، څومره چې یې ایمان پیاوړی وي، هومره یې ارادي قوت هم پیاوړی وي. د دې لپاره چې پر الله تعالی مو په ایمان کې نور هم زیاتوالی راشي، لاندې اسانه طریقې درته ذکر کوم:

- له پخواني حالت څخه د الله تعالی په ذکر کې زیاتوالی راولئ، نفلونه ادا کړئ او نفلي روژې ونیسئ.
- په نېکو کارونو کې زیاتوالی راولئ، هغه که واړه نېک کارونه وي او که لوی.
- په ګناهونو کې کموالی راولئ، له پخوانیو ګناهونو څخه توبه وباسئ.

کله چې یو ځل ارادي قوت څخه مالامال شئ، نو بیا پر دې خبرو عمل کوم ستونزمن کار نه دی.

# د جنت د ترلاسه کولو اسانه لارې

لاندې هره يوه طريقه درته د جنت ضمانت درکوي، په دې شرط چې په دوامداره توګه پرې عمل وکړئ:

**لومړنۍ اسانه طريقه:**

الله تعالی يې په اړه په قران کريم کې فرمايي:

﴿إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَ نُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا﴾. (النساء: ۳۱)

ژباړه: که تاسو له هغو سترو ګناهونو څخه ډډه وکړئ، چې ورڅخه منع شوي ياستئ؛ نو ستاسو واړه واړه ګناهونه به مونږ له حسابه وغورځوو او تاسې به د عزت ځای ته ننباسو.

يعنې که موږ کبيره ګناهونه پرېږدو، کولی شو چې په اسانۍ جنت ته لاړ شو. اوس پوښتنه دا ده چې کبيره ګناهونه کوم دي؟ له نېکه مرغه چې يادونه يې په لاندې حديث کې شوې ده. له هغې او داسې نورو کبيره ګناهونو څخه اجتناب وکړئ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

اِجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوْبِقَاتِ!» قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ الله، وَمَا هُنَّ؟ قَالَ : اَلشِّرْكُ بِالله، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِيْ حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ، وَأَكْلُ

الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيْمِ ، وَالتَّوَلِّيْ يَوْمَ الزَّحْفِ ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ.[۱]

ژباړه: له اووه هلاکوونکو شیانو ځان وژغورئ! چا وویل: ای د الله رسوله! هغه کوم شیان دي؟ ورته یې وفرمایل: ۱- له الله تعالی سره شریک جوړول، ۲- جادو کول، ۳- د الله تعالی حرام کړی شخص وژل مګر په حقه سره (د اسلامي قانون له مخې)، ۴- سود خوړل، ۵- د یتیم مال خوړل، ۶- د جنګ په ورځ د جګړې له ډګر څخه تېښته، ۷- پاکلمنې ښځې پورې تهمت تړل.

**دویمه اسانه طریقه:**

له فرض لمانځه نه وروسته ایت الکرسي لوستل.[۲]

**درېیمه اسانه طریقه:**

له اوداسه وروسته دوه رکعته نفل لمونځ ادا کول.[۳]

**څلورمه اسانه طریقه:**

د مازدیګر او سهار لمونځونه په جومات کې ادا کول.[۴]

**پنځمه اسانه طریقه:**

د (لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ) وظیفه کول.[۵]

---

۱ - صحیح البخاري: ۲۷٦٦
۲ - السنن الکبریٰ للنسایي، حدیث: ۹۹۲۸
۳ - صحیح مسلم، حدیث: ۲۲٦، سنن ابي داود، حدیث: ۱۰٦، سنن ابن ماجه، حدیث: ۲۸۵
٤ - صحیح مسلم، حدیث: ٦۳۵
۵ - سنن ابن ماجه، حدیث: ۳۷۸۴

**شپږمه اسانه طریقه:**

د سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ، وظیفه کول.(۱)

**اوومه اسانه طریقه:**

د ماسپښین له لمانځه مخکې څلور رکعته نفل ادا کول.(۲)

**اتمه اسانه طریقه:**

د بیت الله شریف حج کول.(۳)

**نهمه اسانه طریقه:**

اذان ته ځواب ورکول.(۴)

## د پاملرنې وړ ټکی

د جنت د ترلاسه کولو لپاره چې مو کومې اسانه طریقې ولوستې، له هغې وروسته به مو ضرور حس کړي وي، چې الله تعالی زموږ جنت ته د تللو لپاره ډېرې اسانې لارې پیدا کړي دي، نه دا چې کومې سختې لارې یې پیدا کړي دي، موږ خپله ځان له جنت ته ایساروو، ایا داسې نه ده؟

---

۱- جامع الترمذي، حدیث: ۳۴۶۴

۲- جامع الترمذي، حدیث: ۴۲۸

۳- صحیح البخاري، حدیث: ۱۷۷۳، صحیح مسلم، حدیث: ۱۳۴۹

٤- سنن النسایي، حدیث: ٦٧٥، حسن.

## ضروري خبره!

اګر چې په هغو احاديثو کې چې دغه اسانه طريقې يې په کې ښودلي دي، په ډاګه ويل شوي چې د دې اسانه طريقو له لارې کولی شئ چې جنت ته لاړ شئ، خو بيا هم اخري پرېکړه د الله تعالی لاس کې ده. زه د دې اسانه لارو څخه نه شم کولی ، چې ستاسو مسووليت په غاړه واخلم او دا درته په ذمه واری ووايم، چې له دې لارو څخه به جنت ته ننوځئ. دغه اسانه طريقې په ښکاره توګه تاسو ته دا حق نه شي درکولی، چې يا خو له ګناهونو څخه په بشپړه توګه لاس واخلئ يا هم نېکو اعمالو ته لاسرسی ولرئ. بايد په ياد مو وي، چې د قيامت په ورځ د انسان سزا او نېکه بدله د هغه ټولو عملونو پورې تړلې ده، نه دا چې د څو منتخبو اعمالو په ترسره کولو کې به څوک جنت ته لاړ شي ؛ له الله تعالی څخه ډېر بل څوک عادل نه شته، هغه د غوره فيصلو خاوند دی.

# اخري خبره

د دې لپاره چې جنت ته د تلو لپاره خپله اسانه طريقه پيدا کړئ، يوه دا ده چې لومړی په اسانه طريقو په پابندۍ سره عمل وکړئ، سربېره پر دې کولی شئ چې په ډېرو اسانو طريقو شخه يې پيل کړئ، لکه دويمه، څلورمه، شپږمه، اوومه او اتمه طريقه. يو څه وکړئ، خو له دې اعمالو لاس مه اخلئ او مه يې ضايع کوئ. لاندې درته څو نورې اسانه طريقې هم ښايم او وروسته د جنتيانو پر ځانګړنو دغه موضوع رانغاړم:

**د ګناهونو د مغفرت لپاره اسانه طريقه:** هره ورځ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ لوستل[1]، هره ورځ له اويا (۷۰) شخه ډېر ځلې استغفار (اَسْتَغْفِرُ اللهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ) ويل[2]

**د قبر له عذاب څخه د ژغورنې طريقه:** سهار او ماښام، يعنې د سهار او ماښام له لمانځه وروسته سورت الملک لوستل

**د دوزخ له عذاب څخه د ژغورنې اسانه طريقه:** د سهار او ماښام له لمانځه وروسته دا دعاء لوستل: اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ.

ای الله! ما د دوزخ له اور څخه وژغوره!

---

۱ - صحيح البخاري: ۷| ۱۶۸، وصحيح مسلم: ۴|۲۰۷.

۲ - فتح الباري: ۱۱|۱۰۱، وصحيح مسلم: ۴|۲۰۷.

**لد خلکو جنت ته د بوتللو اسانه طريقه: د قران کريم حفظ کول.**

**د جنتيانو ځانګړتياوې:**

- په يوازې او ګوښه ځای کې له الله تعالی څخه وېرېدل.
- خلکو ته ښښنه کول.
- د خپلوۍ پالل او له ګاونډيانو سره په مناسب عزت او ښو اخلاقو سره مخ کېدل.

# درېیمه برخه
# د دوزخ له عذاب څخه د ژغورنې طریقه

- د شیطان فکر
- د لوی هلاکت د رامنځ ته کېدو لپاره شیطاني وسله
- له شیطان څخه د ژغورنې طریقې
- د دوزخ انځور وړاندې کوونکي قراني ایتونه
- پر ګناهونو د پښېمانه کېدوه غوره تګلاره
- څو ګټور نصیحتونه

﴿كَذَٰلِكَ الْعَذَابُ ۖ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾﴾.
(القلم: ۳۳)

ژباړه: عذاب همداسې وي، او د اخرت عذاب له دې نه هم ډېر لوی دی، کاشکې دوی په دې پوهېدای.

# د شیطان فکر

الله تعالی په قران کریم کې فرمايي:

﴿قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝٨٢﴾. (ص: ۸۲)

ژباړه: هغه (شیطان) وویل: ستا پر عزت قسم! زه به دوی ټول ګمراه کړم.

دا ایت موږ پر دې باوري کوي، چې شیطان زموږ ښکاره دښمن دی، هغه په دې هڅه کې دی، چې له ځان سره موږ هم دوزخ ته بوځي. مخکې له دې چې د شیطان له دسیسو څخه په امن شو، باید پر دې پوه شو چې هغه موږ څنګه کنټرولوي، بیاورته داسې اغېزمنې لارې چارې پیدا کړو، چې په تدریجي ډول د هغه له کنټرول څخه ځان خلاص کړو، خو مخکې له دې چې په دې رابطه خبره وکړو، باید خپله د الله تعالی له وینا څخه د شیطان داستان واورو:

﴿إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِّن طِينٍ ۝٧١ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ ۝٧٢ فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ۝٧٣ إِلَّا إِبْلِيسَ اسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ۝٧٤ قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ الْعَالِينَ ۝٧٥ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ۝٧٦ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ۝٧٧ وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ۝٧٨ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ۝٧٩ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ۝٨٠ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ۝٨١ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝٨٢

إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿۸۳﴾ قَالَ فَالْحَقُّ وَ الْحَقَّ أَقُولُ ﴿۸۴﴾ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَ مِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۸۵﴾. (ص: ۷۱ - ۸۵)

ژباړه: کله چې ستا رب ملایکو ته وویل ((زه له ختې نه د بشر پیداکوونکی یم، بیا کله چې زه هغه په بشپړه توګه جوړ کړم او په هغه کې خپل روح پو کړم، نو تاسو د هغه په وړاندې په سجده پریوځئ. له دغه حکم سره سم ملایکې ټولې په سجده پریوتلې، خو ابلیس خپلې لویی ته غاوره شو او هغه له کافرانو څخه وګرځېد. رب وفرمایل ((ای ابلیسه! ته څه شي هغه چاته له سجدې کولو نه منع کړې، چې ما هغه په خپلو دواړو لاسونو (علم او قدرت) سره جوړ کړی دی؟ ایا ته تکبر کوې که د لویې درجې له خاوند انو څخه یې))؟ هغه ځواب ورکړ ((زه له هغه نه غوره یم، تا زه له اوره پیداکړی یم او هغه دې له ختې نه پیدا کړی دی )). وېې فرمایل: ((ښه نو له دې ځایه ووځه، ته رټل شوی یې او پر تا باندې د جزا تر ورځې پورې زما لعنت دی )). هغه وویل چې ((ای زما ربه! چې دا خبره ده نو بیا ماته تر هغه وخت پورې مهلت راکړه چې دوی دویم ځل را ژوندي کولی شي)) وېې فرمایل ((ښه ده تا ته تر هغې ورځې پورې مهلت دی. چې د هغې نېټه ماته معلومه ده. هغه وویل، ستا پر عزت قسم زه به دوی ټول ګمراه کړم. پرته ستا له هغو بندګانو څخه چې تا هغوی د دوی له جملې نه غوره کړې دي. وېې فرمایل (( نو حق دادی او زه همداحق وایم. چې زه به دوزخ له تا او هغو ټولو کسانو څخه ډک کړم چې له دغو انسانانو نه ستا پیروي وکړي)).

اوس به تاسو پوه شوي یاستئ، چې شیطان څنګه پیدا شوی دی، څنګه خپل کار کوي، هغه څنګه کولی شي چې موږ د خپلو خواهشاتو غلامان کړي؟ که تاسو په پورتنیو ایتونو څخه داسې جوتیږي، چې شیطان څومره کولی شي، موږ له ځان سره دوزخ ته بوځي. دا چې شیطان څنګه خپل کار پر مخ وړي، نو د وضاحت لپاره یې د کتاب د لومړۍ برخې حواله درکوم:

((شیطان پرې دې پوهیږي، چې پورتنی ذکر شوی شخص خو په اسانۍ سره کبیره ګناه نه ترسره کوي، نو شیطان تل هڅه کوي او پر دې شخص صغیره ګناهونه ترسره کوي او له دې سره یې څه نا څه مینه هم پیدا کوي، تر دې چې په مسلسل ډول ترې دغه صغیره ګناهونه صادر کړي. په همدې کې دغه شخص ته واړه او صغیره ګناهونه هیڅ هم نه ښکاري او نه ورته کوم ارزښت ورکوي، دغه شخص په بې پروایي سره د صغیره ګناهونو مرتکب کیږي، تر دې چې شیطان یې کبیره ګناهونو ته ولمسوي، شیطان ورته دغه کبیره ګناه د صغیره ګناه په شان ښکاره کړي، یعنې دا چې څنګه چې مخکې صغیره ګناهونه په بې پروایي سره ترسره کول، اوس دغه کبیره ګناه هم کمزوری شی وګڼي او مرتکب یې شي. شیطان خپلې دې پلمې ته دوام ورکوي، تر دې چې په مومن بنده کبیره ګناه ترسره کړي، یو وخت داسې راشي، چې شیطان همدا انسان په خپله عقیده شکمن کړي. که لاندې پوښتنې ستاسو ذهن ته راشي یا له مخکې مو ذهن ته راغلي وي، نو پوه شئ چې شیطان مو په دماغو کې د ځان لپاره استوګنځی جوړ کړی دی)).

د شيطان لپاره غوره لار، چې موږ پرې اسانه دوزخ ته بوځي، دا ده چې د ګناهونو ارتکاب راته اسانه کړي، ځينې ايمانداره مسلمانان هم چې کله د ګناهونو ارتکاب کوي، نو د دليل لپاره به يو څه او بل څه وايي، چې شيطان ورسره په دې کې مرسته کوي. شيطان چې د ګناه د ارتکاب لپاره موږ ته څه شی رامخې ته کوي، هغه په ظاهري توګه خو ډېر معقول جواز ښکاري، ما د شيطان د بدترينو جوازونو يو لړليک تيار کړی او هغې ته مې د (لوی هلاکت رامنځ ته لپاره شيطاني وسله) نوم غوره کړی دی. دا د هغو فکرونو فهرست دی، چې کله موږ ګناه کوو، په هغې وخت کې زموږ زړه او دماغو ته کوزېږي، دې ته شيطاني وسوسه هم ويل کېږي، کله چې د دغه فهرست شيان په خپلو دماغو کې ومومئ، نو پوه شئ چې د شيطان تر کنترول لاندې راغلي ياستئ. اوس مو شيطان وسوسو ته پاملرنه رااړوم:

# د لوی هلاکت رامنځ ته کېدو لپاره شیطاني وسله

(Shaitan,s weapons of Mass destrution)

- د ژوند په همدې څو کلونو کې مې ځواني ده، له دې څخه باید خوند واخلم، د الله تعالی د عبادت لپاره ډېر عمر لا پاتې دی....
- اوس خو ځوان یم، که ګناه وکړم، نو کله چې مې خوښه شي، توبه به وباسم (دغه خبرې مو ایمان ته داسې زیان رسوي، لکه اتوم بم).
- دا کار خو هر څوک کوي، مړه دومره ګناه خو به نه وي...
- زه خو ډېر وخت وشو، چې دا کار کوم، اوس یې نه شم پرېښودای، وروسته به ورسره ګورو.
- ژمنه کوم، چې یو ځل یې وکړم، نو بیا یې هېڅکله هم نه کوم.
- که له ځان څخه سم مسلمان جوړوې، نو عمر یې لنډ وي، زه څه عمر په دې کې او څه په هغې کې تېروم، یعنې خپلې شپې سبا کوم.
- ځوان باید داسې له عصري وخت پرته ژوند تېر نه کړي.
- زه یې هېڅ پروا نه ساتم.

په دې کې ځینې خبرې داسې دي، چې عام خلک یې نېکانو ته کوي، دا د دې لپاره چې دوی کوم ګناهونه کوي، نېکان یې ترې منع نه کړي او حوصله یې نوره هم لوړه کړي، زه خو وایم چې څوک نېکانو ته دا ډول خبرې کوي، هغه خپله شیطان دی، دې خبرې پټولو ته کوم ضرورت نه شته.

# اخري خبره

شیطان د مسلمانانو ښکاره دښمن دی، که څوک له دې دښمن سره د جنګ کولو وړتیا او طاقت لري، نو پوه دې شي چې پورتنۍ خبرې دې د شیطان پلمې او دسیسې وګڼي.

شیطان د ژوند په هره شیبه کې پر انسان برید کوي، کله چې انسان غافل او بې پروا وي، شیطان یې همداسې په غفلت کې ساتي، کله چې سست وي او په عباداتو کې له سستۍ کار اخلي، شیطان یې دې سستوالي ته نور هم لمسوي او مغروره کوي یې. شیطان داسې پلمې جوړوي، چې له بهانو لټولو واخله تر ځینې نېکو کارونو پورې یې پر انسان کوي، څو د همدې نېک کار وروسته پرې داسې بد عمل ترسره کړي، چې هغه نېک عمل یې هم له خاورو سره خاورې شي. د غافله انسان لپاره خپله بې پروایي ښایسته کوي، تر دې پورې چې روا درته ناروا او ناروا درته روا کوي.

# له شیطان څخه د ژغورنې طریقې

**الله تعالی فرمایي:**

﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿٩٨﴾ اِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ سُلْطٰنٌ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٩٩﴾ اِنَّمَا سُلْطٰنُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يَتَوَلَّوْنَهٗ وَ الَّذِيْنَ هُمْ بِهٖ مُشْرِكُوْنَ ﴿١٠٠﴾﴾. (النحل: ۹۸-۱۰۰)

**ژباړه:** نو کله چې ته په قران لوستلو پیل وکړې، نو له رټل شوي شیطان نه د الله پناه وغواړه. د هغه (شیطان) پر هغو خلکو یې تسلط نه وي، چې ایمان یې راوړی وي او پر خپل رب توکل کوي. د هغه زور خو پر همغو خلکو رسېږي، چې هغه خپل سرپرست ګرځوي او د هغه په لمسونه شرک کوي.

دا چې د شیطان له پلمو مخکې باید څه وکړو، لاندې ایت ته یو ځل بیا فکر وکړئ:

﴿وَ اِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۚ﴾. (الاعراف: ۲۰۰)

**ژباړه:** که کله دې شیطان ولمسوي، نو د الله تعالی څخه پناه وغواړه.

**پوښتنه: له الله تعالی څخه څنګه پناه وغوښتل شي؟**

**ځواب:** له نورو خبرو پرته کولی شئ، چې له الله تعالی څخه د ذکر ، تلاوت او داسې نورو نېکو اعمالو په وسیله پناه وغواړئ.

په دې برخه کې چې زه څه غواړم، هغه دا دي، څو له تاسو سره مرسته وکړم، چې د شیطان له پلمو څخه ځان خوندي وساتئ. له دې څخه به نور څه ښه وي چې د (لوی هلاکت د ترسره کېدو لپاره شیطاني

وسلې، څخه درته د خلاصون لار وښایم. لاندې مضمون مې د خپل ځان د مرستې لپاره لیکلی و، دا د هغو ورځو شپو خبره ده، چې کله شیطان پر ما دګناهونو بمباري کوله، زمامطلب د شیطان بله وسله ده او هغه دا ده:

((زه اوس لا زلمی یم، د دې ګناهونو ارتکاب کولی شم، بیا مې چې کله خوښه شي، توبه به وباسم)). دا مضمون به له تاسو سره د شیطاني وسلې څخه په ژغورنه کې مرسته وکړي. له ځان سره ژمنه و کړئ چې دغه مضمون به د زړه له پاسه نه لولئ، بلکې په غور به ورته کېنئ او د عمل په نوم به یې لولئ. په دې مضمون کې هغه شی ولټوئ، چې د شیطان له وسلې څخه په کې خوندي کېږئ او د هغه وسله په کې له کاره ولوېږي. ما په دې مضمون کې ځینې بدلونونه راوستي دي، چې د کتاب له سیاق او سباق سره ورته والی ولري. له دې خصلت څخه څنګه ځان وژغورو، چې ((زه اوس لا زلمی یم، د دې ګناهونو ارتکاب کولی شم، بیا مې چې کله خوښه شي، توبه به وباسم)).

الله تعالی د بنده ګانو د ازمېښت لپاره خواهشات هم پیدا کړي دي، دغه خواهشات یې په ډېر ښایسته انداز برابر کړي، تر دې چې د انسان د مجازي خوشحالۍ سبب هم ګرځي. د صحیح عقیدې مسلمان تل په دې پوهېږي، چې کله کومه ګناه کوي، وخت یې ورته معلوم وي او د وخت مطابق ګناه هم پېژني، خو له یوې لارې هڅه کوي چې د خپلو ګناهونو لپاره د جواز سند پیدا کړي پر دې ځان پوه کړئ چې که ګناه هر وخت کېږي، د اسلام له خوا یې هېڅ جواز نه شته، که هغه درته په هماغه وخت کې روا هم ښکاري. یو زلمی هلک

چې عمر یې د (۱۳) او (۱۹) کلونو په منځ کې دی، دا فکر کوي چې په دې شېبو کې ورته ګناه هېڅ زیان نه شي رسولی. دغه زلمی هم له هغو خواهشاتو سره مخ کېږي، چې مخکې مو ورته اشاره وکړه. په لومړي وخت کې هغه د الله تعالی او ګناه تر منځ په انتخاب کې بې پروا وي، هغه په دې هڅه کې وي چې څنګه وکولی شي چې ذهني ارامتیا پیدا کړي، خو شیطان له دې موقع څخه په استفادې سره هغه خبره بیا ورپه یادوي او سکون ترې اخلي:

((زه اوس لا زلمی یم، د دې ګناهونو ارتکاب کولی شم، بیا مې چې کله خوښه شي، توبه به وباسم)).

زما په ذهن کې د دې فکر مثال د مصر فرعون ښکاري، هغه هم دې ته ورته فکر درلود چې کله مرګ رانږدې شو، نو توبه به وباسي، خو اوس موږ پر دې پوهېږو چې هغه په کومه طریقه مړ شو. په قران کریم کې یې یادونه شوې، چې هغه د ډوبېدو په وخت کې د توبې هڅه کړې وه.

اوس مې لږ پرېږدئ چې فکر وکړم، ایا تاسو چې شیطان کوم فکر ته اړیاسي، هغه څه ډول فکر دی، یا تاسو څه فکر کوئ!! ((بې شکه دا به مو په ذهن کې ګرځي، چې زه خو فرعون نه یم، چې دهغه په شان مې لوی ګناهونه کړي وي، له ځان څخه مې الله تعالی جوړ کړی وي، خلک مې خپل عبادت ته رابللي وي، بې ځایه قتلونه مې کړي وي، خلک مې له خپل هېواده کوچېدو ته مجبوره کړي وي، زه خو دومره سپین ږیری نه یم، زه خو په سمندر کې نه ډوبېږم، زه له مرګ څخه مخکې توبه وباسم، ماته به خپل ګناهونه وبښل شي)).

اوس تاسو له لږ قیاس څخه کار واخلئ، چې څه به وشي... ښايي د فرعون په ذهن کې هم داسې فکرونه تله راتله، که تاسو باور کوئ او که نه، حقایق خپله خبرې کوي. دغه خصلت ډېر عیبجن خصلت دی، زیاتره مسلمانان هم همدا ....... زه زلمی یم..... خصلت خپلوي او پر دې هم پوهېږي چې دغه تګلاره ډېره عیبجنه ده. اوس پوښتنه دا پیدا کېږي، چې موږ څنګه کولی شو چې په دې تګلاره کې بدلون راولو؟

د دې تګلارې یوازینۍ طریقه دا ده چې د دې منفي تګلارې په اخري انجام غور وکړئ، یعنې د دوزخ عذاب!

په راتلونکو مخونو کې کولی شئ چې د دوزخ په اړه تفصیلي معلومات ولولئ، خو زما په اند یوازې دومره کافي نه ده. کله چې مو دغه ناوړه فکر ذهن ته راغی، نو په سمدستي او بیړه ځان له دې خبر کړئ چې زما د دې ناوړه فکر انجام څه شی دی، په خپل ضمیر کې بحث او مباحثه پیل کړئ او هغه دلایل په کې ولټوئ چې د شیطان وسله له اغېزې وباسي او له تاسو سره په دې کې مرسته وکړي.

د کتاب په دې برخه کې د قران کریم اخري سورت حواله درکوم او د دې برخې خبره پرې رانغاړم، په دې سورت کې موږ ته ویل شوي چې باید د شیطان له وسوسو څخه الله تعالی ته پناه یوسو:

﴿ قُلۡ اَعُوۡذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ۝۱ مَلِكِ النَّاسِ ۙ۝۲ اِلٰهِ النَّاسِ ۙ۝۳ مِنۡ شَرِّ الۡوَسۡوَاسِ ۙ۬ الۡخَنَّاسِ ۙ۝۴ الَّذِىۡ يُوَسۡوِسُ فِىۡ صُدُوۡرِ النَّاسِ ۙ۝۵ مِنَ الۡجِنَّةِ وَ النَّاسِ ۝۶ ﴾

ژباړه: ووایه زه پناه وروړم د انسانانو رب ته. د انسانانو پاچا ته، د انسانانو حقيقي معبود ته، د هغه وسوسه اچوونکي له شر څخه چې په وارو وارو ځي راځي، هغه چې د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي، که هغه له پېریانو څخه وي که له انسانانو څخه.

## د دوزخ انځور وړاندې کوونکې ایتونه

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَ الْمُنٰفِقٰتِ وَ الْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴾. (التوبه: ٦٨)

ژباړه: د دې منافقانو نارینه و او ښځو او د کافرانو لپاره الله تعالی د دوزخ د اور وعده کړې ده، چې په هغه کې به دوی تل اوسېږي، هماغه د دوی لپاره مناسب دی. پر دوی الله تعالی لعنت کړی دی او د دوی لپاره نه ختمېدونکی عذاب دی.

کله چې لاندې ایتونه تلاوت کوئ، نو ذهن ته به مو د دوزخ واضح انځور وړاندې کېږي، کله هم چې د کومې ګناه ارتکاب ته لمسېږئ، نو دغه ایتونه تلاوت کوئ، په بدن کې مو به مثبت بدلون راځي:

﴿ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ۝ اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَ اَزْوَاجَهُمْ وَ مَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ۝ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ۝ ﴾. (الصافات: ۲۱ – ۲۳)

ژباړه: دا دهماغې ورځې فیصله ده چې تاسې دروغ ګڼله. (امر به وشي) را غونډ کړئ ټول ظالمان او ددوی ملګري او هغه معبودان، چې دوی د هغوی بنده ګي کوله. له الله نه پرته، نو دغو ټولو ته د دوزخ لاره وښیئ.

﴿ يَّوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَ جُنُوْبُهُمْ وَ ظُهُوْرُهُمْ ؕ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ۝ ﴾ .

ژباړه: یوه ورځ به راشي چې په همدې سرو سپینو زرو به د دوزخ اور ګرم کړای شي او بیا به په هغو سره د دې خلکو وچولي، اړخونه او شاګانې وداغل شي، دا ده هغه خزانه چې تاسې د خپلو ځانونو لپاره غونډه کړې وه، واخلئ اوس د خپلې زېرمه کړې شتمنۍ خوند وڅکئ.

﴿ يَوْمَ يَغْشٰهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَ يَقُوْلُ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ۝ ﴾. (التوبه: ۳۵)

ژباړه: (او دوی ته به معلومه شي) په هغه ورځ چې عذاب دوی له پاسه هم ونغاړي او له پښو لاندې هم، او ووایي چې اوس د هغو عملونو خوند څکئ چې تاسو کول.

﴿ اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا۝ لِّلطَّاغِيْنَ مَاٰبًا۝ لّٰبِثِيْنَ فِيْهَاۤ اَحْقَابًا۝ لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْدًا وَّ لَا شَرَابًا۝ اِلَّا حَمِيْمًا وَّ غَسَّاقًا۝ جَزَآءً وِّفَاقًا۝ اِنَّهُمْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ حِسَابًا۝ ﴾. (النباء: ۲۱ – ۲۷)

ژباړه: په حقیقت کې جهنم یو څارنځی دی، د سرکشانو هستوګنځي دي، چه په هغه کې به دوی په مودو مودو پراته وي. په هغه کې به هیڅ د کوم یخ او څښلو وړ شی خوند هغوی ونه څکي. څه چې مومي هغه به یوازې د زخمونو وینې زوې وي، (د هغوی د عملونو) پوره او بشپړه بدله. هغوی د هیڅ حساب هیله نه لرله.

﴿ وَ اقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ اَبْصَارُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ۝ اِنَّكُمْ وَ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ؕ اَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ۝ لَوْ كَانَ هٰۤؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ؕ وَ كُلٌّ فِيْهَا

خٰلِدُوْنَ ۝ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّ هُمْ فِيْهَا لَا يَسْمَعُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰۤى ۙ اُولٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُوْنَ ۝ لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا ۚ وَ هُمْ فِيْ مَا اشْتَهَتْ اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ۝ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَ تَتَلَقّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝﴾. (الانبياء: ۹۷ - ۱۰۳)

ژباړه: او د حقې وعدې د پوره کېدو وخت چې رانږدې شي، نو په ناڅاپي توګه به د هغو کسانو سترګې ټېغې ټېغې ووځي، چې هغوی کافر شوي وو. وبه وايي «افسوس زمونږ بده بخته! مونږ د دې شي له لوري په غفلت کې لوېدلي وو، بلکې مونږ ظالمان وو، بېشکه تاسو او ستاسو هغه معبودان چې تاسو د هغو عبادت کوئ، ددوزخ د سون مواد یاستئ، همالته ستاسې ورتګ دی. که دوی په رښتیا خدایان وای، نو هلته به نه وای تللي. اوس د ټولو د تل لپاره همالته اوسېدل دي، هلته به هغوی کوکارې وهي او حال به داوي چې په هغه کې به هغوی اواز ته غوږ کېنښودل شي. پاتې شول هغه خلک چې د هغو له پاره زمونږ له پلوه د ښېګڼې فيصله د مخه شوې وي نو هغوی به په باوري ډول له هغه نه لرې وساتل شي، د هغه کښنار قدرې به هم وانه وري او هغوی به د تل لپاره د خپلې خوښې شیانو په منځ کې اوسېږي. هغه د زیاتې وارخطايۍ وخت به هغوی یو بخری اند ېښمن نه کړي، او ملايکو به له هغو سره لاس ترلاسه نیولي وي چې دغه ستاسې همغه ورځ ده چې له تاسې سره د هغې وعده کېدله.

## پر ګناهونو د پښېمانه کېدو غوره تګلاره

**الله تعالی فرمایي:**

﴿ قُلۡ يٰعِبَادِيَ الَّذِيۡنَ اَسۡرَفُوۡا عَلٰۤى اَنۡفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُوۡا مِنۡ رَّحۡمَةِ اللّٰهِ‌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغۡفِرُ الذُّنُوۡبَ جَمِيۡعًا ‌ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ ﴿۵۳﴾ وَ اَنِيۡبُوۡۤا اِلٰى رَبِّكُمۡ وَ اَسۡلِمُوۡا لَهٗ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّاۡتِيَكُمُ الۡعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنۡصَرُوۡنَ ﴿۵۴﴾ ﴾. (الزمر: ۵۳ - ۵۴)

ژباړه: (ای پیغمبره!) هغو بنده ګانو ته مې ووایه کوموکسانو چې پرخپلو ځانونو تېری او ظلم کړی دی، چې د الله تعالی له رحمت څخه مه ناهیلي کېږئ، په یقیني ډول الله تعالی ټول ګناهونه ښني، هغه ښونکی اومهربان دی. او راوګرځئ د خپل رب خوا ته او امر منونکي شئ د هغه، مخکې له دې نه چې پر تاسو عذاب راشي او بیا له هېڅ لوري نه درته مرسته ونشي رسېدلی.

اوه اوه! څومره ښه! دا خو د الله تعالی له لوري د مسلمان لپاره ډېره قیمتي ډالۍ ده، زه درته دغه قیمتي ډالۍ په پوښتنه او ځواب کې واضح کوم:

**پوښتنه:** ولې مسلمان توبې ته ضرورت لري؟

**ځواب:** ځکه چې یو خو ترې ګناهونه شوې وي او بل دا چې ځینې مسوولیتونه ورپه برخه دي، ښایي په هغې کې ترې نیمګړتیا راغلې وي، نو ځکه توبې ته ضرورت لري.

**پوښتنه:** ایا د توبې د قبلېدو لپاره شرطونه ایښودل شوي، چې پوره یې کړي؟

**ځواب**: هو! د توبې د قبلېدو لپاره درې شرطونه وضع شوي دي، چې بايد توبه کوونکی يې پوره کړي:
کله چې ترې ګناه صادره شي، بايد د زړه له تله پرې پښېمانه شي.
ګناه دې سمدستي پرېږدي.
ژمنه دې وکړي، چې بيا به دغه ګناه نه تکراروي او په خپله ژمنه دې ټينګ ودرېږي.
د دې ټولو خبرو ثبوت په دې حديث کې پروت دی:
﴿ اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ فَاُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ اللهُ عَلَيْهِمْ ؕ وَ كَانَ اللهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۷﴾ وَ لَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ حَتّٰۤى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ اِنِّيْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَ لَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَ هُمْ كُفَّارٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۸﴾﴾. (النساء: ۱۷ – ۱۸)
ژباړه: هو! په دې پوه شئ چې پر الله د توبې قبلولو حق د هغه کسانو لپاره دی چې د ناپوهۍ له امله کوم بد عمل ورڅخه صادر شي او وروسته سمدلاسه توبه وباسي، داسې خلکو ته بيا الله تعالی د خپلې مهربانۍ په نظر پاملرنه کوي او الله تعالی له ټولو خبرو خبردار، د حکمت او پوهې څښتن دی. خو د هغو خلکو لپاره توبه نه شته چې پرله پسې بد کارونه کوي، تر دې پورې چې کله له هغو نه د يو تن د مرګ نښه رارسېږي؛ نو په هغه وخت کې وايي چې اوس مې توبه وايستله او همدغه راز د هغو کسانو لپاره هم توبه نه شته چې د مرګ تروخته پورې په کفر کې پاتې شي. د دغه ډول خلکو لپاره خو مونږ دردناکه سزا تياره کړې ده.

**پوښتنه:** کله چې زما له ګناه څخه چا ته زیان ورسیږي، نو په دې صورت کې باید څه وکړم؟

**ځواب:** په دې صورت کې پر تا لازم دي چې له هغه شخص څخه بښنه وغواړې، که تاسو يې حق پر ځای کړی نه وي، نو سمدستي يې حق ادا کړئ، که مخکې مو پرې ظلم کړی وي، نو اوس ورسره له انصاف څخه کار واخلئ؛ له دې وروسته له الله تعالی څخه هم بښنه وغواړئ.

## څو ګټور نصیحتونه

کله چې له انسان څخه څه عملونه شوي وي، یا یې اوس کړي یا یې په راتلونکي کې کوي، نو دغه ټول عملونه دوه پایلې لري، چې یوه خوشحالي ده او بل خپګان.
تاسو ځان او شاوخوا نورو خلکو ته وګورئ، چې هرڅوک په دې هلو ځلو کې سهار له کوره وځي او ماښام راننوځي چې ځان له تکلیف څخه وژغوري او خوشحالي احساس کړي، اوس د دې جملو له سیاق او سباق څخه کولی شئ چې لاندې پوښتنې ځواب کړئ:
پوښتنه: ایا غواړئ چې له دوزخ څخه د ژغورنې یا جنت ته د تلو لپاره له ځان څخه غوره مسلمان جوړ کړئ؟
نن سبا له ځان څخه رښتینی مسلمان جوړول ډېر ستونزمن کار دی، یوازې کافران دې له ګناهونو سره مینه نه پیدا کوي، بلکې د نن ورځې مسلمانانو هم درته داسې حوصله او ډاډ درکوي، چې د خپل نفس په ملتیا به ځان ګناهونو ته وړاندې کوي او هغه به درته هېڅ هم نه ښکاري. که څوک غواړي چې په خپل ژوند کې ښې شپې او ورځې تېرې کړي، نو کولی شي چې هم خپله نېکو اعمالو ته مخه کړي او هم نورو ته د نېکو کارونو ترغیب ورکړي، دا هغه مقام دی، چې تېره پوښتنه ځوابولای شي. په پورتنۍ پوښتنه کې موږ ته په ژوند کې د هر نېک عمل په اړه دوه ترغیبات راکړل شوي دي، یوازې د مسلمان په صفت نه، بلکې د یو انسان په توګه هم. دا ځکه چې یوه جذبه له بلې پیاوړې وي او هغه دا چې که څوک یو نېک کار د انسانیت په خاطر کوي، نو دا یوه ښه جذبه ده او که په دې نیت یې وکړي چې زه

یو مسلمان یم او د ټولنې او مسلمانانو خیرخواهي زما فریضه ده.
نو دا جذبه د انسانیت اړوند جذبې په پرتله ډېره قوي ده. الله تعالی
موږ او تاسو ته د دې په بدل کې اخروي خوشحالۍ راپه برخه کوي او
له تکلیفونو مو ژغوري، مهمه دا ده چې د همدې کار ژمنه یې هم
کړې ده:

﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ۝ أَفَمَن
كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا ۚ لَّا يَسْتَوُۥنَ ۝ أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
فَلَهُمْ جَنَّٰتُ ٱلْمَأْوَىٰ نُزُلًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ۝ ﴾. (السجده: ۱۷ - ۱۹)

ژباړه: نو د سترګو یخېدو کوم وسایل چې د هغو د عملونو په
مکافات کې د هغوی لپاره پټ کړای شوي دي، هیڅ نفس پرې خبر نه
دی. ښه نو ایا دا کېدای شي چې څوک چې مؤمن وي هغه دې د هغه
چا په څېر شي چې فاسق وي؟ دغه دواړه نه شي برابرېدای. کوم
کسانوچې ایمان راوړی دی او غوره عملونه یې کړي دي د هغوی
لپاره خو د جنتونو استوګنځي دي. د مېلمستیا په ډول د هغو د
عملونو په بدل کې.

کوم سلوک چې له ظالمانو سره کېږي، هغې ته هم مراجعه وکړئ:

﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّٰلِمِينَ ۝ ﴾

ژباړه: د هغوی لپاره به د دوزخ لاندېستونی او د همدې دوزخ له
پاسه اغوستونی وي. دغسې ده هغه بدله چې مونږ یې ظالمانو ته
ورکوو.

له دې وروسته مې د ژوند پر ټولو تجربو غور شروع کړ. له ځان څخه
مې پوښتنه وکړه: کله مې له کار کولو سره لېوالتیا پیدا کېږي؟ د

تکلیف په شېبو کې او که د خوشحالۍ په وخت کې؟ ځواب یې دا دی چې زه په هغه صورت کې ډېر ښه کار کولی شم، چې کله له تکلیفونو او خپګانونو څخه وېرېږم.
نو د دې مطلب دا شو، چې ماته د تکلیف شېبې د خوشحالۍ د شېبو په پرتله ډېر ترغیب راکوي، یعنې نېکۍ ته مې هڅوي. زه کولی شم چې دغه تګلاره د خپلو خواهشاتو او ممکن تکلیف ترمنځ انتخاب کړم، لکه که ما ته داسې زمینه مساعده شي چې له بانک څخه د سود پیسې راخیستی شم، نو که د دوزخ وېره راسره وي، نو هېڅکله داسې نه شم کولی چې د سود پیسې خپل کور ته یوسم، ځکه چې په پورته ایت کې راته لارښوونه شوې.
اوس کولی شم، چې د خپلو تجربو په رڼا کې حرکت ته ادامه ورکړم، مهمه نه ده چې هر وخت دې تکلیف وي او زه دې نېک کار کوم، که خوشحالي هم وي، نو زه باید په دې وخت کې له نېک کار څخه بې بروا نه شم او د تکلیف د وخت په شان یې ترسره کړم.
کله چې تاسو خپل محرک وپېژنئ، نو کولی شئ چې ځان د شیطان له منګولو خلاص کړئ. که هغه تاسو په کوم لالچ او حرص کې واچوي او له تاسو کوم بد عمل وغواړي، نو په خپل ضمیر کې هغه محرک ته حرکت ورکړئ او هڅه وکړئ چې تاسو ته د نېک عمل ترغیب درکړي، یعنې که تاسو ته له تکلیف څخه د وېرېدو ترغیب درکړي، نو کولی شئ چې د دوزخ انځور وړاندې کوونکي ایتونه ذهن ته راولئ او که تاسو ته د خوشحالۍ ترغیب درکړي، نو د جنت انځور وړاندې کوونکي ایتونه فکر ته راولئ، له دې لارې کولی شئ چې د شیطان له پلمو او دسیسو څخه ځان وژغورئ.

زه درته د اوولس (۱۷) کلن هلک په اړه څه وایم او دا موضوع په همدې ځای رانغاړم. دغه هلک غواړي چې خپل ژوند د عقیدې له پلوه ښه جوړ کړي، له دې سره به تاسو د خپلو کوښښونو تصور هم وکړئ. دغه نصیحت یاد ساتئ..... په اوسنی زمانه کې له ځان څخه یو ښه مسلمان جوړول کوم اسانه کار نه دی..... د دې په خاطر چې له ځان څخه یو وتلی مسلمان جوړ کړئ، نو تل په دې هڅه کې اوسئ چې له شیطان سره جنګ ته چمتو اوسئ او کوم اخطارونه چې درکوي، سینه ورته سپر کړئ او هیڅ پروا یې مه ساتئ.

علي اووه لس (۱۷) کلن هلک دی، هغه په یوه متدینه او دینداره کورنۍ کې زیږېدلی دی، نوموړی په صحیح معنا له الله تعالی څخه وېرېږي، بل خوا علي ګوري چې ملګري یې د مسلمانۍ له پلوه ډېر ښه نه دي، هغه پر دې هم پوهېږي، که ځان له ملګرو سره په تول کې برابر کړي، نو د دینداری به یې نیمه هم پاتې نه شي، هغه غواړي چې په یو وخت کې دغه دواړه کاره وکړي، یعنې هم دینداري وکړي او هم له ملګرو سره مزې چړچې وکړي، خو دغه دواړه کارونه په یو وخت نه ترسره کېږي، سربېره پر دې علي غواړي چې له دواړو لارو څخه یوې ته ترجیح ورکړي او ښه لاره انتخاب کړي. څوک چې مسلمان وي او په زړه کې یې لږ غوندې ایمان هم وي، په ژوند کې هم دې ته تیار نه وي چې عبادت پرېږدي او له بنده ګۍ پرته ژوند ته دوام ورکړي. علي هڅه کوي چې نېکۍ ته مخه کړي، خو په دواړو لارو کې په یو او دوه کې پاتې دی، یعنې څه وکړي. شیطان له داسې پلمې کار اخلي چې علي په ډېرو معمولي ګناهونو اخته کړي، له دې وروسته نسبت ورو او معمولي ګناهونو ته د لویو ګناهونو ارتکاب

ته غاړه ږدي، داسې ګناه کوي چې دوه میاشتې مخکې یې په خوب کې هم نه وو لیدلي.

علي اوس پنځه وخته لمونځ ادا کوي، خو کله چې د لمانځه ادا کولو لپاره جومات ته ځي، نو زړه یې خالي وي، ځکه هغه د خپلو ګناهونو لپاره د جواز کوم شی نه ویني، هغه دغه تکلیف ورکوونکی صورت نه شي زغملی، یعنې په زړه کې داسې نیت لري، چې له دې وروسته به ګناه ته زړه نه ښه کوي.

شیطان غواړي چې د هلاکت کندې ته یې وغورځوي او په زړه کې یې د «زه یې هېڅ پروا نه لرم» ناري پیچکاري کوي، تر دې چې د شیطان د پلمو او دسیسو په اساس ازاد خیاله شي او په هر ځای کې یې ازادي خوښه وي. علي له دې ګناهونو سره دومره عادت شي چې له خپلو ملګرو څخه هم په دې یوه درجه مخکې شي او داسې ګناهونو ته مخه کړي، چې ملګرو به یې په خوب کې هم نه وي لیدلي. هغه اوس هم پنځه وخته لمونځ ادا کوي، خو کورنۍ او ملګري یې پر دې نه پوهېږي چې علي کوم کارونه کوي. علي دوه کاره مخکې کړي دي، چې هم دین کوي او هم دنیا یعنې هم دین ته مخه کوي او هم د دنیا عېش او لهو لعب ته. نیمه ورځ یې یو کار ته او نیمه ورځ یې بل کار ته پرېښې ده. کله چې ترې خپل ضمیر پوښتنه وکړي، نو د هغه ځواب یوازې دا وي، چې «زه یې هېڅ پروا نه ساتم».

علي په همدې تګلاره او عبادت کې یو کال تېروي، هغه ته داسې ښکاري چې هغه هره شېبه د تش په نوم مسلمان په شان تېروي او وخت یې ضایع کېږي، هغه پر دې هم پوهېږي، چې زه کوم کارونه

کوم، په اساس یې د جنت وړ نه یم، هغه په دې فکر کوي چې که هر څه کوم، باید په همدې دنیا یې وکړم، هغه په دې تصور کې ډوب وي، چې:

بابر به عیش کوش، که عالم دوباره نیست

له علي سره یوازې د خپل وخت د ضایع کېدو غم دی، د دین داسې ډېره پروا نه ساتي، په همدې موده کې نوموړی د لومړي ځل لپاره په الوتکه کې سفر کوي، په الوتکه کې ورته څوک ورځپاڼه ورکوي، علي ګوري چې د ورځپاڼې سرټکي دا دي:

((د یوې الوتکې د رانسکورېدو په پېښه کې دوه سوه پنځه څلوېښت (۲۴۵) سپرو مسافرو خپل ژوند له لاسه ورکړ)).

له دې سره الوتکه په الوتنه پیل وکړي، هغه داسې احساسوي چې ګویا پښې یې په ځمکه نه لګي، له دې سره د څوکۍ دواړه خواوې کلکې نیسي، داسې تصور کوي چې له ده سره به څه کېږي؟ که الوتکه له څه شي سره مخامخ شي او زیان ورته ورسېږي، نو بیا به څه کېږي؟ که الوتکه رانسکوره شوه، نو څه به کېږي؟ تر هغې پورې یې ځان کلک نیولی وي، چې الوتکه خپل ټایرونه پر ځمکه ولګوي.

د هغه ضمیر بېرته بل حالت ته واوړي، څنګه چې له الوتکې راکوز شي، نو هر څه یې هېر شي، نه ورسره د الوتکې د رانسکورېدو غم وي، نه ورسره د خپل ځان غم وي. نوموړی بېرته په خپل ښار کې عیش او عشرت ته دوام ورکوي، کله چې بل ځل سفر کوي، نو د لومړي سفر په شان نه وي، چې ټول فکر یې د خپل ژوند په اړه وي،

خو دا ځل ورسره عادي شوی وي او دا سفر ورته د پخواني سفر په شان نه، بلکې عادي سفر ښکاري......
په دنیا کې د زیاترو مسلمانانو ژوند د علي کیسې ته ورته وي، ځینې خلک یې د (۲۴۵) تنو مسافرو په شان وي.
خو تاسو د دوی له ډلې نه یاستئ! ستاسو په ضمیر کې به څه نا څه بدلون راغلی وي، په همدې اساس مې د دغې کیسې پایله ونه لیکله، هیله لرم چې پایله به یې تاسو خپله ولیکئ.

## د حقیقي ژوند درسونه

## د یوسف علیه السلام د کیسې په رڼا کې

الله تعالی په قران کریم کې فرمایي:
﴿ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۖ وَ إِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝ ﴾. (یوسف: ۳)
ژباړه: ای محمده! مونږ دا قران تاته وحې کړی، په ډېر ښه اسلوب سره بیانې او حقایق او تر ټولو ښه کیسه درته بیانوو، که نه مخکې له دې نه خو ته (له دې کیسې) بېخي ناخبره وې.

## لنډه پېژندنه

الله تعالی فرمايي:

﴿ لَقَدْ كَانَ فِىْ يُوْسُفَ وَ اِخْوَتِهٖٓ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ۝﴾ . (یوسف: ۷)

ژباړه: حقیقت دادی چې د یوسف (علیه السلام) او د هغه د ورونو په کیسه کې د دې پوښتونکو لپاره سترې نښانې دي.

په قران کریم کې الله تعالی د یوسف علیه السلام کیسه په ډېر ښایسته انداز سره ذکر کړې ده، دغه کیسه نه یوازې خوندوره مطالعه رامنځ ته کوي، بلکې موږ ته لارښوونه هم کوي چې ځان له حسد څخه وژغورو، همدارنګه له خلکو سره چې موږ کوم معاملات کوو، د هغې اړوند لارښوونې یې هم راته کړې دي. دغه لارښوونې داسې دي چې موږ ورته په ورځني ژوند کې ډېر ضرورت لرو. په دې کیسه کې ګورو چې د الله تعالی پیغمبر یوسف علیه السلام څنګه له دې ستونزو او مسایلو څخه ځان خلاصوي. دغه کیسه د دې موضوع اړوند د غوره داستانونو په کتار کې راځي، ځکه چې دغه کیسه نړیوالې معاملې احاطه کوي، چې نن سبا هم ورته مسلمان ضرورت لري.

## د یوسف علیه السلام
## کیسه او د هغې اړوند درسونه

لاندې ټول ایتونه له سورت یوسف څخه راخیستل شوي دي:

﴿ إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ ۝ قَالَ يَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَىٰ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝ ﴾. (یوسف: ۴ – ۵)

ژباړه: دا د هغه وخت یادونه ده چې کله یوسف (علیه السلام) خپل پلار ته وویل: 'ای پلاره! ما خوب لیدلی دی چې یوولس ستوري، لمر او سپوږمۍ مې ولیدل، چې هغوی ماته سجده کوي'. په ځواب کې د هغه پلار وویل' زویه! دا خوب دې خپلو ورونو ته مه وایه، که نه نو هغوی به په دسیسه جوړولو ستا د ربړولو په هڅه کې شي، حقیقت دادی چې شیطان د انسان ښکاره دښمن دی.

### د حقیقي ژوند لومړی درس:

د سورت یوسف په پنځم ایت کې موږ ته د یوسف علیه السلام محترم پلار یعقوب علیه السلام دوه خبرې رازده کوي، لومړی دا چې هغه مو د حسد د شتوالي څخه خبروي او دویم دا چې له حسد څخه د ژغورنې طریقه هم راښیي. هغه طریقه دا ده، کوم فیض چې درباندې الله تعالی کړی وي، د نړۍ خلکو ته یې مه ښکاره کوئ او مه پرې فخر کوئ چې په خلکو کې ستاسو الهي فیض او رحمت خپور شي او خلک مو له نظره نه کړي یا درسره په زړه کې کینه ونه

ساتي حسد د شیطان له ناوړه چلند څخه یو چلند دی او موږ باید تل په دې هڅه کې واوسو چې ځان له حسد څخه وژغورو
راځئ چې مخکې لاړ شو

﴿ وَ كَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَ يُعَلِّمُكَ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ وَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَ عَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْحٰقَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ ﴾. ( یوسف: ۴ – ۵)

ژباړه: او همداسې به وي (لکه څنګه چې تا په خوب کې لیدلي دي چې) ستا رب به تا (د خپل کار لپاره) وټاکي او تا ته به د خبرو تل پورې رسیدل در زده کړي. او پر تا او د یعقوب علیه السلام پر ټبر به خپل نعمت په هماغه شان پوره کړي، لکه څنګه چې له دې مخکې يې ستا پر نیکونو ابراهیم علیه السلام او اسحاق علیه السلام پوره کړی دی، دا یقیني ده چې ستا رب پوه حکمت والا دی.

## د حقیقي ژوند دویم درس:

الله تعالی د خپل رحمت لپاره ځانګړي خلک پیدا کړي دي، دغه حقیقت له لاندې ایت څخه معلومېږي، که دغه حقیقت په خپل ژوند کې عملي کړو، کولی شو چې خپلمنځی نفرت او حسد ورک کړو.
راځئ لږ مخکې نور هم ځو:

﴿ اِذْ قَالُوْا لَيُوْسُفُ وَ اَخُوْهُ اَحَبُّ اِلٰٓى اَبِيْنَا مِنَّا وَ نَحْنُ عُصْبَةٌ ؕ اِنَّ اَبَانَا لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنِ ۝ ﴾. ( یوسف: ۸)

ژباړه: دا (کیسه داسې پیل کیږي) چې د هغه وروڼو په خپل منځ کې سره وویل: "دا یوسف (علیه السلام) او د هغه ورور، دواړه زموږ پلار ته له موږ ټولو نه زیات ګران دي، په داسې حال کې چې موږ

یو پوره ټولګی یو، ربښتیا خبره دا ده چې زمونږ پلار ښځي خطا شوی دی.

## د حقیقي ژوند دریم درس:

زه درته په واضح ډول نه شم ویلی چې ما څو ځلې د خپلو مسلمانانو ورونو له بچیو اورېدلي دي: مړه زمونږ پلار خو په هېڅ نه پوهېږي! (دغه الفاظ په ماشومانه اندازه وایي).

واورئ! که ستاسو پلار او مور هر څنګه وي، ستاسو په اړه پر دې خو ډېر ښه پوهېږي، چې ښه کوم دي او بد کوم، تاسو هغه ته خپله رایه په ګوته کړئ، خو پام چې د هغوی د پرېکړې بې ادبي ونه کړئ، لکه اوس چې تاسو د یوسف علیه السلام کیسه لولئ. تاسو به پوه شئ چې څوک د مور او پلار خبرو ته غوږ نه ږدي، دغه کار ورته ګران پرېوځي. له مور او پلار څخه هم دا غوښتنه لرم چې له خپلو ماشومانو ترمنځ فرق ونه کړي، داسې نه چې یو ته ښه شی ورکوي او بل ته نه، یعنې د میرې سلوک ورسره ونه شي، په لاندې ایت کې به تاسو دغه نتیجه په واضح ډول ووینئ، الله تعالی فرمایي:

﴿ اِقْتُلُوْا يُوْسُفَ اَوِ اطْرَحُوْهُ اَرْضًا يَّخْلُ لَكُمْ وَجْهُ اَبِيْكُمْ وَ تَكُوْنُوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ قَوْمًا صٰلِحِيْنَ۝﴾. (یوسف: ۹)

ژباړه: ځئ یوسف علیه السلام ووژنئ یا یې چېرته وغورځوئ چې ستاسې د پلار پاملرنه یوازې ستاسې لوري ته راواوړي اووددې کارله کولو نه وروسته بېرته نیکان شئ.

## د حقیقي ژوند څلورم درس:

تاسو په پورتني ایت کې ولیدل چې د یو پیغمبر بچې د خپل ورور قتل ته لاره هواروي، دا د حسد تر ټولو بد صورت دی، که په ژوند کې هر څه کوئ، خو حسد مه کوئ، دا دې دا معنا ورنه کړي، چې ګویا ګناهونو ته ازادي ورکړه، نه داسې نه ده، بلکې د حسد بده پایله د نورو ګناهونو په پرتله ډېره ناوړه ده، ځکه کله چې تاسو حسد کوئ، نو په دې وخت کې مو دماغ صحیح کار نه ورکوي راځئ لږ مخکې نور هم ځو، چې الله تعالی نور څه فرمايي:

﴿ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوْا يُوْسُفَ وَ اَلْقُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ۝ قَالُوْا يٰۤاَبَانَا مَا لَكَ لَا تَاْمَنَّا عَلٰى يُوْسُفَ وَ اِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ۝ اَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَّرْتَعْ وَ يَلْعَبْ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ۝ قَالَ اِنِّيْ لَيَحْزُنُنِيْۤ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَ اَخَافُ اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ وَ اَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ۝ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ وَ نَحْنُ عُصْبَةٌ اِنَّاۤ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ۝ فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ وَ اَجْمَعُوْۤا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ ۚ وَ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ هٰذَا وَ هُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ۝ وَ جَآءُوْۤ اَبَاهُمْ عِشَآءً يَّبْكُوْنَ۝ قَالُوْا يٰۤاَبَانَاۤ اِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَ تَرَكْنَا يُوْسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَاَكَلَهُ الذِّئْبُ ۚ وَ مَاۤ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَ لَوْ كُنَّا صٰدِقِيْنَ۝ وَ جَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ ؕ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ وَ اللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ۝ ﴾. ( یوسف: ۱۰ – ۱۸)

ژباړه: په دې سره له هغوی نه یوه وویل: یوسف (علیه السلام) مه وژنئ، بیا که څه کوئ، نو هغه په کومه تروږمۍ څاه کې وغورځوئ کوم تلونکی راتلونکی کاروان به یې راوباسي، هغوی له دې تړون

نه وروسته خپل پلار ته ورغلل ویې ویل 'پلاره! څه خبره ده چې ته د یوسف علیه السلام په باب پر مونږ اعتماد نه کوې، په داسې حال کې چې مونږ خو د هغه رښتیني خوا خوږي یو؟ سبا هغه له مونږ سره ولېږه، یو څه مېوه دانه به وخوري او لوبې او ساعت تېري به هم وکړي. مونږ د هغه د ساتنې څارنې لپاره موجود یو. پلار یې وویل: ' ستاسو له خوا د هغه بوتلل پر ما ګران تمامېږي او زه وېرېږم چې لېوه یې ونه خوري او تاسې به ورڅخه بې پروا یاستئ' هغوی ځواب ورکړ چې زمونږ په موجودیت کې یې څنګه لېوه وخوري، په داسې حال کې چې مونږ یوه قوي ډله یو، نو بیا خو به مونږ ډیر زیان کاري یو' په دغه شان تېنګار کولو سره یې چې هغه له ځانه سره بوت او هغوی وېتییله چې هغه په یوه تروږمی څاه کې واچوي، نو مونږ یوسف علیه السلام ته وحې وکړه چې' یو وخت به راشي چې ته به دوی ته دغه حرکت ور په زړه کړې، دوی د خپل کار له نتائجو نه نا خبره دي. ماښام هغوی په ژړا انګولا خپل پلار ته راغلل او ویې ویل پلاره! مونږ د ځغاستې په مسابقه بوخت وو او یوسف مو د خپلو اسبابونو څنګ ته پرېښی و، چې په دې ترځ کې لېوه راغی هغه یې وخوړ. ته به زمونږ په خبره باور ونه کړې، که مونږ رېښتینی هم واوسو' او هغوی د یوسف علیه السلام کمیس د دروغو په وینه لړلی له ځانه سره راوړی و. د دې په اورېدلو د هغو پلار وویل' بلکې ستاسې نفس ستاسې لپاره یو لوی کاراسانه کړ. ښه نو صبر به وکړم او په ښه شان به یې وکړم، کومه خبره چې تاسې غوټه کوئ، پر هغې له الله تعالی نه مرسته غوښتل کېدای شي

**د حقیقي ژوند پنځم درس:**

**موږ په ژوند کې زیاتره له سختیو سره مخ کېږو او له هغې څخه د خلاصون لپاره ډول ډول طریقې په کار اچوو. کله چې د الله تعالی نبي یعقوب علیه السلام وپتېله چې زوی خو یې له لاسه ورکړ، نو تاسو پوهېږئ چې د خپل غم اظهار یې په کومه طریقه وکړ؟**

**نن سبا اسلامي امت له ډېرو سختو حالاتو تېرېږي، نن چې کومې ستونزې اسلامي امت ته ورمتوجې شوي، د هغې د حل لپاره یوازېنی لار دا ده چې یوازې له الله تعالی څخه په کې مرسته وغوښتل شي. راځئ لږ مخکې ګورو، چې څه پېښېږي:**

﴿ وَ جَآءَتۡ سَيَّارَةٌ فَاَرۡسَلُوۡا وَارِدَهُمۡ فَاَدۡلٰى دَلۡوَهٗ ؕ قَالَ يٰبُشۡرٰى هٰذَا غُلٰمٌ ؕ وَ اَسَرُّوۡهُ بِضَاعَةً ؕ وَ اللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۹﴾ وَ شَرَوۡهُ بِثَمَنٍۢ بَخۡسٍ دَرَاهِمَ مَعۡدُوۡدَةٍ ۚ وَ كَانُوۡا فِيۡهِ مِنَ الزّٰهِدِيۡنَ ﴿۲۰﴾ وَ قَالَ الَّذِى اشۡتَرٰٮهُ مِنۡ مِّصۡرَ لِامۡرَاَتِهٖۤ اَكۡرِمِىۡ مَثۡوٰٮهُ عَسٰٓى اَنۡ يَّنۡفَعَنَاۤ اَوۡ نَـتَّخِذَهٗ وَلَدًا ؕ وَ كَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوۡسُفَ فِى الۡاَرۡضِ وَلِنُعَلِّمَهٗ مِنۡ تَاۡوِيۡلِ الۡاَحَادِيۡثِ ؕ وَ اللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰٓى اَمۡرِهٖ وَ لٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۱﴾ ﴾ (یوسف: ۱۹ – ۲۱)

**ژباړه: بل خوا یو کاروان راغی او هغه خپل سقاو (مشکي) د اوبو راوړلو لپاره ولېږه. سقاو چې په څاه کې بوکه وغورځوله، نو د یوسف علیه السلام په لیدلو یې نارې کړې، مبارک دې وي، دلته خو یو هلک دی. هغو خلکو هغه د تجارت مال وګاڼه، پټ یې کړ، په داسې حال کې څه چې هغوی کول الله تعالی پرې خبر و. په پای کې هغوی هغه په لږ غونډې بیه د څو درهمو په بدل کې وپلوره او هغوی**

د هغه د ییې په موضوع کې دومره زیات هېله من نه وو. د مصر کوم سړي چې هغه وپېره، هغه خپلې مېرمنې ته وویل: دی په ښه شان ساته، لرې نه ده چې دی زمونږ لپاره ګټور ثابت شي یا مونږ دی په زویولۍ ونیسو. په دې ډول مونږ د یوسف (علیه السلام) لپاره په هغه ځمکه کې د ټینګښت زمینه برابره کړه او پر چارو د پوهېدو د ورزده کولو انتظام مو وکړ. الله تعالی په برلاسۍ سره خپل کار کوي خو زیاتره خلک پوهېږي نه.

## د حقیقي ژوند شپږم درس:

څوک چې په مشکلاتو کې پر خپل ایمان قایم ولاړ وي، نو الله تعالی هغوی ته په ډېر نااشنا انداز سره انعامونه ورکوي. دا د هېچا په فکر کې هم نه ګرځېده چې په دښته کې کوهي ته لوېدلی انسان به ژوندی پاتې شي او د وخت د پاچا د مالیي وزیر به وګرځي. که کله تاسو خپل خوږ ملګری یا هم کاروبار له لاسه ورکړ، نو په دې اړه مه خپه کېږئ، ځکه چې الله تعالی ستاسو ټولې معاملېویني، پوره واک پرې لري، خو تاسو باید یوازې پر هماغه ذات یقین ولرئ، ځکه چې دا خبره ډېره فرمایي: (زیاتره وخت انسان نه پوهېږي).

تاسو د یو داسې هلک کیسه لولئ چې کوهي ته غورځول شوی دی او هغو خلکو چې دا یې ورغورځولی و، داسې فکر کاوه چې هېڅ به ژوندی پاتې نه شي، هغوی بالکل له ذهن څخه هم ویستلی و. دا کیسه تقریبا له درې زره پنځه سوه (۳۵۰۰) کالو هم پخوا پېښه شوې ده. الله تعالی د هلک د ډاډ لپاره هغه ته لاره پیدا کړه، نو موږ ته هم پکار دي چې هېڅکله د صبر او زغم لمن پرېنږدو:

﴿ وَ لَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗۤ اٰتَيۡنٰهُ حُكۡمًا وَّ عِلۡمًا ؕ وَ كَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۝ وَ رَاوَدَتۡهُ الَّتِىۡ هُوَ فِىۡ بَيۡتِهَا عَنۡ نَّفۡسِهٖ وَ غَلَّقَتِ الۡاَبۡوَابَ وَ قَالَتۡ هَيۡتَ لَكَ ؕ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ رَبِّىۡۤ اَحۡسَنَ مَثۡوَاىَ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفۡلِحُ الظّٰلِمُوۡنَ ۝ ﴾ .

يوسف: ۲۲ - ۲۳)

ژباړه: او کله چې هغه پوره ځوانۍ ته ورسېده، نو موږ هغه ته د فيصلې قوت او علم ورکړ، په دغه ډول موږ نېکانو ته مکافات ورکوو. د کومې ښځې په کور کې چې هغه و، هغې خپل ځان ته د هغه توجه جلبوله او يوه ورځ يې دروازې وتړلې او ويې ويل چې' ژر راشه ' يوسف (عليه السلام) وويل: ' الله تعالى ته پناه وړم ' زما رب خو ما ته ښه منزلت راکړی (او زه دا کار وکړم؟!) داسې ظالمان هېڅکله بری نه شي موندلی.

**د حقيقي ژوند اووم درس:**

په پورته ايت کې الله تعالى موږ ته طريقه راښيي چې څنګه کولی شو، له بدو کارونو څخه ځان وساتو، په داسې حال کې چې نور خلک يې راته ترغيب هم راکوي. کله چې يوسف عليه السلام ته د ګناه ترغيب ورکړل شو، نو هغه وفرمايل: زه الله تعالى ته پناه وړم. اوس پر دې پوه شئ چې کله تاسو ته شيطان کومې ګناه ته ترغيب درکړي، نو په دې صورت کې به ستاسو عکس العمل څه وي!

**د حقيقي ژوند اتم درس:**

اوسنی مسلمان د کردار په لحاظ منافق ته ورته او د لوېديځ له خصلتونو متاثره شوی دی، د دې ستر لامل دا دی چې دنيوي کاميابي يې مخې ته کړې ده، ځکه دا خاصيت خو د کافرانو دی. الله

تعالی هم دغه کردار مسترد کړی او فرمایي چې ظالم (بدکاره) هېڅکله د بریالیتوب تر بریده نه شي رسېدلی.

هڅه وکړئ چې د دین او دنیا په معاملاتو کې له دوه مخي توب او منافقت څخه ډډه وکړئ، منافقت نه یوازې دا چې له تاسو سره ښه ښکاري، بلکې په دې کار سره به نه د دین شئ نه د سا دین.

د یوسف علیه السلام کېسه نوره هم مطالعه کړئ: ﴿وَ لَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ۚ وَ هَمَّ بِهَا لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ؕ كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَ الْفَحْشَآءَ ؕ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَ اسْتَبَقَا الْبَابَ وَ قَدَّتْ قَمِيْصَهٗ مِنْ دُبُرٍ وَّ اَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ؕ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِيْ عَنْ نَّفْسِيْ وَ شَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَ هُوَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٢٦﴾ وَ اِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَ هُوَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَاٰ قَمِيْصَهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ مِنْ كَيْدِكُنَّ ؕ اِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ ﴿٢٨﴾ يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ٜ وَ اسْتَغْفِرِيْ لِذَنْۢبِكِ ۖۚ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕيْنَ ﴿٢٩﴾ وَ قَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِيْنَةِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰىهَا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٠﴾ فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ اِلَيْهِنَّ وَ اَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً وَّ اٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا وَّ قَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَاَيْنَهٗۤ اَكْبَرْنَهٗ وَ قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ وَ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ؕ اِنْ هٰذَآ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿٣١﴾ قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِيْ لُمْتُنَّنِيْ فِيْهِ ؕ وَ لَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَ لَئِنْ لَّمْ يَفْعَلْ مَاۤ اٰمُرُهٗ لَيُسْجَنَنَّ وَ لَيَكُوْنًا مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿٣٢﴾﴾. (یوسف: ۲۴ - ۳۲)

ژباړه: هغه ښځه د هغه خوا ته ورمخکې شوه او يوسف (عليه السلام) به هم د هغې لوري ته ورمخکې شوی وای، که د خپل رب برهان يې نه وای ليدلی. داسې وشول تر څو چې مونږ له هغه نه بدي او بې حيايي ايسته کړو، په حقيقت کې هغه زمونږ له غوره کړای شوو بنده ګانو څخه و. په پای کې يوسف عليه السلام او هغې وړاندې وروسته د دروازې خواته منډه کړه. او هغې د شا له خوا د يوسف (عليه السلام) کميس (په راښکودلو) سره څيرې کړ. په دروازه کې دواړو د هغې مېړه موجود وموند. د هغه په ليدو سره ښځې وويل: ' د هغه چا څه سزا ده چې ستا کورنۍ ته خراب نيت ولري؟ له دې پرته بله يې څه سزا کېدای شي چې بندي کړی شي يا دردناک عذاب ورکړ شي. يوسف عليه السلام وويل ' دې زما د جلبولو هڅه کوله ' د هغې ښځې له خپل ټبر نه يو چا (دننبې ښېلګې) شاهدي وړاندې کړه. چې ' که د يوسف عليه السلام کميس له مخې نه شلېدلی وي، نو ښځه رښتينې ده او دی دروغجن،او که د هغه کميس د شا له لوري شلېدلی وي، نو ښځه دروغجنه ده او دی رښتينی . کله چې مېړه وليدل چې د يوسف عليه السلام کميس د شا له لوري شليدلي دی نو ويې ويل' دا ستاسې ښځو مکرونه دي، په رښتيا چې ستاسو چلونه ډېر زيات دي. يوسفه ! له دې خبرې نه تېر شه. او ای ښځې! ته د خپلې ګناه ښښنه وغواړه' همدا ته په اصل کې ګناهګاره وې. دښار ښځو په خپلو منځونو کې اوازه ګډه کړه چې' د عزيز مېرمن په خپله خپل زلمي غلام پسې شوې ده، مينې ناکراره کړې ده، زمونږ په نزد خو هغه په څرګند ډول غلط کار کوي'. هغې چې د هغو دغه له مکره ډکې خبرې واورېدې، نو په هغو پسې يې استازي واستوه او د هغو

لپاره يې د تکيه کولو مجلس جوړ کړ او په مېلمستيا کې يې د هرې يوې په وړاندې يوه يوه چاړه کېښودله (بيا په همغه وخت کې چې کله هغوی مېوې پرېښولې، خوړلې يې) هغې يوسف (عليه السلام) ته اشاره وکړه چې د هغوی مخې ته راووځه. کله چې د هغو ښځو نظر پر هغه ولګېده نو هکې پکې پاتې شوې او خپل لاسونه يې غوڅ کړل او غير اختياري يې وويل' هېڅکله نه، دا سړی خو بشر نه دی، دی خو کومه لويه ملايکه ده'. د عزيز مېرمنې وويل: وګورئ دا دی هغه څوک چې د هغه په باب تاسې ما پورې د پړې خبرې کولې. بيشکه چې ما د ده د جلبولو هڅه کړې وه خو دی وژغورل شو. که دی زما وينا ونه مني، نو بندي او ډېر ذليل او خوار به کړای شي.

**د حقيقي ژوند نهم درس:**

زموږ ژوند هم همداسې دی، ايا داسې نه ده؟ يو اړخ ته الله تعالی موږ ته د خپل داسې پيغمبر کېسه بيانوي چې په ژوند کې له ډېرو سختيو سره لاس او ګرېوان شوی دی، بل خوا موږ ته دا هم راښيي چې له مشکلاتو څخه بايد په کومه طريقه ځان خلاص کړای شي. په راتلونکو مخونو کې به وګورئ چې يوسف عليه السلام له يادو مشکلاتو څخه څنګه ځان خلاص کړ.

ما ته خو داسې ښکاري چې تاسو به له ځان سره په خبرو پيل وکړئ: ((او هو! که زه د پيغمبرانو په وخت کې ژوندی وای، نو په هغې وخت کې به صحيح مسلمان وای، ځکه چې مسلماني په هغه وخت کې اسانه وه، ځکه چې زه به نن له هغو مشکلاتو سره مخ نه وای، لکه نن چې ورسره لاس او ګرېوان يم))..... خو لږ تم شئ! يو ځل فکر وکړئ او بيا دا ايت تلاوت کړئ:

﴿ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ اِلَیَّ مِمَّا یَدْعُوْنَنِیْۤ اِلَیْهِ ۚ وَ اِلَّا تَصْرِفْ عَنِّیْ كَیْدَهُنَّ اَصْبُ اِلَیْهِنَّ وَ اَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِیْنَ ۝٣٣ فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ فَصَرَفَ عَنْهُ كَیْدَهُنَّ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ۝٣٤ ﴾ (یوسف: ۳۳ - ۳۴)

ژباړه: یوسف (علیه السلام) وویل: ای زما ربه! د دې په نسبت بندي کېدل ماته ښه دي، چې زه هغه کار وکړم چې دا خلک یې له مانه غواړي. او که ته د هغو دسیسې له ماڅخه دفع نه کړې، نو زه به د هغو په دام کې ونښلم او په ناپوهانو کې به شامل شم. د هغه رب د هغه دعاء قبوله کړه او د هغو ښځو چلونه یې ورڅخه دفع کړل، بېشکه هماغه دی چې د هر چا اوري او په هر څه پوهېږي.

**د حقیقي ژوند لسم درس:**

په دري دیرشم ایت کې الله تعالی موږ ته په ژوند کې له ګناه څخه د وتلو یوه لاره هم وښوده او هغه دا چې کله موږ او تاسو ته ګناه رامخې ته شي، نو سمدستي ترې باید انکار وکړو. دلته یوسف علیه السلام په خپله خوښه زندان ته د تلو هوډ وکړ. دا کار یې ځکه وکړ چې که زندان ته لاړ نه شي، نو بې حیا ټولنه کې به پاتې شي. په ژوند کې دغه نصیحت په یاد ساتئ، کله چې هم درته ګناه رامخې ته شوه، نو هڅه وکړئ چې ډډه ترې وکړئ، که دا کار ونه کړئ نو ښایسته عقیده به مو خرابه کړي. راځئ چې کېسه نور څه وایي:

﴿ ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰیٰتِ لَیَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰی حِیْنٍ ۝٣٥ وَ دَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَیٰنِ ؕ قَالَ اَحَدُهُمَاۤ اِنِّیْۤ اَرٰىنِیْۤ اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ وَ قَالَ الْاٰخَرُ اِنِّیْۤ اَرٰىنِیْۤ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِیْ خُبْزًا تَاْكُلُ الطَّیْرُ مِنْهُ ؕ نَبِّئْنَا بِتَاْوِیْلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۶﴾ قَالَ لَا يَأْتِيْكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقٰنِهٖٓ اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا بِتَاْوِيْلِهٖ قَبْلَ اَنْ
يَّاْتِيَكُمَا ؕ ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِيْ رَبِّيْ ؕ اِنِّيْ تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ هُمْ
بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾﴾. (یوسف: ۳۵ - ۳۷)

ژباړه: بیا هغوی ته دا فکر ورغی چې د یوې مودې لپاره هغه بندي کړي، په داسې حال کې چې هغوی (د هغه د پاک لمنۍ او په خپله د خپلو مېرمنو د ناوړه چلند) څرګندې نښانې لیدلې وې. بندیخانې ته دوه نور غلامان هم له هغه سره ننوتل. یوه ورځ له هغو نه یو تن یوسف علیه السلام ته وویل: ' ما په خوب کې لیدلي دي چې زه شراب زبېښم، بل وویل: ' ماولیدل چې زما پر سر ډوډۍ ایښې دي او مرغان یې خوري ' دواړو وویل: ' مونږ ته د دې تعبیر وکړه، مونږ وینو چې ته یو ښه سړی یې' یوسف علیه السلام وویل: ' دلته چې کوم خواړه تاسې ته درکول کېږي د هغو له راتګ نه مخکې به زه تاسې ته د دې خوبونو تعبیر وکړم. دا علم له هغو علومو څخه دی چې زما رب ما ته راکړی دی. واقعیت دادی چې ما د هغو خلکو تګلاره پرېښې ده چې پر الله تعالی ایمان نه راوړي او له اخرت نه منکران دي.

**یادونه:** په دې موضوع کې له (۳۸ - ۴۰) پورې ایتونه پرېښودل شوي دي، ځکه چې د هغې ایتونو نېغ په نېغه له کیسې سره کوم تړاو نه و.

﴿ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اَمَّآ اَحَدُكُمَا فَيَسْقِيْ رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ وَ اَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ
فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَّاْسِهٖ ؕ قُضِيَ الْاَمْرُ الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ﴿۴۱﴾ وَ قَالَ لِلَّذِيْ

ظَنَّ اَنَّهٗ نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِیْ عِنْدَ رَبِّكَ ۫ فَاَنْسٰىهُ الشَّیْطٰنُ ذِكْرَ رَبِّهٖ فَلَبِثَ فِی السِّجْنِ بِضْعَ سِنِیْنَ﴾. (یوسف: ۴۱ - ۴۲)

ژباړه: ای د زندان ملګرو! ستاسو د خوب تعبیر دادی چې له تاسو نه یو تن خو به خپل رب (د مصر باچا) ته شراب ورکړي، پاتې شو دوهم، نو هغه به په دار وځړول شي او مرغان به یې سر په ټونګو ټونګو وخوري. هغه خبره فیصله شوه چې تاسې یې پوښتنه کوله. بیا له هغو نه چې د چا په باب دا ګومان و، چې هغه به خوشې کړای شي، هغه ته یوسف علیه السلام وویل: ' خپل رب (د مصرباچا) ته زما یادونه وکړه' خو شیطان هغه داسې په غفلت کې وغورځوه، چې هغه خپل رب (د مصر باچا) ته د هغه وریادول هېر کړل او یوسف علیه السلام ډېر کلونه په زندان کې پاتې شو.

**د حقیقي ژوند یوولسم درس:**

په (۴۲) ایت کې چې څه ذکر شوي، هغه دا دي چې څوک د دې دنیا له ازمېښتونو تېر شوي دي، هغوی له الله تعالی پرته د بل چا مرسته غواړي. موږ خو په ژوند کې له هر ډول ازمېښتونو تېرېږو، نو په دې صورت کې باید له چا مرسته وغواړو؟

کله چې تاسو غواړئ چې په یو شرکت کې دنده ترسره کړئ، نو تاسو له هغه خپل نږدې ملګري یا له هغه خپلوان شخه مرسته غواړئ چې هلته په شرکت کې کار کوي.

کله چې تاسو د یو شي هیله لرئ، نو له بل شخه هم په کې مرسته غواړئ. کله چې یوسف علیه السلام دې ته اړ شو چې چا ته سفارش

وکړي او له زندان څخه یې خلاص کړي، نو پوهېږئ چې هغه څه وکړل؟

په دې حالت کې پر ځای د دې چې له الله تعالی څخه مرسته وغواړي، نو یو چا ته یې سفارش ولېږه، شیطان نوموړی د الله تعالی له یادولو څخه بې پروا کړ، له یوسف علیه السلام څخه هم هېر شوي و، چې د مخلوق پر ځای باید له الله تعالی څخه مرسته وغوښتل شي.

پوهېږئ چې ددې عمل څه نتیجه راووتله؟د همدې غافله کېدو په نتیجه کې یوسف علیه السلام څو کاله نور هم په زندان کې تېر کړل، دلته باید زه نور څه ونه وایم:

﴿ وَ قَالَ الْمَلِكُ اِنِّيْۤ اَرٰى سَبْعَ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّ سَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّ اُخَرَ يٰبِسٰتٍ ؕ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَاُ اَفْتُوْنِيْ فِيْ رُءْيَايَ اِنْ كُنْتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُوْنَ۝ وَ مَا نَحْنُ بِتَاْوِيْلِ الْاَحْلَامِ بِعٰلِمِيْنَ۝ وَ قَالَ الَّذِيْ نَجَا مِنْهُمَا وَ ادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ اَنَا اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِيْلِهٖ فَاَرْسِلُوْنِ۝ قَالُوْۤا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ يُوْسُفُ اَيُّهَا الصِّدِّيْقُ اَفْتِنَا فِيْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّ سَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّ اُخَرَ يٰبِسٰتٍ ۙ لَّعَلِّيْۤ اَرْجِعُ اِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ۝ قَالَ تَزْرَعُوْنَ سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ فِيْ سُنْۢبُلِهٖۤ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ۝ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَّاْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ۝ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَامٌ فِيْهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَ فِيْهِ يَعْصِرُوْنَ۝ ﴾.

(یوسف: ۴۳ - ۴۹)

ژباړه: یوه ورځ پاچا وویل: ما په خوب کې لیدلي دي، چې اووه څربې غواګانې دي، چې اووه خوارې غواوې یې خوري، او د غلې

اووه شنه وږي دي او نور اووه وچ ای درباریانو! ماته د دې خوب تعبیر وښایئ که تاسو د خوبونو پر مطلب پوهیږئ. هغوی وویل: دا خو ګډوډ خوبونه دي او مونږ د دغه شان خوبونو پر مطلب نه پوهیږو. له هغو دوو تنو بندیانو څخه چې یو تن ژغورل شوی و او هغه ته له یوې اوږدې مودې وروسته اوس خبره ور په زړه شوه. هغه وویل: زه تاسو ته د دې معنا دربښیم، ما (زندان ته یوسف ته) ولیږئ. هغه ورغی ویې ویل: یوسفه (علیه السلام)! ای له سره ترپایه رښتینیه! مونږ ته د دې خوب مطلب وښایه چې اووه څربې غواګانې دي اووه خوارې غواګانې یې خوري او اووه شنه وږي دي او اووه وچ ښایي چې زه هغو خلکو ته بېرته ستون شم، هیله ده چې هغوی وپوهیږي. یوسف علیه السلام وویل: تر اوو کلونو پورې به تاسو د کروندو کښتونو په کرکیله بوخت شئ. په دې دوران کې چې تاسو کوم کښتونه لو کړل، له هغو نه صرف لږ غوندې برخه چې ستاسې د خوراک لپاره په درد خوري، راوباسئ او نور په خپلو وږو کې پرېږدئ. بیا به اووه کلونه ډېر سخت راشي. په هغه زمانه کې به هغه ټوله غله وخوړله شي، چې تاسو به یې د هغه وخت لپاره راغونده کړئ. که څه وسپموئ، نو هماغه به وي چې تاسې خوندي ساتلې وي. له هغه وروسته به یو کال داسې راشي چې په هغه کې به د رحمت په اورښتونو سره د خلکو فریاد واورېدل شي او هغوی به په هغه وخت کې شیره وزبېښي.

## د حقیقي ژوند دولسم درس:

په پورتني ایت کې د ژوند لرې پړاو ته اشاره وشوه او هغه دا چې اووه کاله به خوشحالۍ کې تېر شي، له هغې وروسته به اووه کاله وچکالي راشي. په ژوند کې زموږ قسمتونه هم یو شان نه دي، کله یو قسم او کله بل قسم، خو موږ باید له دې کار څخه ګټه پورته کړو. دا چې کله حالات یو ډول او کله بل ډول وي، نو په دې اړه د یوسف علیه السلام نصیحت د یادونې وړ دی، هغه باید په ذهن کې یاد وساتو، کله چې په خوشحالۍ کې شپې ورځې تېروئ، نو څه اندازه مال نورو کلونو ته هم پرېږدئ، ځکه چې حالات خو یو شان نه وي، خو دا په یاد ساتئ چې له زحمت وروسته راحت شته.

راځئ چې راتلونکي ایتونه مطالعه کړو:

﴿وَ قَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ اِلٰى رَبِّكَ فَسْئَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِيْ قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ ؕ اِنَّ رَبِّيْ بِكَيْدِهِنَّ عَلِيْمٌ۝ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوْسُفَ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ ۫ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ وَ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ۝﴾. (یوسف: ۵۰ - ۵۱)

ژباړه: پاچا وویل: هغه ما ته راولئ. خو کله چې استازی یوسف (علیه السلام) ته ورغی، نو هغه وویل: 'خپل رب' پاچا' ته بېرته ورشه او له هغه نه پوښتنه وکړه چې د هغو ښځو څه معامله ده چې خپل لاسونه یې پرې کړي وو؟ زما رب د هغو له مکارۍ نه ښه خبر دی' پاچا له هغو ښځو نه پوښتنه وکړه: تاسې د هغه وخت څه تجربه لرئ، چې د یوسف (علیه السلام) د مینې جلبولو هڅه مو کړې وه؟ ټولو په

یو اواز وویل حاش لله، مونږ خو په هغه کې د بدۍ یو بخری قدرې هم ونه مونده. د عزیز مېرمنې وویل: اوس حق څرګند شو، هغه خو همدا زه وم چې د هغه د مینې د راجلبولو هڅه مې کړې وه، بېشکه چې هغه بېخي رېښتینی دی'.

## د حقیقي ژوند دیارلسم درس:

په لاندې ایت کې موږ ته الله تعالی حکم کوي چې حق تل پر باطل برلاسی کېږي، دا له دې حقیقت پرته چې کله یې چا د ایمان ازمېښت کېږي، نو هغه ته په ښکاره توګه داسې ښکاري چې پر حق باطل برلاسی شو. هغو کسانو ته پکار دي چې د الله تعالی له خوا په ازمېښت کې راګېر دي، چې د صبر لمن پرېنږدي، که هرڅومره وروسته وي، دا دې په یاد لري چې حق غالبه کېږي، لاندې ایت همدې ته اشاره کوي:

﴿ذٰلِكَ لِيَعۡلَمَ اَنِّىۡ لَمۡ اَخُنۡهُ بِالۡغَيۡبِ وَ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَهۡدِىۡ كَيۡدَ الۡخَآٮِٕنِيۡنَ۝ وَ مَاۤ اُبَرِّئُ نَفۡسِىۡ‌ ۚ اِنَّ النَّفۡسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوۡٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّىۡ‌ ؕ اِنَّ رَبِّىۡ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ۝﴾ .(یوسف: ۵۲ - ۵۳)

ژباړه: یوسف (علیه السلام وویل: له دې نه زما مطلب دا و، چې (عزیز) په دې وپوهېږي چې ما پسې شا له هغه سره خیانت نه و کړی او دا چې څوک خیانت کوي، الله تعالی د هغوی چلونه د بري په لاره نه سموي. زه د خپل نفس ښه نه وایم، نفس خو بدۍ ته هڅوونکی دی، مګر دا چې پر چا زما د رب رحمت وي، بېشکه زما رب ډېر بښونکی او رحم کوونکی دی.

## د حقیقي ژوند څوارلسم درس:

دلته الله تعالی موږ ته راښيي چې په طبیعي توګه خو انسان بدۍ ته مایله کیږي، خو څوک چې له دې څخه ژغوري، پر هغه د الله تعالی ځانګړې رحمت وي.

تاسو څنګه کولی شئ، څو په هغو خلکو کې وشمېرل شئ، چې الله تعالی پرې خپل رحمت کړی دی؟

ځواب یې دا دی چې کله تاسو له ځان څخه وفادار مسلمان جوړ کړئ، له پیاوړي ایمان وروسته نېکو اعمالو ته مخ کړئ، نو کولی شئ چې په نېکانو بنده ګانو کې وشمېرل شئ. اوس د یوسف علیه السلام د کیسې راتلونکې برخې ته خپل پام راواړوئ:

﴿وَ قَالَ الۡمَلِکُ ائۡتُوۡنِیۡ بِہٖۤ اَسۡتَخۡلِصۡہُ لِنَفۡسِیۡ ۚ فَلَمَّا کَلَّمَہٗ قَالَ اِنَّکَ الۡیَوۡمَ لَدَیۡنَا مَکِیۡنٌ اَمِیۡنٌ﴾. (یوسف: ۵۴)

ژباړه: پاچا وویل: هغه ما ته راولئ چې زه هغه د ځان لپاره مخصوص کړم. کله چې یوسف (علیه السلام) له هغه سره خبرې وکړې، نو هغه وویل: اوس ته زما په وړاندې قدر او منزلت لرې او ستا پر امانتدارۍ پوره ډاډمن یم.

## د حقیقي ژوند پنځلسم درس:

څوک به ووایي چې یو داسې کس چې خپلو ورونو کوهي او څاه ته غورځولی وي، زندان ته هم تللی وي او بیا د مصر د واکمنۍ یوه برخه وروسپارل شي، له دې سره ورته دا هم وویل شي: ته زموږ په وړاندې یو امانتدار شخصیت یې او موږ پر تا باور کوو.

دا يوازې پر الله تعالى د ايمان طاقت و، هېڅكله د الله تعالى له رحمت څخه مه نااميده كېږئ، كه هر څومره حالات سخت شي، اوس تاسو لاندې ايت ته خپله پاملرنه واړوئ:

﴿ قَالَ اجْعَلْنِىْ عَلٰى خَزَآئِنِ الْاَرْضِ ۚ اِنِّىْ حَفِيْظٌ عَلِيْمٌ۝ وَ كَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ فِى الْاَرْضِ ۚ يَتَبَوَّاُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَآءُ ؕ نُصِيْبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَّشَآءُ وَ لَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ۝ وَ لَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ كَانُوْا يَتَّقُوْنَ۝﴾. (يوسف: ۵۵ – ۵۷)

ژباړه: يوسف عليه السلام وويل: د هېواد خزانې ماته وسپاره، زه ساتونكى هم يم او عالم هم! په دې توګه مونږ په هغه هېواد كې د يوسف عليه السلام لپاره د حاكميت لاره هواره كړه. د هغه خوښه وه چې په هغه (هېواد) كې چې چېرته يې غوښتل، ځانته ځاى جوړ كړي مونږ خپل رحمت چاته مو چې خوښه شي، ورپه برخه كوو، د ښو كسانو اجر مونږ نه ضايع كوو. او د اخرت اجر د هغو كسانو لپاره ډېر غوره دى، چې ايمان راوړي او د الله تعالى له وېرې سره كار كوي.

## د حقيقي ژوند شپاړسم درس:

انسان څنګه كولى شي چې په سختو حالاتو كې خپل ايمان وساتي؟ په دې صورت كې دې هغه ايت تلاوت كړي چې الله تعالى په كې د هغو خلكو يادونه كړې، چې پر ازمېښت اخته شوي دي او فرمايلي يې دي، چې مونږ د نېكانو اجر نه ضايع كوو.

كله چې د خوشحالۍ او ابادۍ اووه كاله تېر شول، نو د وچكالۍ اووه كلونه شروع شول. يعقوب عليه السلام او د هغه زامن هم له وچكالۍ څخه په تكليف كې شول. د يوسف عليه السلام ورونه مصر

ته د دې لپاره لاړل چې له هغه ځايه غله دانه راوړي د مصر حکومت دغه غله دانه د ابادۍ په کلونو کې ذخيره کړې وه. د مصر حکومت لخوا يوسف عليه السلام خلکو ته د مرستې ورکولو په دنده ګمارل شوی و، چې په دې وخت کې د مصر د مالیې وزیر و.

﴿وَ جَآءَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَ هُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٨﴾ وَ لَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُوْنِيْ بِاَخٍ لَّكُمْ مِّنْ اَبِيْكُمْ اَلَا تَرَوْنَ اَنِّيْۤ اُوْفِي الْكَيْلَ وَ اَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿٥٩﴾ فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِيْ بِهٖ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِيْ وَ لَا تَقْرَبُوْنِ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ اَبَاهُ وَ اِنَّا لَفٰعِلُوْنَ ﴿٦١﴾ وَ قَالَ لِفِتْيٰنِهِ اجْعَلُوْا بِضَاعَتَهُمْ فِيْ رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُوْنَهَاۤ اِذَا انْقَلَبُوْۤا اِلٰۤى اَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٦٢﴾ يٰۤاَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ فَاَرْسِلْ مَعَنَاۤ اَخَانَا نَكْتَلْ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿٦٣﴾ قَالَ هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ اِلَّا كَمَاۤ اَمِنْتُكُمْ عَلٰۤى اَخِيْهِ مِنْ قَبْلُ ؕ فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا ۪ وَّ هُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٦٤﴾ فَلَمَّا رَجَعُوْۤا اِلٰۤى اَبِيْهِمْ قَالُوْا وَ لَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ اِلَيْهِمْ ؕ قَالُوْا يٰۤاَبَانَا مَا نَبْغِيْ ؕ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ اِلَيْنَا ۚ وَ نَمِيْرُ اَهْلَنَا وَ نَحْفَظُ اَخَانَا وَ نَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيْرٍ ؕ ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ ﴿٦٥﴾ قَالَ لَنْ اُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ حَتّٰى تُؤْتُوْنِ مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِيْ بِهٖۤ اِلَّاۤ اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ۚ فَلَمَّاۤ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿٦٦﴾ وَ قَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّ ادْخُلُوْا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ وَ مَاۤ اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۚ وَ عَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿٦٧﴾﴾ (يوسف: ٥٨ - ٦٧)

زياره: د يوسف (عليه السلام) وروڼه مصر ته راغلل او د هغه په وړاندې حاضر شول، نو هغوی يې وپېژندل خو هغوی له هغه سره نا

اشنا وو (یوسف علیه السلام یې ونه پېژانده) بیا چې کله هغه د هغو ثته تیاره کړله؛ نو د خوځېدو په وخت کې یې هغو ته وویل 'خپل میرنی ورور ماته راولئ نه ګورئ چې زه په څه شان پیمانه ډکه اړوم او څنګه مېلمه پالنه کوم که تاسې هغه رانه ولئ نو له ما سره ستاسې لپاره څه غله نه شته، بلکې تاسو به ما ته نژدې هم رانه شئ هغو وویل 'مونږ به هڅه وکړو چې پلار د هغه په لېږلو راضي شي او مونږ به دا کار هرو مرو وکړو' یوسف علیه السلام غلامانو ته اشاره وکړه چې دوی چې د غلې په بدل کې کوم مال ورکړی دی، هغه په پټه د دوی په څتو کې کېږدئ دا کار یوسف علیه السلام په دې هیله وکړ چې هغوی به کور ته په رسېدو سره خپل بېرته ورکړی شوی مال وپېژني (یا به یې ددې پېرزوینې احسان سترګې ونیسي) او کېدای شي چې بیا راشي کله چې هغوی خپل پلار ته ورغلل نو ویې ویل' پلاره په راتلونکي وخت کې مونږ ته غله نه راکول کېږي، نو ته زمونږ وروړ له مونږ سره ولېږه چې مونږ غله راواخلو رایي وړو او د ده ساتنه زمونږ پر غاړه ده' پلار ځواب ورکړ' ایا زه پر تاسې دده په باب همغسې اعتماد وکړم لکه چې له دې نه مخکې مې دده د ورور په باب درباندې کړی دی؟ الله تعالی ډېر ښه ساتندوی دی او هغه تر ټولو زیات رحم کونکی دی' بیا کله چې هغوی خپلې څتې پرانیستلې، نو ویې لیدل چې د هغو مال هم بېرته ورکړای شوی دی دا یې چې ولیدل هغوی وویل پلاره! نور مونږ څه غواړو، ګوره دا زمونږ مال هم بېرته راکړی شوی دی نو اوس به مونږ ولاړ شو او د خپلې کورنۍ لپاره به غله راوړو، د خپل ورور ساتنه به هم وکړو او یو اوښ بار به نور هم زیات راوړو، دغومره غله به په اسانۍ سره

زیاته شي. د هغوی پلار وویل: زه به هېڅکله هغه له تاسې سره ونه لېږم، تر څو پورې چې تاسې د الله تعالی په نوم له ما سره ژمنه ونه کړئ، چې دی به هرومرو بېرته ما ته راولئ؛ مګر دا چې تاسې چېرته محاصره کړای شئ. کله چې هغوی ورسره خپل خپل تعهد وکړ؛ نو هغه وویل: ګورئ! زمونږ پر دې وینا الله تعالی ساتونکی دی. بیا هغه وویل: زما زامنو! د مصر پایتخت ته له یوې دروازې مه ننوځئ؛ بلکې له بېلابېلو دروازو ورشئ، خو زه د الله تعالی له غوښتنې څخه تاسې نه شم ژغورلای، د الله تعالی له امر نه پرته د بل هېچا امر نه چلېږي، پر همغه ما توکل کړی دی او هر څوک چې توکل کوي پر هماغه دې وکړي.

## د حقیقي ژوند اوولسم درس:

کله چې څوک خپل ګران زوی یا خپل ګران خپلوان له لاسه ورکړي، نو پر هغوی به څه تېرېږي، په ځانګړي توګه مور او پلار چې کله زوی ورک کړي، نو د هغوی په زړه به څه تورې تیارې پرتې وي؟
هغوی بیا یوازې الله تعالی ته خپل لاسونه پورته کوي، په ډېره عاجزۍ یې لاسونه لپه کړي وي. اوس تاسو د یعقوب علیه السلام ځواب ته وګورئ چې خپل زوی هغو کسانو (د دې زوی ناسکه ورونو) ته په لاس ورکوي چې یو ځل یې ترې په اصطلاح خوږ زوی ورک کړی یا وژلی دی، یعقوب علیه السلام ورته وایي چې حکم او فیصلې یوازې د الله تعالی دي، زه یوازې پر هماغه ذات تکیه او امید ساتم. په موږ کې به څومره داسې کسان وي، چې کله خپل زوی یا بل څوک له لاسه ورکړي او بیا داسې الفاظ استعمال کړي! دا

خبره تل په یاد ساتئ چې الله تعالی خپل ازمېښت په سختو شېبو کې کوي، نه په اسانه وخت کې.

﴿وَ لَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَيْثُ اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ ؕ مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا حَاجَةً فِيْ نَفْسِ يَعْقُوْبَ قَضٰىهَا ؕ وَ اِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنٰهُ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَ لَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰۤى اِلَيْهِ اَخَاهُ قَالَ اِنِّيْۤ اَنَا اَخُوْكَ فَلَا تَبْتَىِٕسْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِيْ رَحْلِ اَخِيْهِ ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ ۝ قَالُوْا وَ اَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّا ذَا تَفْقِدُوْنَ ۝ قَالُوْا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَ لِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّ اَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ۝ قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْاَرْضِ وَ مَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ۝ قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗۤ اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ۝ قَالُوْا جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ فِيْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ۝ فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ؕ كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاْخُذَ اَخَاهُ فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّاۤ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ وَ فَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ ۝﴾. (یوسف: ۶۸ - ۷۶)

ژباړه: او پېښه همدا وشوه چې کله هغوی د خپل پلار له لارښوونې سره صحیح ښار ته (له بېلابېلو دروازو څخه) ورداخل شول؛ نو د هغه دغه احتیاطي تدبیر د الله تعالی د غوښتنې په مقابله کې هغو ته هیڅ په درد ونه شو خوړلی، خو یوازې د یعقوب علیه السلام په زړه کې چې یوه تلوسه وه، د هغې پوره کولو لپاره هغه تر خپلې وسې هڅه وکړه. بېشکه هغه زمونږ د ورښودلي علم خاوند و، خو زیاتره

خلک د موضوع پر حقیقت نه پوهېږي دوی چې د یوسف (علیه السلام) حضور ته ورغلل نو هغه خپل ورور ځانته بېل وغوښت او ورته یې وویل چې زه ستا همغه ورور یم (چې ورک شوی و). اوس ته د هغو چارو اند ېښنه مه کوه چې دوی کړي دي. یوسف (علیه السلام) چې کله د دوی ختمې وتړلې، نو هغه د خپل سکني ورور په خته کې خپل جام کېښود. بیا یو اواز کوونکي نارې کړې: ای کاروانیانو! تاسې غله یاستئ'. هغوی راوګرځېدل پوښتنه یې وکړه' ستاسې څه شی ورک شوی؟ د پاچا نوکرانو وویل: مونږ د پاچا جام ورک کړی دی. هر څوک یې چې راوړي د هغه لپاره د یو اوښ بار مکافات دی، دا به زما په غاړه وي'. دغو ورونو وویل: ' په الله تعالی قسم دی، تاسې ښه پوهېږئ چې مونږ دغه هېواد ته د فساد کولو لپاره راغلي نه یو او مونږ غله هم نه یو. هغوی وویل: ښه نو که ستاسې خبره دروغ ثابته شي، نو د غله څه سزا ده؟هغو وویل' د هغه سزا؟ د چا له ختمې نه چې څه شی راووت، هغه دې خپله په خپله سزا کې وساتل شي، زمونږ په نزد خو داسې ظالمانو ته د سزا ورکولو همدا مقررات دي. نو یوسف علیه السلام له خپل سکني ورور نه مخکې د هغو د ختمو په لټولو پیل وکړ، بیا یې د خپل ورور له ختمې نه ورک شوی شی په لاس راوړ. په دې ډول مونږ په خپل تدبیر سره د یوسف علیه السلام ملاتړ وکړ. د هغه دا کار نه و، چې د پاچا په دین (یعنې د مصر په پاچایي قانون) کې یې خپل ورور نیولی وای؛ مګر دا چې الله تعالی همدغسې وغواړي. زمونږ چې چاته خوښه شي د هغه درجې لوړوو، او یو علم لرونکی داسې دی چې له هر عالم نه لوړ دی.

## د حقیقي ژوند اتلسم درس:

کله چې موږ کوچنیان وو، نو له خپل مور او پلار څخه به مو پوښتنه کوله چې ولې زما له فلاني ملګري سره سایکل شته او له ما سره نه شته؟ په همدې ترتیب کله چې د ځوانۍ په درشل مو پښه کېښوده، نو پخوانی فکر راسره بیا پیدا شو، چې ولې زموږ له ملګري سره ښې موټرې، پیسې او لوړې بنګلې شته، خو موږ ترې بې برخې یو. الله تعالی د دې الفاظو ځواب په لاندې ایت کې په صراحت سره ورکوي، چې له هغې سره موږ ته خوشحالي راپه برخه کېږي او اجر مو هم په کې شته.

رائځئ چې وګورو:

﴿ قَالُوٓا۟ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى نَفْسِهِۦ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ۝ ﴾. (یوسف: ۷۷)

ژباړه: دوی وویل: که دی غلا وکړي، نو هېڅ د حیرانتیا خبره نه ده، له دې نه مخکې د ده ورور یوسف (علیه السلام) هم غلا کړې ده. یوسف علیه السلام دا خبره په زړه وزغمله، خو حقیقت یې هغوی ته څرګند نه کړه. یوازې (ترشونډو لاندې یې) دومره وویل چې ډېر زیات بد خلک یاستئ، تاسې (پر ما باندې چې مخامخ) کوم تور لګوئ د هغه پر حقیقت الله تعالی ډېر ښه پوهېږي.

## د حقيقي ژوند نولسم درس:

ډېر خلک به داسې وي چې ستاسو په وړاندې به پر تاسو دروغ وايي، خو څه مو چې له وسه پوره نه وي، نه به شئ کولی چې هغه پوه کړئ که داسې وشي، نو ايا تاسو به خپلو ماشومانو او بچيو ته په غوسه شئ او تاسو به صبر وکړئ؟

دا چې تاسو دا خبره کوئ چې زه پوهېږم، د دې خبرې ويل خو اسانه دي، خو کول يې سخت کار دی. تاسو ګورئ چې يوسف عليه السلام په ډېر سکون سره يوازې په زړه کې دا خبره وکړه چې تاسو څومره بد خلک ياستئ، په داسې حال کې چې الله تعالی زما پر حالت ډېر ښه پوهېږي.

لږ تر لږه دا نسخه خو يو يا دوه ځلې عملي کړئ:

﴿قَالُوْا يٰۤاَيُّهَا الْعَزِيْزُ اِنَّ لَهٗۤ اَبًا شَيْخًا كَبِيْرًا فَخُذْ اَحَدَنَا مَكَانَهٗ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ۝ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗۤ ۙ اِنَّاۤ اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ۝ فَلَمَّا اسْتَيْـَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِيًّا ؕ قَالَ كَبِيْرُهُمْ اَلَمْ تَعْلَمُوْۤا اَنَّ اَبَاكُمْ قَدْ اَخَذَ عَلَيْكُمْ مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَ مِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُّمْ فِيْ يُوْسُفَ ۚ فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ حَتّٰى يَاْذَنَ لِيْۤ اَبِيْۤ اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ لِيْ ۚ وَ هُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ۝﴾

(يوسف: ۷۸ – ۸۰)

ژباړه: هغوی وويل: ای د اقتدار واکمنه (عزيزه)! د ده پلار ډېر زيات سپين ږيری سړی دی، ته د ده په ځای له مونږ نه کوم يو تن ونيسه، مونږ تا ډېر نيک زړی انسان وينو. يوسف عليه السلام وويل: الله تعالی ته پناه وروړم، بل څوک مونږ څنګه نيولی شو. که مونږ هغه څوک پرېږدو چې مونږ له هغه سره مال موندلی دی او بل څوک

ونیسو نو مونږ به ظالمان یو. کله چې هغوی له یوسف (علیه السلام) نه ناهیلي شول، نو په یوه ګوښه کې یې په خپلو مینځو کې په مشوره لاس پورې کړ. له هغوی نه چې کوم یو تر ټولو مشر و، هغه وویل: ایا تاسو نه پوهېږئ چې ستاسو پلار له تاسو نه د الله تعالی په نوم څه تعهد او ژمنه اخیستې ده. او له دې نه مخکې چې تاسو د یوسف (علیه السلام) په باب کوم زیاتي کړی دی، هغه هم تاسو ته معلوم دی، اوس خو به زه له دې ځایه هېڅکله لاړ نه شم، تر څو پورې چې زما پلار ما ته اجازه رانه کړي، او یا الله! زما په باب څه فیصله ونه کړي چې هغه تر ټولو ښه فیصله کوونکی دی.

**د حقیقي ژوند شلم درس:**

په دې ایتونو کې دوه مهم درسونه پراته دي. لومړی درس دا دی چې څوک جرم وکړي، هغه ته باید سزا ورکول شي، هغه کس ته دې ورنه کړل شي چې د مجرم پر ځای د سزا تېرولو غوښتنه وکړي. دویم درس دا دی چې هېڅوک باید له خپلې خولې او ژمنې شخه وانه وړي. داسلامي امت د مشرانو شخه مې دا هیله ده چې کومې ژمنې یې له خپل رعیت سره کړې وي، هغه ضرور پوره کړي، له خپلې ژبې دې نه اوړي.

﴿ارْجِعُوٓا اِلٰٓى اَبِيْكُمْ فَقُوْلُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ ۚ وَ مَا شَهِدْنَآ اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَ مَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ ۝۸۱ وَ سْـَٔلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ كُنَّا فِيْهَا وَ الْعِيْرَ الَّتِيْٓ اَقْبَلْنَا فِيْهَا ؕ وَ اِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ۝۸۲ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِيْ بِهِمْ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝۸۳﴾ (یوسف: ۸۱-۸۳)

ژباړه: تاسو لاړ شئ خپل پلار ته ووایئ چې پلاره! ستا زوی غلا کړې ده. مونږ هغه په غلا نه دی لیدلی، څه چې مونږ ته معلوم شوي، همغه بیانوو، او د غیبو ساتنه خو مونږ نه شو کولای. ته د هغه کلي له خلکو نه پوښتنه وکړه چې مونږ په کې وو. له هغه کاروان نه پوښتنه وکړه چې مونږ ورسره راغلي یو. مونږ په خپله وینا کې بېخي رښتیني یو. پلار ددې سرګذشت په باب ووېل: په اصل کې ستاسې نفس ستاسو لپاره یوه بله ستره خبره اسانه کړې ده. ښه ده پر دې به هم صبر وکړم او په ښه شان به یې وکړم. دا څه لرې نه ده چې الله تعالی هغوی ټول له ما سره یوځای کړي، هغه په هر څه پوهېږي او د هغه ټول کارونه پرحکمت ولاړ دي.

**د حقیقي ژوند یوویشتم درس:**

تاسو ګورئ چې یعقوب علیه السلام په قیاسي ډول خپل بل زوی هم له لاسه ورکړ، هغه به په دې حالت کې څنګه و، په زړه به یې څه تېرېدل؟ هغه په دې سختو شېبو کې د الله تعالی لپاره له صبر څخه کار اخلي، شیطان ته زمینه نه برابروي چې ګویا هغه دې په دې کار کې مداخله وکړي. کله چې له تاسو سره په ژوند کې بې انصافي وشي، نو تاسو هم یوازې پر الله تعالی بشپړ اعتماد وساتئ او بس.

﴿ وَ تَوَلّٰى عَنۡهُمۡ وَ قَالَ يٰۤاَسَفٰى عَلٰى يُوۡسُفَ وَ ابۡيَضَّتۡ عَيۡنٰهُ مِنَ الۡحُزۡنِ فَهُوَ كَظِيۡمٌ ۝٨٤ قَالُوۡا تَاللّٰهِ تَفۡتَؤُا تَذۡكُرُ يُوۡسُفَ حَتّٰى تَكُوۡنَ حَرَضًا اَوۡ تَكُوۡنَ مِنَ الۡهٰلِكِيۡنَ ۝٨٥ قَالَ اِنَّمَاۤ اَشۡكُوۡا بَثِّىۡ وَ حُزۡنِىۡۤ اِلَى اللّٰهِ وَ اَعۡلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ۝٨٦ ﴾. (یوسف: ۸۴-۸۶)

ژباړه: بیا یې له هغو نه مخ واړاوه او ویې ویل چې هی هی یوسفه! هغه په زړه غمونه زغمل او د سترګو تور یې سپین شوي وو. زامنو یې وویل: د الله تعالی لپاره! ته خو تل همدا یوسف یادوې. د دې وار رارسېدلی چې د هغه په غم کې خپل ځان ویلې یا هلاک کړې. هغه وویل: زه د خپل خپګان او د خپل غم فریاد له الله تعالی نه پرته بل چا ته نه کوم او د الله تعالی لخوا نه چې څنګه زه خبر یم، تاسې نه یاستئ.

**د حقیقي ژوند دوه ویشتم درس:**

کله چې یعقوب علیه السلام د دواړو زامنو په غم کې رب العلمین ته فریاد وکړ، نو له ډېره غمه یې د دواړو سترګو څخه لاسووینځه، په دې حالت کې یې له غوسې او چیغو څخه کار وانه خیسته.

تاسو به دا خبره کوئ چې موږ به په داسې حالت کې چاته په غوسه شو، خپلې مېرمنې ته او که خپلو بچیو ته؟

تر ټولو غوره خبره هغه ده، چې یعقوب علیه السلام کړې ده، ویې ویل: زه د خپل خپګان فریاد یوازې رب العلمین ته کوم او بس.

هو! پکار هم هداسې ده، چې باید خپل پالونکي ته فریاد وشي، نه بنده ګانو ته، ځکه چې رب ښه اورېدونکی او پوه ذات دی، هغه د دې په بدل کې بنده ته انعامات هم ورکوي، تر هغې پورې باید صبر وکړئ.

﴿يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَ اَخِيْهِ وَ لَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ۝۸۷﴾ (یوسف: ۸۷)

ژباړه: زما زامنو! لاړ شئ د یوسف (علیه السلام) او د هغه د ورور څه پته ولټوئ، د الله تعالی له رحمت څخه مه نا امیده کېږئ! ، د هغه له رحمت نه کافران نا هیلي کېږي.

**د حقیقي ژوند درویشتم درس:**

په دې ایتونو کې د نورو خلکو په ګډون زموږ لپاره هم پیغام پروت دی. فرضاً تاسو پر دې پوه شوئ چې مېرمنه مو د سرطان ناروغي لري یا د شپې له خوا په مرمۍ ولګېده، نو د الله تعالی له رحمت څخه مه نااميده کېږئ. هره ورځ په لکونو مسلمان د الله تعالی د رحمت لمن پرېږدي، په لکونو خلک د لوږې ښکار شوي دي، له دې خلکو څخه ډېر یې بې کوره دي، سربېره پر دې الله تعالی بیا هم موږ ته هدایت او لارښوونه کوي، چې که هر څومره حالات پر تاسو سخت شي، نو زما له رحمت څخه مه نااميده کېږئ، زما له رحمت څخه خو هغه خلک نااميده کېږي، چې کافران دي.

دا په یاد لرئ چې ایمان یوازې دې ته نه وایي چې کوم شیان په سترګو ګورئ، بس پر هغې ایمان راوړئ، نه بلکې ایمان دې ته وایي چې پر غیبو شیانو ایمان راوړئ.

﴿ فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا يَاأَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُزْجَاةٍ فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّ اللَّهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ ۝٨٨ قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَا فَعَلْتُمْ بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنْتُمْ جَاهِلُونَ ۝٨٩ قَالُوا أَإِنَّكَ لَأَنْتَ يُوسُفُ ۖ قَالَ أَنَا يُوسُفُ وَهَٰذَا أَخِي ۖ قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا ۖ إِنَّهُ مَنْ يَتَّقِ وَ

يَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝ قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدۡ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَ
إِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ۝ ﴾. (يوسف: ۸۸- ۹۱)

ژباړه: کله چې دا خلک مصر ته لاړل، د يوسف عليه السلام حضور ته ورغلل، نو يې عرض وکړ: ای واکمن سرداره! مونږ او زمونږ کورنۍ په سخت کړاو کې اخته يو، او مونږ يو څه ناچيزه غونډې پانګه له ځانه سره راوړې ده، ته مونږ ته پوره غله راکړه او خيرات راباندې وکړه، الله تعالى خيرات کوونکو ته مکافات ورکوي. د دې په اورېدو يوسف عليه السلام نور ځنډ ونه کړ هغه ووېل: ايا تاسو ته د دې څه معلومات شته چې تاسې له يوسف عليه السلام او د هغه له ورور سره څه کړي دي؟ کله چې تاسې ناپوهان وئ؟ هغوی (تکان وخوړ) ويې ويل: ايا ته يوسف عليه السلام يې؟ هغه ووېل هو! زه يوسف يم او دا زما ورور دی. الله تعالى پر مونږ احسان وکړ. حقيقت دادی که څوک له تقوی او صبر نه کار واخلي، نو د الله تعالى په وړاندې د دغسې نېکو خلکو بدله نه ضايع کېږي. هغوی ووېل: په الله تعالى قسم! چې تا ته الله تعالى پر مونږ فضيلت دربښلی او په رښتيا چې مونږ خطا کاران وو.

## د حقيقي ژوند څلرويشتم درس:

دا يو منلی حقيقت دی، چې الله تعالى نېکانو بنده ګانو ته پر بدکارانو ترجيح ورکوي، نو ځکه هېڅکله دې د الله تعالى له رحمت څخه نه نااميده کېږي او د هغو مسلمانانو څخه دې نه ګرځي، چې هغوی داسې فکر کوي چې ګويا اسلام هغوی په ژوند کې له ناکامۍ سره مخ کوي او له همدې وجې نه يې د اسلام په ډېر ارکانو عمل

پربښی وي. دا چې موږ د کیسې پای ته نږدې شوي یو، نو په دې هیله یم چې تاسو به ضرور څه نا څه پوه شوي یاستئ چې هغه خلک په اخرت کې د بریالیتوب مستحق دي چې پر الله تعالی یې پوره ایمان راوړی وي.

﴿ قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٩٢﴾ ﴾.

(یوسف: ۹۲)

ژباړه: هغه ځواب ورکړ: نن پر تاسو کومه پړه نه شته، الله تعالی دې تاسو ته بښنه وکړي، هغه تر ټولو زیات رحم کوونکی دی.

**د حقیقي ژوند پنځه ویشتم درس:**

پوهېږئ، چې له دومره بدو سره بیا هم یوسف علیه السلام له خپلو ناسکه ورونو سره څه وکړل؟ هغوی ته یې له الله تعالی څخه بښنه وغوښته او د هغوی بدي یې د شیطان له لوري یوه دسیسه وبلله. تاسو هم خپل ملګري، خپلوان او ګاونډیان یوازې د الله تعالی د رضاء په خاطر وبښئ، ځکه چې د یوسف علیه السلام سره چې څومره بد شوي دي، هومره به له بل چا سره ونه شي.

﴿ اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ ۖ لَوْلَا أَن تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾ قَالُوا تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا ۖ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾ قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي ۖ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾ فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ آوَىٰ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ وَقَالَ

ادْخُلُوْا مِصْرَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِیْنَ ﴿۹۹﴾ وَ رَفَعَ اَبَوَیْهِ عَلَی الْعَرْشِ وَ خَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا ۚ
وَ قَالَ یٰۤاَبَتِ هٰذَا تَاْوِیْلُ رُءْیَایَ مِنْ قَبْلُ ؗ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّیْ حَقًّا ؕ وَ قَدْ اَحْسَنَ بِیْۤ
اِذْ اَخْرَجَنِیْ مِنَ السِّجْنِ وَ جَآءَ بِكُمْ مِّنَ الْبَدْوِ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّیْطٰنُ بَیْنِیْ وَ
بَیْنَ اِخْوَتِیْ ؕ اِنَّ رَبِّیْ لَطِیْفٌ لِّمَا یَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِیْمُ الْحَكِیْمُ ﴿۱۰۰﴾ رَبِّ قَدْ
اٰتَیْتَنِیْ مِنَ الْمُلْكِ وَ عَلَّمْتَنِیْ مِنْ تَاْوِیْلِ الْاَحَادِیْثِ ۚ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۫
اَنْتَ وَلِیّٖ فِی الدُّنْیَا وَ الْاٰخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِیْ مُسْلِمًا وَّ اَلْحِقْنِیْ بِالصّٰلِحِیْنَ ﴿۱۰۱﴾ ذٰلِكَ مِنْ
اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ نُوْحِیْهِ اِلَیْكَ ۚ وَ مَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْۤا اَمْرَهُمْ وَ هُمْ
یَمْكُرُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ ﴾. (یوسف: ۹۳- ۱۰۲)

ژباړه: ځئ زما دغه کمیس درسره یوسئ او زما د پلار پر مخ یې واچوئ، د هغه بینایي به بېرته ورکړل شي او خپله ټوله کورنۍ ما ته راولئ. کله چې دغه کاروان (له مصر نه) روان شو، نو د هغوی پلار (په کنعان کې) وویل: زه د یوسف علیه السلام خوشبویي محسوسوم، نه چې تاسې دا ووایئ چې زه په زړښت کې کاواکه شوی یم. د کور خلکو وویل: په الله تعالی قسم ته لا تر اوسه پورې په همغه زاړه سودایي توب کې یې. نو کله چې زېری راوړونکی راغی، هغه د یوسف (علیه السلام) کمیس د یعقوب علیه السلام پر مخ وغوړاوه او په ناڅاپي ډول د هغه د سترګو دید بېرته اعاده شو، په دې وخت کې هغه وویل: ما تاسو ته نه وو ویلي چې زه د الله تعالی له لوري پر هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ؟ ټولو وویل: پلاره اوس زمونږ د ګناهونو د بښنې کېدو لپاره دعاء وکړه، په رښتیا چې مونږ خطاکاران وو. هغه وویل: زه به له خپل رب نه ستاسو لپاره بښنه

وغواړم، هغه ډېر بښونکی او رحم کوونکی دی. نو کله چې دوی یوسف علیه السلام ته ورسېدل، هغه خپل مور او پلار له خپل ځان سره کېنول او (خپلې ټولې کورنۍ ته یې) وویل: ځئ اوس مصر ته لاړ شئ، که د الله تعالی خوښه وي نو په امن او بې غمۍ سره به اوسئ. (ښار ته له ننوتلو وروسته) هغه خپل مور او پلار پاڅول او له ځانه سره يې پر تخت کېنول او ټول د هغه په وړاندې بې واکه په سجده ټيټ شول. یوسف علیه السلام وویل: پلاره ! دا زما د هغه خوب تعبیر دی، چې ما مخکې لیدلی و، زما رب هغه پر حقیقت بدل کړ. د هغه ښه پېرزوینه ده چې زه یې له زندان څخه راوویستم او تاسو یې له بېديا نه راوستلئ له ما سره یې یو ځای کړئ. وروسته له هغه چې شیطان زما او زما د ورونو تر منځ فساد اچولی و. واقعیت دا دی چې زما رب په نالیدلو تدبیرونو سره خپله غوښتنه ترسره کوي، بېشکه هغه د علم او حکمت څښتن دی. ای زما ربه! تا ماته حکومت راکړی او ماته دې د خبرو پر بېخ پوهېدل را زده کړي دي. د اسمانونو او ځمکې هستوونکیه! همدا ته زما په دنیا او اخرت کې سرپرست یې، زما خاتمه پر اسلام وګرځوه او په پای کې ما له صالحانو سره یو ځای کړه. ای محمده! دغه کیسه د غیبو له خبرونو څخه ده، چې مونږ یې تا ته وحې کوو، که نه نو په هغه وخت کې خو ته ورسره موجود نه وې، چې د یوسف علیه السلام ورونو په خپلو منځو کې په اتفاق دسیسه جوړه کړې وه.

## پیسې او اسلام: دوست که دښمن؟

الله تعالی په قران کریم کې فرمايي:

﴿اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يَقْدِرُ ؕ وَ فَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَ مَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ﴾. (الرعد: ٢٦)

ژباړه: چاته چې د الله تعالی خوښه شي، پراخه روزي ورښې او چاته یې چې خوښه شي، لنډه تنګه روزي ورکوي. دا خلک په دنیوي ژوندانه کې خوشحاله دي، په داسې حال کې چې د اخرت په مقابل کې د دنیا ژوند له ناچیزې متاع نه پرته نور هېڅ نه دی.

پیسې! پیسې! پیسې! ایا موږ له دې پرته ژوند کولی شو؟ د ځینو مسلمانانو په اند تاسو د پیسو د ګټلو لپاره هېڅ هم نه شئ کولی، ولې؟ دا یوه مهمه پوښتنه ده. زیاتره مور او پلار خپل زامن، د دوی په پرتله ډېرې لورګانې له دې امله زده کړې ته نه پرېږدي، چې حوصله یې کمه وي، ځکه چې په دې کې ورته په ښکاره توګه تاوان ښکاري. زه باید پورته ذکر شوی ایت یو ځل بیا تکرار کړم.

﴿اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يَقْدِرُ﴾. (الرعد: ٢٦)

ژباړه: چاته چې د الله تعالی خوښه شي، پراخه روزي ورښې.

اوس ستونزه په څه شي کې ده؟ دا مشکل یوازې مور او پلار ته راجع دی او که رب العالمین ته؟ ښکاره خبره ده چې په دې کې قصور د مور او پلار دی، د مور او پلار خبره د هېڅ ارزښت وړ نه ده، ځکه چې مور او پلار فکر کوي چې که زامن یې پیسې ونه ګټي، نو دا به

څه کېږي، هغوی له پیسو سره ډېره مینه لري او هغه زوی هم ورته ډېر ګران وي، چې ډېرې پیسې ګټي.

مهمه خبره دا ده چې هر مسلمان د زده کړې حق لري، خو دا باید هېر نه کړو چې د زده کړې په نشتوالي کې اسلامي امت له ډېرو ستونزو سره مخ کېدای شي.

نن سبا اسلامي امت د نااميدۍ په سیند لاهو شوی دی. دا د دې خبرې دلیل دی، چې موږ مسلمانان ناوړه کارونه هم ترسره کوو. تر ټولو مخکې باید اسلامي امت پر دې پوه شي، چې په ژوند کې کامیابي د ناوړه کارونو نتیجه نه ده، بلکې حقیقت په دې کې دی، چې څوک سم کارونه پر مخ وړي، هغوی د بریالیتوب مستحق ګرځېدلي دي.

خو دا هر څه د دې پوښتنې ځواب نه شي ورکولی، چې ایا اسلام د پیسو او کامیابۍ پلوي کوي او که نه؟ راځئ چې څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله مخکې زمانې ته لږ نظر واچوو. په تاسو کې به ډېر خلک پر دې پوهېږي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوه تنو عمرینو یعنې عمر بن خطاب رضي الله عنه او عمر بن هشام چې په ابوجهل مشهور و، په اړه الله تعالی ته لاسونه لپه کړل، نو ولې یې په دوی دواړو کې د یو تن د مسلمانېدو دعاء وکړه؟

دا ځکه چې دواړه شتمن او پیاوړي اشخاص وو!

**پوښتنه:** ایا اسلام او د دنیا کامیابي سره لازم او ملزوم ده؟

**ځواب:** نه!

**پوښتنه:** ایا اسلام د یو مسلمان کامیابي محدودولی شي؟

**ځواب:** نه! دا کار تر هغې پورې نه کېږي، چې دې کامیابۍ د مسلمان پر عقیده بندیز نه وي لګولی.
خو دلته باید له یو حقیقت څخه پرده پورته کړو او هغه دا چې اسلام د یو مسلمان پر دنیوي کامیابۍ کوم داغ نه لګوي او نه ورسره مخالفت ښيي. زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له احادیثو درته حواله درکوم چې اسلام په دې دنیا کې د مسلمان کامیابۍ ته لاره هواروي او همت یې هم لوړوي، ځکه چې د کامیابو خلکو څخه کامیابه ټولنه رامنځ ته کېږي. اسلام په دې دنیا کې یوازې هغه وخت د مسلمان بریالیتونه نه غواړي چې کله چې ناروا لارې ته برابروي.

## اخري خبره!

د دې بحث نتیجه دا شوه، چې کله اسلام له پیسو سره په ملګرتیا کې وي او ځینې وخت یې دښمن، خو دا هر څه پر حالاتو څرخېږي. د پیسو په اړه دې مسلمان په خپل ذهن کې دا یاد ساتي، چې:
((د پیسو ګټل ډېر ښه کار دی ،خو په دې شرط چې ستا عقیده ټپي نه کړي، که پیسې دې عقیدې ته ستر ګواښ پېښوي، نو په دې صورت کې غوره دا ده چې د الله تعالی د رضا په خاطر له پیسو سره مینه پرېږدې)).

## د اسلامي امت د بد حالت اساسي لاملونه

له تېرو دریو پېړیو راهیسې د هر دین د پیروانو عقیدې څه نا څه کمزورې شوي دي، جوماتونه، کلیساګانې او ګرجې ټولې داسې خالي او تشې پرتې دي، لکه تش په نوم عبادت کوونکی د زړه له پلوه له پیاوړي ایمان څخه خالي و، خو بیا هم د دې هر څه په نتیجه کې کافران بیا هم لوړو مرتبو ته رسېدلي دي، خو د دې برعکس اسلامي امت د نا امیدۍ او سپکوونکي غربت ښکار ګرځېدلی دی.

**ولې؟**

ولې اسلامي امت د دومره سختو حالاتو او کړاوونو سره لاس او ګرېوان دی؟

موږ الله تعالی ته لاسونه د دعاء لپاره لپه کوو، چې له دې بدتر حالت څخه مو وباسي. له دې سره دا پوښتنه مو هم فکر ته راځي او کوو یې، چې ولې داسې کېږي، ولې موږ د خپلو ستونزو په اړه عکس العمل نه ښیو، اخر ولې؟

زموږ پلرونو او نیکونو ولې دا ډول حالت نه شو زغملی؟ ولې زموږ حالت داسې خراب شو، چې له ډول ډول ستونزو سره مخ یو. له دې بدتره خبره خو دا ده چې موږ په دې باور لرو، چې هېڅکله حالات نه بدلېږي. دا به څنګه امکان ولري، چې زه د یو نیم میلیاردو خلکو په منځ کې وګرځم، سفر وکړم او داسې شخص راته په لاس راشي، چې ووایي زه نن پر اسلامي امت فخر کوم. کله چې یو تن پر دې حالاتو فکر وکړي، نو دا پوښتنه یې ضرور ذهن ته رالوېږي چې اخر داسې ولې کېږي؟

ایا تاسو پر دې باور لرئ چې ددې ټولو پوښتنوځواب یو دی؟
د دې پوښتنو قیمتي ځواب کوم دی؟
ځواب: اسلامي امت (یعنې زیاترو خلکو) د الله تعالی، د دین او اسلام اړوند خپل ایمان له لاسه ورکړی دی، همدا لامل دی چې نن موږ له دردوونکي ژوند څخه برخمن یو، ښایي چې له دې څخه هم په سخت مرګ مجبوره شو. په اصل کې دا منو چې موږ د یو ښه مسلمان له حیثه د اعمالو له پلوه ښه مسلمانان نه یو، خو سره له دې بیا هم پر خپل دین نیوکې او اعتراضونه کوو او په ډاګه وایو چې اسلام موږ له ترقۍ او کامیابۍ څخه منع کوي، حقیقت دا دی چې موږ د صحیح دین علم له ځان سره نه لرو، په همدې اساس راته داسې ښکاري چې ګویا موږ اسلام د کامیابۍ لور ته نه پرېږدي. زه پر دې باور یم چې زموږ د مصیبتونو عمده لامل به همدا وي.

## اخري خبره!

مسلمان دې د اخرت کامیابي د دنیوي ژوند د ناکامۍ لامل نه ګرځوي او نه دې ورته دا بهانه کوي، ځکه چې اسلام مکمل او بشپړ دین دی، که پر دې دین په بشپړه توګه عمل وشي، نو ټول امت به راژوندی کړي او بیا به هر طرف ته د اسلامي وروړګلوۍ مرغۍ زمزمې کوي!

## ښځې او اسلام: حقيقت څه شی دی؟

نن سبا په مطبوعاتو کې د ښځو بحثونه ډېر تاوده روان دي. دا ډېره ضروري خبره ده چې بايد مسلمان د ښځو د هغو حقوقو په اړه چې اسلام ورکړي دي، خبر اوسي. د مسلمانانو ښځو په اړه لوېديځ ډېر نا خبره پاتې دی، چې د دوی په پرتله ډېر مسلمانان هم ناخبره دي، دا چې وخت مو ضايع نه شي، راځو دې ته چې خلک د ښځو په اړه کوم غلط تصورات لري، زه يې درته بيانوم:

**لومړی غلط تصور:**

الله تعالی نارينه و ته پر ښځو ترجيح ورکړې، همدا لامل دی چې الله تعالی نارينه و ته ډېر حقوق او ښځو ته يې ډېر مسوليت سپارلی دی، يعنې ښځې د دويمې درجې لرونکې دي.

الله تعالی د دې په رد کې فرمايي:

﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾

(البقره: ۲۲۸)

ژباړه: او د دستور له مخې د ښځو (پر نارينه و) هغه شان حقوق دي، لکه (د نارينه و چې) پر ښځو دي او نارينه پر ښځو يو فضيلت (د کفالت او سرپرستۍ مسوليت) لري.

تاسو د ﴿مِثْلُ﴾ کلمې ته فکر وکړئ چې د دواړو جنسونو لپاره استعمال شوې او د دواړو حقوق ته اشاره کوي او د ﴿دَرَجَةٌ﴾ کلمه يعنې د کفالت او سرپرستۍ مسوليت هم ملاحظه کړئ، دا يو مسوليت دی، نه طاقت او رسوخ. له دې سره بايد د اسې فکر ونه شي

چې اسلام په ټولنه کې د ښځو حقوق کم بیان کړي دي او هغوی ته یې ټیټه درجه ورکړې.

**دویم غلط تصور:**

ښځې به جنت ته نه ځي، که هغوی هر څومره ښه اعمال هم وکړي (دا یو د اسې عام تصور دی، چې کافران یې فکرمند کړي دي)، خو الله تعالی یې په رد کې داسې فرمایي:

﴿وَ مَنۡ یَّعۡمَلۡ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنۡ ذَکَرٍ اَوۡ اُنۡثٰی وَ هُوَ مُؤۡمِنٌ فَاُولٰٓئِکَ یَدۡخُلُوۡنَ الۡجَنَّةَ وَ لَا یُظۡلَمُوۡنَ نَقِیۡرًا﴾ (النساء: ۱۲۴)

ژباړه: او څوک چې ښه عملونه وکړي، که هغه نارینه وي او که ښځه، په دې شرط چې هغه مومن وي، نو همداسې خلک به جنت ته ننوځي او د یوې ذرې په اندازه به پرې ظلم ونه شي.

د مسلمانو ښځو ځینې حقوق دا دي:

- هغوی چې څومره زده کړې کولی شي او غواړي یې، دا یې حق دی.
- د خپل خاوند د انتخاب حق لري.
- کولی شي چې یوه دنده (لکه نرسنګ یا نسایي ولادي ډاکتره) پر مخ یوسي.
- ښځه دا هم حق لري چې د کاروبار، ځمکې او مال څښتنه شي.
- د میراث حق لري.
- د الله تعالی دعبادت حق لري.
- دا حق هم لري چې خپله کورنۍ، خپل خاوند او نور خپلوان ورته درناوی ولري او ښه سلوک ورسره وکړي.

- نکاح فسخه کولی شي، په داسې حال کې چې کله یې له واده مخکې یې خاوند خوښ نه وي.

## اخري خبره!

زیاتره لوېدیځوال په دې اند دي، چې د ښځو په ذهن کې برقع، له نارینه و څخه وېره، له حقوقو بې برخې کېدل او د یو مظلوم انسان په سترګه ورته کتل کېږي. دا ډېر ناوړه تصور دی چې لوېدیځوال یې د مسلمانې ښځې په اړه کوي. دغه تصور اوس په زیاتره نړۍ کې رایج شوی دی. که دغه خبره په تفصیل سره بیان کړو چې څنګه کولی شو، دغه تصور په یو ښه تصور بدل کړو؟ دا ډېره مهمه پوښتنه ده، خو موږ باید پر دې پوه شو، څو پورې چې مو په خپل ژوند کې اسلام پلی کړی نه وي او ځان مو پرې پوه کړی نه وي، تر هغې په راته دغه ډول شیان نیمګړي ښکاري او پر اسلام به بې ځایه نیوکې کوو.

کله چې تاسو د مسلمانې ښځې په اړه بحث کوئ، نو له بشپړ تحقیق څخه کار واخلئ، ځکه کفري نړۍ خو دغه شیان له تحقیق پرته خپروي، مطبوعات یې په واک کې دي، خلک یوازې هغه څه مني چې له چا یې اورېدلي وي، نه دا چې خپله ورپسې پلټنه وکړي. غوره دا ده چې باید خبره تحقیق ته ورسېږي، په دې سره انسان خپله هم د ډاډمنېږي او نورو ته هم د ډاډمنېدو زمینه برابرېږي. مسلمان باید د ښځو په ټولو حقوقو پوه اوسي او کله چې څوک د ښځو په اړه ناسم تصور وړاندې کوي، باید له ده سره یې ځواب وي. که مسلمان هم د ښځو په اړه علم ونه لري، نو لوېدیځوالو ته به نوره هم ښه بهانه

جوړه شي او وايي به چې وګوره! زموږ خبره رښتيا ده که نه! د مسلمانو ښځو حقوق بايد معلوم وي، هر څوک دې هڅه وکړي چې دغه حقونه وروسپاري. موږ هر څه د ناپوهۍ او بې علمۍ په وجه له لاسه ورکړي دي، نه مو په دين کې معلومات شته او نه په دنيا کې. له اسلامي امت څخه هيله لرم چې د لوېديځوالو د ناوړه تصوراتو ځواب دې همېشه له ځان سره لري او نه دې پرېږدي چې هغوی همداسې ناوړه تصورات خپروي او له ده سره يې د يو مسلمان په حيث ځواب نه وي.

## د یویشتمې پېړۍ
## د ښه مسلمان کېدو لپاره اخري رایې

الله تعالی په قران کریم کې داسې فرمایي:

﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۖ وَ لَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَ لَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ؕ يَعْبُدُوْنَنِيْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْـًٔا ؕ وَ مَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ﴿۵۵﴾﴾ .(النور: ۵۵)

ژباړه: الله تعالی له تاسو نه د هغو کسانو سره، چې ایمان راوړي او ښه عملونه وکړي، وعده کړې ده چې هغوی په ځمکه کې هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه چې له هغوی نه مخکې تېر شوي خلک یې ګرځولي وو، د هغوی لپاره به د هغو هغه دین پر محکمو بنسټونو ودروي چې هغه الله تعالی د هغو لپاره خوښ کړی دی. او د هغو د وېرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي، هغوی دې زما بنده ګي کوي او له ما سره دې کوم شي نه شریکوي، او څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسې کسان فاسقان دي.

لکه څرنګه چې موږ د کتاب پای ته نږدې شوي یو، نو زه هغو ټکو ته ستاسو پاملرنه را اړوم، چې د یویشتمې پېړۍ مسلمان ورسره لاس او ګرېوان دی. موږ په داسې نسل کې پیدا شوي یو، چې پر موږ د یو مسلمان ګمان کېږي او د مسلمانانو په ټولنه کې شمېرل کېږو. زموږ په عقیده کې چې کومه نیمګړتیا ده، هغه په همدې موضوع کې نغښتې ده. موږ ته مور او پلار د مسلمانېدو طریقه

ښودلې ده، خو د مسلمانېدو وجه یې راته نه ده راښودلې. موږ ته یې د لمانځه طریقه راښودلې، د روژو نیولو په طریقه یې پوه کړي یو، خو هېڅکله یې راته دا نه دي ویلي چې موږ دا کار ولې او د څه لپاره ترسره کوو؟ صحیح عقیده زموږ په ذهن کې له پخوا څخه نه ده ایښودل شوې.


اوس دا پوښتنه راپیدا کېږي، چې په دې کې د چا قصور دی؟ دا کار ولې او د څه لپاره وشو؟ په دې پوښتنو کې یوه هم مهمه نه ده، مهمه دا ده چې موږ خپل ځان په لازمي ډول بدل کړو، صحیح عقیده خپله کړو. دا هم ضروري ده چې په کوم ځای کې مو عقیده برابرېږي، هلته خپله ټوله پاملرنه واړوو، خپل علم ته دوام ورکړو، اخلاق زده کړو، داسې اخلاق چې غربي نړۍ ترې متاثره شي، څومره چې له خپل رب څخه وېرېږو، دغه وېره باید لوړه کړو او خوند ترې واخلو، ځکه چې سلف صالحینو به له الهي خوف او وېرې څخه خوند اخیسته، دغه کار باید پر ځان پېټی ونه ګڼو، بلکې په ورین تندي ورته دوام ورکړو.

الله تعالی په قران کریم کې فرمایي:

﴿ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴾ (لقمان: ۲۴)

ژباړه: مونږ د لږ وخت لپاره هغوی ته په دنیا کې د خوند اخیستلو موقع ورکوو، بیا به هغوی بېوسې کړو، د یو سخت عذاب لوري ته به یې راکاږو.

مسلمان هره ورځ له یو تریخ حقیقت سره له خوبه راپاڅي. کوم خواهشات چې په زړه کې لرو، هغه په کافي اندازه په لاس راځي، خو موږ دې ته حیران یو، چې ولې موږ د هغه له کنترول څخه نه وځو.
زه په دې باور یم، چې د دې کتاب له لارې به مې تاسو ته له تریخ ژوند څخه د خلاصون لاره او وسله دربښودلې وي. یو ځل بیا یادونه کوم چې دغه وسله یوازې د اوسپنې نوم دی، خو دا هله وسله شمېرل کېږي، چې کله ترې کار واخیستل شي او په مناسب ځای کې استعمال شي. له ما سره ژمنه وکړئ چې کتاب به په سرسري نظر نه لولئ، بلکې په غور سره به یې مطالعه کوئ او پر هغې به عمل کوئ.
د دې ټول بحث لنډیز یوازې په یوه پوښتنه کې نغښتی دی:
«ایا په زړه کې چې د کومو ناروا کارونو خواهش لرئ، د هغې د پرېښودلو اراده لرئ، همدارنګه له هغې هستۍ سره جوړجاړی پیدا کوئ چې تاسو پرې ایمان لرئ؟».






Design by: Mohammad Javed 0332-9116851

مسلم خپرندویه ټولنه

چاپ چارې
د مسلم خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه
۰۷۹۲۰۳۰۶۷۷ - ۰۷۹۳۰۷۳۰۸۰
muslim_pub@yahoo.com